MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# فتح الرحمٰن

فی

# ترجمۃ القرآن و تفسیر الفرقان

لفضیلۃ الوالد العلامۃ الشیخ محمد عبد الجبار الباجوری مدظلہ
شکرہ والد یہ والمشائخ والاہل بیتہ ولجمیع المؤمنین
والمؤمنات الاحیاء والاموات

جلد اول

دار إحياء التراث العربي
للطباعة والنشر والتوزيع

Scanned with CamScanner



# عظیم الشان خوشخبری



## ★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیامیں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف Play Storeاور Websiteسے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔



## انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ



Play Storeسے " مکتبۃ الاشاعت "انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاون لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کوPlay Store/ Websiteپر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

**نوٹ**

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً بوقتاً Play Storeاورwebsiteپر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کاlink دیا جائے گا اورآپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ وتفسیر یاسورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یاہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت "کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

**WhatsApp:0320-1914145**

ویب سائیٹ maktabatulishaat.com (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

روزانہ کی بنیاد پر ہم ویب سائیٹ اور پلے سٹور میں مزید تصانیف شامل کر رہے ہیں اور ان میں مزید بہتری لارہے ہیں۔ نئے شامل شدہ تصانیف کے لئے آپ وقتاً فوقتاً ویب سائیٹ اور پلے سٹور کوچیک کیا کریں مزید بہتری کے لیے اپنے قیمتی تجاویز سے ہمیں ضرور آگاہ کریں۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# مقدمة

# فتح الرحمن

## في

# ترجمة القرآن وتفسير الفرقان

تأليف

الإمام العلامة محمد عبد الجبار الباجوري

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


# د مصنف د ژوند حالات

استاد محترم حضرت شیخ القرآن له چه الله ﷻ کوم صفات او کمالات ورکړي دي دهغه احاطه په یوخو پانړو کښے سمندر په کوزه کښے د بند ولو مترادف دي لیکن "مالا یدرک کله لا یترک کله" په بناء باندے د قلم د اوچتولو زړه ورتیا کوم. بل طرفته مولانا صاحب په عوامی او علمی حلقو کښے محتاج تعارف نه دے ځکه چه د هر عام و خاص په خوشحالئی او غم کښے د شرکت او د دین د خدمت له کبله د هر یو انسان زړه پورے دے بلکه زمونږ د تعارف هم د هغوی په نسبت سره کیږی. ځنګه چه د اولیاؤ ذات باعث برکت و رحمت وی نو دغه رنګ د هغوی تذکره هم باعث برکت او نزول رحمت وی لکه سفیان بن عیینه "عند ذکر الصالحین تنزل الرحمة" د نیکانو د تذکرے په وخت رحمت نازلیږی) نو په دے بناء باندے د حصول برکت د پاره د هغوی تذکره فقط د محبت او عقیدت تذکره ده چه د بلا واسطه او بالواسطه تلامذو په زړونو کښے د دوی په تذکره سره محبت او عقیدت مزید پوخ شی.

**نوم او نسب** : د مولانا صاحب نسب نامه څه په دا سے طریقه ده. محمد عبد الجبار بن جناب مغل خان صاحب بن جناب عسر اخان بن جناب عبد الرحیم بن جناب محمد سلیم (غفر الله له ولهم اجمعین)

**تاریخ پیدائش او وطن** : یقینی تاریخ پیدائش خو نه دے معلوم ځکه چه پښتنو کښے عموماً او باجوړ کښے خصوصاً پخوا د دا سے معلوماتو اهمیت نه وو لیکن د دوی د والد صاحب محترم (رحمها الله) د وینا مطابق د دوی پیدائش غالباً ۱۹۲۴ء یا ۱۹۲۵ء کښے د باجوړ ایجنسی لوئ مامونډ و کوټ کلی کښے په یو علمی او مذهبی کورنئ کښے اوشو. د دوی نه مخکښے څلور خویندے پیدا شوے وے نو د دوی په پیدائش خاندان ته ډیره خوشحالی ملاؤ شوه. د دوی نوم جناب قاضی صاحب معروف به "شونه قاضی" چه د کوټ مولانا صاحب ورور وو کیښودو د دوی د پیدائش نه تقریباً یو کال مخکښے د دوی والد صاحب بل واده هم کړے وو.

**خط و کتابت او ابتدائی تعلیم** :- د مشرانو د وینا مطابق مولانا صاحب په ماشومتوالی کښ د نورو ماشومانو لکه د پتنګ ډلهو لعب شوق نه لرلو بلکه د ځپل سبق په یادولو کښ به همه وقت مصروف وو.

ناظرہ قرآن او ابتدائی کتابونه دوی د ځپل والد محترم او د مختلفو استاذانو نه وویلی دی. تقریباً په ۱۳۵۹ھ کښ دوی د فارسی پښتو خطونه انشاء کریم او مراسلات د ترخو کلی په مکتب کښ چه د افغانستان د طرفه وو او د دوی ترڅ الحاج مرزا فضل احمد مرحوم پکښ معلم وو، ایزده کړل او په خوشخطئ او کتابولو کښ د مکتب په

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ملګرو باندې فائق وُو بلکه کله به چه استاذ محترم موجود نه وُو نو دوی به دَ هغوی وظیفه اجرا کوله، په ملګرو به ئے خواری کوله ګویا دوی دَمکتب نائب مُعلّم وُو۔ دَ خط او کتابت نه بعد ئے دَعلم دین حاصلولو دپاره طالب علمی اختیار کړه او پیښور کښ "مسجد مهابت خان کلاب خانه۔ دهکی دالګران۔ یکه توت وغیره کښ وسیدلو او دَوې پیر وعلماء کرامو نه ئے فیض حاصل کړ چه دَ هغوی ذکر به روستو راشی۔ په مدرسه اشرفیه، قاسمیه، کریم پوره وغیره کا مدرسو کښ ئے داخلے وکړے۔

## دورۂ تفسیر القرآن الکریم

په ۱۳۸۵ھ کښ اول ځل ترجمه او تفسیر مولانا صاحب په جامعه اشرفیه پشاور کښ چه دغه وخت په مسجد مهابت خان کښ وو دَ مولانا میاں حیاء الدین رحمۃ اللہ نه او په دویم ځل ئے جامعه قاسمیه پیښور کښ دَ مولانا محمّد عزیز صاحب مدّظلّہٗ نه کړے وو۔ دَ دے ځائے نه دَ مولانا صاحب فنجفیر ته دَتللو شوق پیدا شو حکه چه دادواړه دَحضرت شیخ القرآن رحمۃ اللہ شاګردان وُو او بیا دَ مولانا میاں حیاء الدین باجوړی په دے الفاظو سره شفقة" ترغیب فرمایل، غرق شے قابل سړے یے او ترقیاته وضد تهینګ کړے دے او ترجمه نکوے۔

## دَحضرت شیخ القرآن رحمۃ اللہ شفقت

نو ۱۳۸۶ھ کښ مولانا صاحب فنجفیر ته تشریف یوړو او دَ شیخ القرآن رحمۃ اللہ نه ئے دورۂ تفسیر وکړه۔ شیخ القرآن رحمۃ اللہ خو دَ "المؤمن ینظر بنور اللہ" نمونه وُو نو دَ مولانا صاحب استعداد، قابلیت، صلاحیت او وفاداری وړته بنګاړه وه نو په دے وجه ئے دَدوی سره خصوصی شفقت فرمائیلو، "مُشت نمونه خروار" دَ ترجمے دَ سند ورکولو دپاره دَ شیخ القرآن رحمۃ اللہ دوه شرطه وُو لیکن هغوی بیا هم پخپله دوی لره سند ورکړو۔ دَ فراغت نه بعد هم وړے دورے لره تللو۔ په اخری دورۂ تفسیر کښ دَ چهارشنبے په ورځ ۱۷ شوال ۱۴۰۶ھ ۔ ۲۵ جون سنه ۱۹۸۶ء کښ حضرت شیخ القرآن رحمۃ اللہ اوفرمایل چه دُعا جوړه ملګری دِ راځکښ شی او نور طلباء دِ پسے ختمه کینی او دَ نورو خبرو نه علاوه ئے اوفرمائیل، چه دَ چا تائید عبد الجبار نکوی هغه دِ سند واپس کړی دَدۂ طالبان ځما طالبان دی، دده دُ مدرسه ځما مدرسه ده، دَدۂ سره تعاون وکړئ، دَتنظیم المدارس دَ شورئ دَپاره صرف دا حاضر شوے وُو، نور څوک نه وُو راغلی۔ شیخ القرآن رحمۃ اللہ په "بقیة الآثار" قلمی کښ دَ یوځو وفادارانو شاګردانو نومونه لیکلی وُو۔ منجمله دَ هغوی نه دَدوی نوم هم وُو۔ دَسورۂ انعام په درس کښ ئے یوځل اوفرمایل: کۀ چرته ځُه دَملګرو چکّر اوکړم نو دَسوات افضل خان

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د باجوړ عبدالجبار اود باړه سمیع الحق به پاتے شی - چول عُمرئے مولانا موصوف سره د خطا نه شو رتلے اوبیا د باجوړ پرنګ پسماند ه علاقے ته دوی په دعوت راتلل، بلکه یو حل ئے اوفرمائیل چه د نورو خلقو پروګرام ونه وی نو زهٔ به وخت ورکړم او عبدالجبار چه کله اووائی نو زهٔ به ورسره خم - د اولے دورهٔ تفسیر نه بعد بیا وړو دورهٔ تفسیر وته باربار حاضر شویدے -

## موقوف علیه او دورهٔ حدیث

په ۱۳۸۸ھ کښ د فنونو تحصیل نه بعد چه کله دوی د موقوف علیه ارادهٔ اوکړه نو شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا محمد طاهر رحمه الله دوی له د شیخ الحدیث حضرت مولانا عنایت الرحمٰن رحمه الله (چه په دغه وخت کښ د جماعت اشاعة التوحید والسنة تاښ امیر وُو او په مدرسه رحمانیه خوشحال ګړهٔ ضلع مردان کښ مُوقوف علیه درس کولو په دغه وخت کښ دا مشهوره دورهٔ وه - په نوم یَوخط ورکړهٔ چه په دوی باندې یے د ځپل اعتماد اظهار کړے وُو چه خواری کوه سکلے تلے ته قابله کسان درلیږم منجمله د هغونه حامل رُقعه دے - اوبیا په ۱۳۸۹ھ کښ اهم د شیخ القرآن رحمه الله په اجازت د غه مدرسه ته لاړو - او دورهٔ حدیث ئے اوکړهٔ او د دورهٔ حدیث د افتتاح د پاره شیخ الحدیث د شیخ القرآن رحمه الله نه وخت اخستے وُو - هغوی تشریف راوړو او د بخاری شریف افتتاح ئے وکړهٔ د موقوف علیه نه مخکښ - دوی د مولانا عبدالرحیم چترالی صاحب نه په پیښور کښ مشکوٰة المصابیح اعزازی ویلے وُو نو دغه امتحان کښ په ټولو ملګرو او مدرسه کښ اول نمبر راغلے وُو او د مشکوٰة ټولے نمبرے ۵۰ وے او دوی له ئے دوه نمبرہ اعزازی یعنی ۵۲ ورکړے وے او ۱۵ روپئی ورته انعام ملاؤ شوے وُو چه په دغه وخت کښ دا کافی روپئی وے - اوبیا دلته موقوف علیه او دورهٔ حدیث کښ هم نمبرے اخستے وے - د دورهٔ حدیث په امتحان کښ ځپل هم درسو ملګرو کښ اول نمبر راغلے وُو - د بخاری شریف او ابُوداؤد شریف قراءة هم دوی په ذمه وُو - د ځیالی په ورځ ۸ شعبان ۱۳۹۰ھ کښ دوی فراغت اوشو او تقریباً د ۲۰ یارلسو کالو د تعلیم دا دورانیه اختتام ته اورسیده -

## د طالب العلمئ د دور انجمن

څنګه چه په عامو مدارسو کښ د طلباؤ انجمن منعقد کیږی او په هغه کښ د تقریر اوبیان مشق کیږی اونوے نسل د اُتنده چیلنجز د مقابلے د پاره تیارے کوی نو دغه رنګه په زمانه د طالب العلمئ پیښور اوشیر ګړهٔ کښ هم د طلباؤ انجمن منعقد کیدو وُچه مولانا صاحب به د ناظم اعلیٰ په حیثیت سره پکښ ځپل جوهر بنکاره کولو او دیته به کله اساتذه کرام هم حاضریدل لکه

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



شیخ القرآن رحمہ اللہ مولانا عنایت الرحمٰن رحمہ اللہ مولانا عبد السلام صاحب وغیرہ
اوپہ یو۲ موقعه کښ دوی په عربی کښ خطبهٔ استقبالیه هم پیش کړے وه۔
چه هغه بیا روستو چاپ شوه۔ دا ابیات د دارالقرآن فنجغیر په حقله وو بعض
ابیات دادی،

وها إن هذه الأكبحر ❊ غزير ماءه عذب الجاري
وعم الفيض منه لكل فرد ❊ وسار من الديار الى الديار
الى سوات وباجور و دير ❊ ومهمند وزامن فيض الباري
وافغان وتورستان ايضاً ❊ وبنير وشترال قاشقار الخ

## د اهلِ بدعت سره مناظرے

کله چه الله تعالیٰ مولانا موصوف ته د
شیخ القرآن رحمہ اللہ شرف تلمذ ورنصیب کړو نو د شرک بدعت رسم رواج سره
د دوی نفرت شو او د دے د ختمولو د پاره ئے جد وجهد شروع کړو نو د هغے
د پاره د بیانا تونه علاوه اهلِ بدعت سره مناظرے هم شاملے دی۔ د مدّ مقابل
په زړه کښ چه اخلاص او د حق قبلولو جذبه نه وی نو مناظره فقط تضیع وقت
دے لیکن بیا هم د دے په ذریعه سره د عوامو مخے نه د مدّ مقابل باطل پرستی
بنکاره شی نو دوی د احقاق حق او د وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَن د تقاضو د
پوره کولو د پاره براه راست د طالبئ او روستو د ورکښ مناظرے هم کړی دی
او مخالفین ئے شکست سره مخامخ کړیدی۔ د ډهکئ پیښور د سکونت په دورکښ
یو پیر سره د مُرید انور اغے او ذکر جهری ئے شروع کړو نو د هغه سره ئے بحث مباحثه
اوکړه بیا دغه پیر په دے کتاب ولیکلو چه د اغلاطونه ډك دے او دوی هم
د هغه په رد کښ کتاب ولیکلو۔ د خوشحال کړهٔ په دورکښ په ۱۱ محرم سنه ۱۳۵۱ھ
د بدعتیانو سره د قضاء عمری په مسئله مناظره کړے وه۔ په ۲۶ صفر سنه ۱۳۹۱ھ
کښ په مسئله د ببرکهٔ فلان مناظره کړے وه او مدّ مقابل ته ئے سکت جوابات
ورکړی وو۔ په ۲۷۔ ربیع الثانی سنه ۱۳۹۱ھ کښ د مولوی حمد الله جان ډاکئ سره
مناظره کړے وه او هغه په دے چه د مولانا صاحب یو ملګری دا مسئله کړے وه چه
د کومو نمکو د اوبو مالیه حکومت اخلی نو هغهٔ کښ نصف العشر یعنی شلمه حصه
ده او لسمه بهتره ده۔ مولانا محمد کلاب افغانی مناظر وو او مولانا صاحب او
مولوی عبد الله افغانی او مولوی محمد زمین صاحب دیر وجی معاوینین وو۔ مناظره
اوتوه او ثالث د مولانا موصوف او دوی د ملګرو په حق کښ فیصله اوکړه۔ بیا
دوی د بلے مناظرے چیلنج ورکړو لیکن هغهٔ عذر اوکړو۔ په شرقی افغانستان
کښ دیو سړی په مجلس کښ دُعا بعد السُّنن بهیئهٔ اجتماعی مستحسن کنډل او د
مولانا موصوف مسکت جوابات ورکول۔ په ۱۷ رمضان المبارک

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



۱۳۹۰ھ د قلعه کوانی د زورځمات د کوټې د پاسه د یو مولوی صاحب سره د خیلې اسقاط مروجه په موضوع بحث مباحثه او د هغه لاجوابه کیدلو وو چا رهنمایي کښې د یو صاحب سره په شومه مناظره وشوه وه - دلائل ئې د غښې (جولاګی) جالونه وو - مسکت جوابات ورکړه شول بیا بل تاریخ مقرر شو لیکن هغه د ورځې نه هغه تاریخ تدهاضر نشو - په ۳ رجب المرجب ۱۳۹۱ھ کښې جناب مولانا حیات فقیر صاحب راغلو او د تندې استوګ سلار زر و جناب عبد الحمید صاحب الحق ورور د سره وو دوی او فرمائیل چه تنده استوګ کښې بد عنیان راجمع شوی دی او دوی ته ئې د مناظرې چیلنج ورکړے دے - دی د سره لاړل لیکن هغوی خبر شوی وو او د وقت مقرره د ویے د وخت حاضر نشول بیا دوی بیانات وکړل او واپس شول -

## بیعت

حضرت شیخ القرآن رحمہ اللہ د نقشبندی مجددی طریق سلوک کښې د خپل استاد شیخ القرآن مولانا حسین علی رحمہ اللہ نه بیعت وو نو مولانا موصوف په ورځ د جمعې ۱۸ شوال ۱۳۹۵ھ د سحر مانځه نه بعد د خپل شیخ نه د نقشبندی په سلسله کښې بیعت اوکړو او د ذکر خفی سبق ئې واغستلو اګرچه د دینه مخکښې رسمی طور باندې د شیخ الحدیث والتفسیر حضرت مولانا محمد عبد الخالق نور الله مرقده کتابونه باجوړه هم بروز زیات ۲۲ جمادی الاولی ۱۳۹۲ھ په کلمه طیبه اوپه ورځ د سه شنبې ۲۳ رمضان المبارک ۱۳۹۳ھ په الله الله اوپه ماه شوال ۱۳۹۵ھ په هو الله اوپه ذکر خفی الله الله باندې هم بیعت اخستے وو دغه رنګه د پیر طریقت و شریعت خطیب بے بدل حضرت مولانا شاه عنایت الله شاه بخاری صاحب نه ئې هم وظائف اخستی وو -

## شعر او شاعری

مولانا موصوف له الله تعالیٰ د شعر او شاعرۍ سلکه هم ورکړے ده او یو ښکلے شاعر دے، په مختلفو موقعو لکه د جهاد په موضوع، د حج نه د واپسۍ په موقعه، د وفات مرثیې، د جاجود د رخصتید په موقعه ئې بهترین اوږده اولنۍ اشعار لیکلی دی - د دوی اشعار د غم او درد نه ډک دی او انسان عمل طرفته راکاږی - بطور نمونه یو څو کړۍ ذکر کوم :

① اے د وروښو مؤمنانو وخت راغلے د جهاد
خوریږی په نړۍ کښې نن ازمونه د الحاد
یولاس ټنګ یو طاقت ټنګ یو موجود کړئ اتحاد
په یو آواز غږ وکړئ کمیو نزم مُرده باد

② حرم شریف راته یادیږی ÷ زړه نه صبریږی د حرم کوی یادونه

③ زړه م غمژن دے په افسوس افسوس ژاړیږم
د بیت الله نه رخصتیږم

④ اوښکم څاڅی زړه غمژن لوندم کړیوان دے ÷ د مدینې حرمه افسوس ارمان دے

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دا د اُلوړو ځی نظمونو نوښتړونه دی، شور اُوږدو اُوږدو نظمونه دی،

## ردِّ بدعات او رسومات اود توحید او سُنّت د پارې جدّ وجهد:

مولانا موصوف چه کله ۱۳۵۰ھ کښ فارغ شو او خپل وطن ته راغے نو علاقه کښ هر قسمه بدعات، رسومات او رسم و رواج عام وو، دُعا بعد الجنازه، شومه، اسقاط هر وجه د قبرونو پخول، ذکر بالجهر، د قبرونو بنکلول، طواف ے کول، قضا عمری وغیره او باطل پرستو مُلایانو ے سرپرستی کوله او عوام ے د قرآن نه لرے ساتل بلکه د قرآن ترجمه به ے گناه گڼله۔ دوی د دعوت و تبلیغ، وعظ و ارشاد په ذریعه سړو ډډے قیامتُو د ختمولو او د بدعاتو مُنکراتو سخت تردید شروع کړه او د قرآن بنیادی موضوع توحید ے خپله مشغله او کرګُوله ځکه قرآن واحد کتاب دے چه په دے سره د شوګیاتو او بدعاتو خاتمه کیږی۔ د دے د پاره به دوی مختلفو کلو نه تلل او د توحید مسئله ے کوله۔ په جلسو جلوسونو کښ، د جُمع، استسقاء او جنازے په اجتماعاتو کښ، په پسه روزو د مناظرو په ذریعه سړه ے تردید د بدعاتو او شوګیاتو شروع کړو۔ له دے کبله د علاقے بدعتیان مُلایان او عوام د دوی مخالف شول او عداوت ے شروع کړو او د مولانا موصوف او د هغه د خپلوانو د کورونو سوزُولو د پاره لښکرے او شوے او تماتم الزامات پرے اولګیدل لیکن هغوی دا سفر جاری او ساتله او د خپل استاد شیخ القرآن د اعتماد حق ے ادا کړو۔ د دیوے نه دیوه بله شوه او نوله علاقه ے روښانه کړه۔ او د کومو باطل پرستو مُلایانو چه په عوامو کښ کوم شهرت او قوّت وُو هغه الله تعالیٰ ختم کړو اُوس ے پخپل کلی کښ هم لمانځه د خطر شیږی۔ اوس چه باجور کښ د کوم ځائے نه د قرآن اواز راځی د هغه محرك مولانا موصوف دے۔

## د دروس قرآن ابتداء

هم په دے سلسله کښ مولانا صاحب د قرآن د درسونو اهتمام اوکړو۔ په ۱۳۵۱ھ کښ په خپل اباۍ کلی کواټی کښ د خپلوانو د اصرار او د خپل شوق په بنا د د ورځ تفسیر اغاز وکړو بیا اُتنده کال ۱۳۵۲ھ کښ په ترخو کلی کښ دورهٔ تفسیر وکړه او کلی والو نه ے د شکوه د درس نه علاوه په ۱۱ جمادی الاولی ۱۳۵۲ھ کښ د سحر درس شروع کړو۔ دا درس اُوس د منتقل کیدونه یعنی ماسخوتن د دغه ځائے کلی والو نه کیږی۔ دد ے نه علاوه د روژے د میاشتے درس تر اُوسه پورے قائم اودائم دے۔ او په جُمعه کښ یو حل د ګل په وخ ۱۳۵۳ھ نه تر اُوسه پورے د مقامی علماء کرامو په اصرار د باجور ایجنسۍ په مرکز بنار میر اعلی قلعه جُمات کښ درس قرآن ورکوی چه د لرے اونزدے ځائے علماء، طلباء اوعوام پکښ شرکت کوی اګرچه اکثریت پکښ د علماؤ وی۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# دمدرسے بُنیاد :

په ۲۴ ـ ذی الحجه ۱۳۹۰ھ کښ د خپلوانو، دوستانو او د علاقے د باأثره خلقو په اصرار د جامعه تعلیم القرآن ترخو بنیاد کیښودو او ۲۹ کاله دوی درس و تدریس وعظ و ارشاد سلسله جاری اوساتله او د دوی دیاره په ترخو کښ په ورځ د اتوار ۲ ـ شعبان ۱۳۹۵ھ د کور د آبادۍ افتتاح اوشوه او د تعمیر نه بعد په ورځ د خیالی ۳ ـ ذوالقعده ۱۳۹۵ھ کښ د کوانې نه دلته منتقل شول ـ

بیا د څه نا مساعد حالاتو په بناء باندے دا مدرسه د ترخو کلی نه باهر ته رامنتقل شوه ـ د الله تعالیٰ په فضل وکرم سره د مولانا موصوف د اخلاص او د استاذانو، دوستانو د دعاء په برکت سره په ورځ د زیارت ۱۱ ـ رجب المرجب ۱۴۱۰ھ کښ په لږ وخت کښ د کچه مدرسے نه پخه مدرسه جوړه شوه او د مدرسة البنات او د جمعات آبادی هم وشوه او مولانا موصوف په خپل ذاتی رقم او د مخلصو ملګرو په تعاون سره د مدرسے سره متصل خپل کور هم تعمیر کړو ۔

## په مدرسه کښ د موقوف علیه او د روڼه حدیث آغاز

د څو کلونو پورے دوی د نورو استاذانو سره د فنونو درس کولو بیا څه موده روستو موقوف علیه شروع شوه او بیا باقاعده ۱۴۱۵ھ کښ د شیخ الحدیث حضرت مولانا ابو التراب دوست محمد صاحب مدظله په اصرار سره د دورهٔ حدیث ابتداء هم اوشوه او الحمدلله تاحال جاری دی ۔

## د حضرت شیخ القرآنؒ باجوړته تشریف اوړی

د مولانا موصوف په قربانئ سره

باجوړ کښ الحمدلله د توحید او سنّت مینه د خلقو په زړونو کښ پیدا شوے وه نو د مولانا موصوف په زړه کښ دا داعیه پیدا شوه چه د حضرت شیخ القرآن رحمه الله په راتلګ سره په دیکښ مزید پخلګی پیدا شی ـ نو په دے غرض سره دوی په بخطیر ته لاړل چه حضرت شیخ صاحب لره دعوت ورکړی ـ ملګرو تبصره اوکړه چه د سره لاړ په نشی لیکن کله چه مولانا صاحب هغوی ته دعوت ورکړو نو فوراً ے اوفرمائیل چه "په دواړو ستړګو" اوبیا د وعدے مطابق په ۲۵ ـ ربیع الثانی ۱۴۱۶ھ ے باجوړ ترخو کلی ته تشریف راوړو او شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد یار بادشاه صاحب او شهید اذان حضرت

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مولانا خان بادشاہ صاحبؒ ورسرہ وُو - په علاقه کښ ورته ډیُوے جُمعے نه ډیره لویه تیاری نلوے وه - دَسلارښو، ریاست، انبار، چارمنګ، ماموندو نه علاوه هنډ وراچ ته اطلاع شوے وه - ددوی په استقبال کښ نظم پیش کړے شوچه سړ ے داوُو ے

هرکله راشه یخیر راغلے مهربانه زمونږ :
شیخ القرآنه زمونږ :

پُرجوش استقبال ے اوشو - دَاجتماع دَطعام دَپاره دوی یُوه میښه په شپارس زره روپئی اخستے وه - هغه ے حلاله کړه اوهرچاته اُورسیده - دَمازیګر نه بخکښ شهید اذان پُرجوش بیان اوکړو او بیا دَماسخوتن دَ ۹ بجو نه تر ۱۰/۴۵ بجو پیُوړے بیان اوشو اوبیا تحرد چاے دَوقفے نه بعد دَسوالاتو جوابا تو سلسله هم وشوه -

بیا دریم حُل دَدوی په دعوت سړه دَسه شنبے په ورځ رجب ۱۴۰۳ھ کښ ے دَ حضرت مولانا عبدالسلام په معیت کښ تشریف راوړو اوعلاقه ے بیا په توحید اوسُنّت سړه منوّر کړه داحُل ورته دانظم پیش کړه شوے وُو - ے

ن بیا په باجوړ خټلے نمړدے ٭ راغلے داخبرده ٭ رازی شیخ القران ٭

بیا په دریم حُل ۹ رجب ۱۴۰۳ھ - ۴ مئی ۱۹۸۳ء باجوړ ته رونق افروز شو - بیا په څلورم حُل جارته راغلے وُو اودَدغه ځائے نه دَمولانا موصوف په دعوت پانده ۲ رجب ۱۴۰۳ھ ترخوکلی ته ے تشریف راوړو - دا دَهغه وخت خبرے دی - اوس خوهرطرفه فتوحات دی کُنی داسے شرملك ته داسے هستی راوستل څه اسان کار نه وُو، لیکن دَ مولانا موصوف په اه وزاری سړه الله تعالیٰ دا اسانه کړه - په اول حُل راتلو کښ ورله دَځار نوابؒ هم دعوت کړے وُو اودَشیخ القرانؒ نه پشی شا شهید اذان اومولانا صاحب دادعوت قبول کړو په دے نسبت چه ځار مرکزی ځائے دے چه دوی څومره حصارشی نوخلق به ترینه فائده واخلی - بیا شیخ القران رحمہ اللہ سړه دَمشائخو عظامو، علماءکرامو مؤحدینو په معیت کښ دَهغوی په دعوت کښ شمولیت اوکړو اوعلمی مباحثے اوشوے اوهغوی ته ے دَعلمائے حقّه دَتائید ترغیب ورکړو -

## عقدِ نکاح

دَفراغت نه بعد اولنے واده دَ خپل ترهٔ مولانا عبدالجلیل صاحب مرحوم دَ لور سړه په تاریخ ۱۰ جمادی الثانیه ۱۴۰۳ھ په ورځ دَ یکشنبے پس دَمانبام نه اوشو اوبیا څُو مُوده بعد دریم واده دَجناب سیّد سعید صاحب کبری دَ لور سړه ۱۱ محرم ۱۴۰۴ھ پانډ اوشو - دَدواړو بیبیانو نه ے اولاد نشته لیکن الحمدُ لله دواړو اهلِ بیتو دَقران کریم ترجمه اودَدرس نظامی نصاب ویلے دے اوتوله له الله تعالیٰ بے شماره روحانی اولاد ورکړے دی چه دَخپل اولاد نه پرے زیات خفه کیږی - دَمستوراتو دَ سه روزو اودرس وتدریس په ذریعے سړه دَ دین اشاعت کوی -

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## جهادِ افغانستان او کشمیر کښے شمولیت

من کان لله کان الله له، په بنا باندے الله تعالیٰ مولانا صاحب له په هر میدان کښے د شمولیت موقعه ورکړیده او یو کار خیر هم د الله تعالیٰ په توفیق سره د هغوی نه نه ده فوت شوے. کله چه روس په افغانستان یلغار اوکړو. نو دوی د باجوړ په مختلفو سیمو کښے دورے اوکړے او خلق ئے جهاد د پاره تیار کړل او د کومو غلماو یا عوامو په زړونو کښے چه کوم شبهات وو هغه ئے ختم کړل منجمله د هغے نه تجارتله کوتکی کښے د غلماء باجوړیو غونډه اوشوه. د جهاد په حقله او د کفری نظام سوشلزم په رد دوی بیان اوکړو. بیا په غار باجوړ کښے ترخو کلی کښے اودغه رنګ پالن کښو کښے در ئے غونډے اوشوے او دغه رنګ د جمعے په بیانا تو کښے د جهاد اعلان او جهاد طرفته ترغیب ورکړے شو. علماء اشاعة الحمد لله ښه کردار ادا کړو. په ۲۸ ربیع الثانی ۱۳۹۹ھ کښے د علماء اشاعة یوه غونډه اوشوه او د یو پوسټر منظوری پکښے اوشوه. بنام اعلان جهاد چه ذمه داری ئے د دوی په غاړه شوه. دوی اولیکو او بیائے چاپ کړو. او ټولو علاقو ته اولیږلے شو. دا د دے نوعیت اولنے پوسټر وو. مولانا صاحب به په خیله وفد ونه جهاد افغانستان ته لیږل. اولنے وفد د کواټی د ملایانو وو چه د مولانا صاحب د رهبرئ لاندے رخصت شو. د دینه علاوه مولانا صاحب هند وراج، اونورو ډرو ته دورے اوکړے او د خلقیانو دهرینو رد او خلق ئے جهاد طرفته مرغوبه کړل په دے موضوع باندے د کفر خوښول کفر دے. او تحفة المجاهدین فی تردید الملحدین وغیره رسالے ئے اولیکلے او هر طرفته خورے شوے. مولانا صاحب په دغه وخت کښے د جهادی ډرو او مالی تعاون په وجه د کفارو او تالی ځټو د ستر کو اړزے وو. نو په دے باندے یو ځل په شیکل کښے ۲۵ میاشتے پرے بمباری اوشوه. اخوا دیخوا آبادی اولګیده. الله تعالیٰ دوی او د دوی ملګری امیر کشمیر خان وغیره بچ کړل. په دویم ځل په هند وراج کښے د جناب محمود قومندان په ډیره کښے وو چه سیدی پرے شوے وه. او سخته بمباری روسیانو اوکړه. الله تعالیٰ دوی بچ کړل. دا د ۱۸ رجب ۱۴۰۱ھ واقعه ده. په دے ډرو کښے دوی د رباط یعنی د پهرے فریضه هم ادا کړے وه. په جهاد کشمیر کښے هم دوی حصه اخیستے ده جهاد کشمیر د پاره ئے وقتاً فوقتاً ترغیب چلولو. او په ربیع الاول ۱۴۱۴ھ کښے د مشرانو او ملګرو سره ئے د آزاد کشمیر جهادی او تبلیغی دوره اوکړه. چه د هغه ثمرات د حالاتو مطابق ئے بیا "تحفة الفقیر للمجاهدی جموں وکشمیر" اولیکلو دهغوی ۴ عقیدو د اصلاح د پاره. او د کشمیر مجاهدینو ته ئے اولیږلو.

## تبلیغی اسفار

د درس وتدریس نه علاوه مولانا صاحب تبلیغی اسفار هم کړی دی. او حتی الوسع د تبلیغی اعمالو پابندی کوی. په دے سلسله کښے بنګله دیش ته د دوو میاشتو په تبلیغی سفر ۲ رجب ۱۴۱۴ھ

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



۱۷ دسمبر ۱۹۹۳ء کښے تلے وُو۔ دَدے نه علاوه په پاکستان کښے دننه هُم پنځلسُ ورځے درے ورځے اوُ چیلے سفرونه بلوچستان، پنجاب، سنده اودَ صوبه سرحد مختلفو علاقو ته کړی دی۔ او وَس هُم دَ سه روزو او دَ نورو تبلیغی اعمالو لکه مشوره تعلیم وغیره پابندی کوی۔ اُوله سه روزه دَ دوی په ۱۸ ربیع الاوّل ۱۳۹۷ھ کښے کردی باغ اوکلیری ته لکیدلے وه۔ او دا سلسله وَس هُم جاری ده۔

## دَحج باسعادت اسفار

مولانا صاحب ته الله تعالیٰ دَ حج اودَ عُمرو سعادت هُم بار بار ورکړیدے۔ په اول ځل دَ حج سفر په ورځ دَ جُمعے ۲۳ ذوالقعدة ۱۴۱۱ھ ۷ جون ۱۹۹۱ء کښے شوے وُو۔ دویم سفر حج په ۳ ذوالقعدة ۱۴۱۵ھ ۴ اپریل ۱۹۹۵ء کښے شوے وُو په دے سفر کښے اولاً ارادہ دَعُمرے وه چه الله تعالیٰ په حج بدله کړه۔ په دریم ځل دَ عُمرے سفر په ۲۷ رمضان ۱۴۱۸ھ ۲۵ جنوری ۱۹۹۸ء کښے شوے وُو۔ په ځلورم ځل دَ حج سفر سره دَ دواړو اهلِ بیتونه په ورځ دَ پنجشنبے ذوالقعدة ۱۴۲۳ھ جنوری ۲۰۰۳ء کښے شوے وُو په پنځم ځل دَ عُمرے سفر سره دَ اهلِ بیتو الله تعالیٰ خپل کور ته وُبلل۔ ۹ رجب ۱۴۲۸ھ ۲۴ جولائی ۲۰۰۷ء په دے سفر کښے ورسره زمانتره جناب حاجی عبدالمالک صاحب دَ خدمت په جذبه تلے وُو چه بیمار شو او دَ پریشانئ سبب اُوګرځیدو۔ دَ حج په موقعو کښے دَ مولانا صاحب وئیلی شوی اشعار و څه ګړی:

زمونږه راتلل ستاپه توفیق دی ❊ دَ حده زیات وایُو مولیٰ تاله حمد نه
دَ الفراق وقت نزدے کیږی ❊ زړهٔ موغمژن دے بیابه نه وی زیارتونه
زړکیه صبر شه اُرام شه ❊ دُنیا فانی ده پکښے شته فراقتونه
داحرم پاتے به یو ځل ثمی ❊ رسول الله ترنه هُم کړی هجرتونه

## دَمرکز سره وفاداری

دَ حضرت شیخ القرآن نمبلو شاګردانو ته دا وصیت کړے وُو چه زما نه پس به مرکز نه پریږدئ نوپه دے بناء باندے دَ هغوی دَ رحلت نه پس هُم مولانا صاحب څوځله سره دَ اهلِ بیتو دَ دورهٔ تفسیر وَرد دَورونو تاحاضرشویدے اوحاضر یږی اوُ موجوده امیر محترم صاحب سره دِلی محبت لری دُنیا دَ پریشانیتو اودَ غم ځای دے۔ دَ مولانا صاحب په حیات کښے خو دیر حوادث راغلی دی۔ لیکن دا لاندینی غمونه داسے دی چه دَ هغه په راتلو سره دوی ته په خپله زنده ګئی کښے دیر لوئ وزد غم او خلاء محسوسه شوے وه۔

## دَمولانا صاحب دَترهٔ، سخرا اوُ استاد مولانا عبدالجلیل صاحب وفات

دَ دوی وفات مازیګر خو منټه دَبره څلور بجے دَ جُمعے مُبارک په ورځ ۲۶ ذوالقعدة ۱۴۰۴ھ مطابق ۲۴ اګست دَ یولسُو میاشتو دَ بیمارئ نه پس وُوچه مرض ئے کینسر وُو۔ دَ دارِفانی نه دارِباقی ته پروان اوکړو۔ دَ دوی مرګ هُم دَ مولانا صاحب دَ یارهٔ یوه

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



سانحه اوصاعقه عظیمه وه - لکه مولانا صاحب ځپله فرمائی. مرحوم د نا چیز مشفق ترهٔ، سخر اود ورکوټی والی اُستاد اومالی جانی نیکئی ئے راسره کړے وے حتّی دا چه خپله لخت جگر ئے په نکاح راکړے وه - اود مسئلے تا ئید ئے راله کړے وُو او مفید ے مشورے به ئے راکولے. د دوی په وفات زهٔ د یو دیر مشفق او لوئی رهبر نه محروم شوم. د دوی تلل د خپلوانو د پاره عموماً او ناچیز د پاره خصوصاً د یو لوئی سوری نه محرومه کیدل وُو. جنازه پرے احقر اوکړه. مولانا د مدرسه امینیه دهلی نه فارغ شوے عالم وُو. مجاهد، مبلغ، حاجی، مؤحّد، متّبع، متّقی، ذاکر تالی قرآن، مصلی کثیر الصّیام او د لغویاتو نه پرهیز کوُنکے وُو. د سخاوت خاوند مهمان نواز، د سفری مکرو خیرخواه او نهایت متواضع وُو. د غیر محارمو زنانو نه ستر کے پټوُنکے او بُرد بارهٔ، حلیم الطبع انسان وُو. د ترخو د مدارسے رکن او د فسق فجور رسوماتو او بدعاتو نه متنفره وُو. ۱۴۰۳ھ کښے د شیخ القرآنؒ پنځ پیړ نه د شوال دورهٔ تفسیر کړے وه. هغوی سنه هُم ورکړے وُو. په دغه سفر کښے ورسره مولانا صاحب هُم وُو. د هغهٔ په وفات قلمبند شوی اشعار و یو غوګړی.

اُونښکے ے څاڅی نه اُودریږی ❊ چه د لا لا صاحب سفر را په یاد کړمه
ستا اخری سفر کښی مے یاد دی ❊ څوچه ژوندے یم دُعا به درته کړمه
خُدائی دے نصیب حوریه غلمان کړه ❊ هُم دے نصیب شه د جنّت بُنکلی باغونه

## د والد محترم وفات

د دوی وفات ۲ بجے ماز یگر په ورځ د اتوار ۱۳ ذی الحجه ۱۴۰۴ھ د ۷۶ کالو په عُمر کښے د شپږو ورځو بیمارئی نه پس اُوشو اود درد (برین) په وجه ئے د حدیثِ پاک په موجب شهادت نصیب شو. جنازهٔ او تکفین د سُنتو مطابق د مولانا صاحب په لاس د نورو برادرانو په موجودګئی کښے اُوشو د دوی په وفات هُم مولانا صاحب ته دیره لویه صدمه ملاؤ شوے وه. محکه چه څامنو کښے دوی مشر وُو او تولے ذمه واریئے په دوی راغلے. د دوی په بارهٔ کښے مولانا صاحب په خپله فرمائی. "جناب والد صاحب په علماؤ دیر غیرت کولو او د خپل لاس محنت ئے خوښولو حتّی دا چه بیماری هُم د خپلو پټوُد خدمت نه شروع شوه. جناب والد صاحب پخوا د انګریزانو مقابله کښے د لیکنډی مهمند وغیره غازی کړے وه او دغه دوه کښے ے هُم د روسیانو مقابله کښے څوځو محله جهاد کښے ټهولیت کړے وُو. او د مجاهدینو سره ئے دیره مینه محبّت ساتلو دوی په خپله ابائی مقبره کوانی کښے دفن شو. د دوی په وفات د هغه وخت د مولنا صاحب د ټیلے شوے یو خو مصرعے.

د دادا جی وفات غمژن کړم ❊ خلق گمان د لیونی په ما کوینه
په ژړا زارمه حیران یم ❊ محکه یتیم شوم زما زړهٔ کوی دردونه
اوچے به اُونښکے زما څنګ شی ❊ مادی لیدلی د دادا روستی حالونه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## دوالد ے صاحب وفات

والدہ محترمہ دَ ډیرے مُودے نه په مختلفو بیمارو بیمارہ وہ۔ په دے دوران کښے به کله صحت مند شوہ۔ اوکله به بیا دَ بیماری حمله اُوشوہ۔ اخر دَ پنجشنبے په شپه ۲۱ ذوالقعدہ ۱۴۲۴ھ سره بجے تقریباً دَ ماسخوتن دَ مانځه دَ پاره ے تیمم شروع کړو۔ یو ضرب ے اوکړو اودبل ضرب سره ے داعی اجل ته لبیک اووئیلو۔ ددوی وفات هُم دَ مولانا صاحب ذ پاره یوه لویه صدمه وہ۔ لکه چمپله فرمائی۔ " دَ والدے محترمے صدمه دَ ترهٔ جناب مولانا عبد الجلیل صاحب او والد محترم اونورو خپلوانو نه ځکه زیاته په احقر دہ چه هغوی نه احقر ځُدا اُوسیدو او داخودَ نرخو او توحید اباد دَ سکونت دور کښے یو ځائی وہ۔ نو دَ اُرام، مونځ، درس ځائی خالی شو۔ دَ بچی لفظ سره اوس کوُلو مزه او شفقت مادری نه محرومه شوم۔ مرحومه دَ دُنیا نه لاړه خو باقیات صالحات ے باقی دی دَ والدے محترمے په وفات یو څو مصرعے :

| | |
|---|---|
| دَ دُنیا فانی ژوندون دے | اخر ببیلتون دے خیل خپلوانو ځُدا کوینه |
| دَ والدے وفات غمژن کړم | ډیرے دردمند کړم څکه اُوښکے تویُومه |
| زمونږه اعمال ښکلی نصیب کړے | هغے له ورکړے پکښے ښکلی بنهٔ اجرونه |

دَ مولانا صاحب موجوده دور کښے دریے علاقی ورونږه مولانا سید جلال صاحب او مولانا محمد طاهر فارغ شوی او حاجی موسیٰ خان دی چه اوس په پاخهٔ عمر دور حدیث کوی او دوۀ اعیانی ورونږه جناب مولانا محمد اسمٰعیل نائب خادم مدرسه او محمد ابراهیم صاحب دی چه مجذوب حاله دے۔ او دوه سکه خویندے او خلور علاتی خویندے ژوندی دی۔ باری تعالیٰ دِ ورله په عُمر کښے برکت راچوی اُمین۔

— په سنه ۳۰ کښ شُمۀ علاتی خور او په سنه ۳۳ مشر اینځو وفات شوے دے

## دَ عُلماءِ باجور سره تعلقات

دَ مولانا صاحب تعلق اگرچه دَ جماعت اشاعة السنة سره دے لیکن چونکه دوی د اخلاص او لِلّٰهیت مجسمه دی۔ عُلماء پوهیږی چه دَ دوی رَد هم په اخلاص مبنی او دَ اغراضو نه پاک وی نو په دے وجه دَ دوی ذات دَ یو جامع او متفق علیه عالم دے او قبول عُلماء ورته دَ احترام په نظر گوری او خپلو مجالسونو ته راغواړی۔ اگرچه اکثر عُلماء دَ مولانا په تلمذ کښے هُم راغلی دی۔ په باجور کښے دَ بدعاتو، شرکیاتو رَد دَ پاره کوششونه دَ هیڅ یو عالمی او عُلماء نه پټ نه دی۔ دَ باجور مشرانو وفات شوی علماء حق ته به دوی وروستی نظر کوُلو۔ او هغوی به دَ دوی سره ډیر شفقت کوُلو۔ او دَ موجوده عُلماءِ کرامو تعلق دَ جنازو، ختم القرآن او دَ خبر دَ موجوده درس نه معلومیږی۔

## دَ حضرت شیخ القرآنؒ وفات

دَ دوی سره چه دَ مولانا صاحب کوم تعلق وو هغه تاسو اُولوستل نو دَ دوی په وفات هُم دوی ته ډیر غم رسیدلے وُو لکه چمپله فرمائی " دَ حضرت علامة الزمان عمدة الاقران شیخ القرآن والحدیث سیدنا ومرشدنا وشیخنا وفات خبر مم چه واوریدو نو په ځائی

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کیناستم او انا للہ وانا الیہ راجعون مې اوویل د هغه حالت پته باری نه ده چه څومره خفګان وو. خو انسان نه توفیق الله ﷻ ورکوی ورنه د زړه د چاودو موقعه وه. مولنا صاحب په دغه وخت کښے په چله کښے وو چه تشکیل ئے بلوچستان نه شوے وو. د ظهیر القرآن په شان کښے که دا شعر اولیکم نو مبالغه به نه وی ۔ ؎

هیهات لا یاتی الزمان بمثله ٭ ان الزمان بمثله لبخیل

## د مولانا صاحب اساتذه کرام

د مولنا صاحب د قرآن د استاذانو ذکر شوو نه علاوه کوم چه مقدمه تفسیر فتح الرحمٰن کښے ذکر دی. بعض مشهور استاذان دا دی. حضرت مولنا محمد مظفر شاه صاحب هزاروی رحمہ اللہ، حضرت مولنا عبد الواسع صاحب پشاوری رحمہ اللہ، حضرت مولنا فضل احد صاحب شاپلین رحمہ اللہ، حضرت مولنا حسن الابرار چکیسری رحمہ اللہ، حضرت مولنا حبیب الرحمٰن صاحب باجوری رحمہ اللہ، حضرت مولنا فضل حق صاحب کوهستانی حفظه الله، حضرت مولنا محمد حنیف صاحب سواتی حفظه الله، حضرت مولنا محمد عبد الحی صاحب نورستانی حفظه الله وغیره کوم چه د دوی کتاب "التذکرة لاوقات التعلم واسماء الاساتذه" کښے لیک دی.

## د مولانا صاحب یوځو معروف تلامذه

د مولنا صاحب د افغانستان د مختلفو علاقو طلباء کرامو او په پاکستان کښے د صوبه سرحد او بلوچستان او صوبه سندھ د ډیر طلباء مستفیض شوی دی. نو زما د ذهن مطابق کوم تلامذه چه درس کوی. د هغوی نه څه معروف تلامذه دا دی. حضرت مولنا عبد المتین صاحب پهاتک، حضرت مولنا روح الامین صاحب چمرکنډ، حضرت مولنا عبد العزیز صاحب چمرکنډ برادر مصنف حضرت مولنا اسمٰعیل صاحب توحید آباد ترخو، حضرت مولنا عبد الرحمٰن صاحب کبری، حضرت مولنا عبید الله صاحب ایراب، حضرت مولنا صلاح الدین صاحب بیلوټ، حضرت مولنا سمیع الله صاحب بارکام، حضرت مولنا عبد الحق صاحب کواټی، حضرت مولنا جمشید صاحب ارنګ باډو، حضرت مولنا فضل معبود صاحب پیښور، حضرت مولنا عمران صاحب کبری، حضرت مولنا حضرت یوسف صاحب دمه دوله، حضرت مولنا قائد شهداء باجور لیاقت صاحب، حضرت مولنا قاری رحمت الله صاحب باندره، حضرت مولنا عبد الغنی صاحب لوئی سم، حضرت مولنا سردار صاحب مهمند، حضرت مولنا عصمت الله صاحب شیکل، حضرت مولنا شیر الله صاحب ترخو اوبو، حضرت مولنا جمال الدین ابن حضرت مولنا میاں حیاء الدین صاحب مخی، حضرت مولنا عثمان الدین صاحب تهرکره، حضرت مولنا مفتی محمد صبین صاحب کراچی، حضرت مولنا ولی محمد صاحب لوئی سم، حضرت مولنا محمد طیب صاحب برنګ، حضرت مولنا عبد العزیز صاحب برنګ، حضرت مولنا عبد الجبار صاحب داګی، حضرت مولنا محمد جمیل صاحب مردان، حضرت مولنا عبد الهادی صاحب هلمند، حضرت مولنا

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



منیب الرحمٰن صاحب ہد خشان، حضرت مولانا عبدالخبیر صاحب ترکستان، حضرت مولانا عبدالرحمٰن شہید نورستانی حضرت مولانا عبدالحق صاحب دیر، مولانا متی عبداللہ صاحب چارمنگ، حضرت مولانا سعید الرحمٰن صاحب گبری، حضرت مولانا یوسف صاحب کوانی، حضرت مولانا سیّد محمود صاحب خورچینی، حضرت مولانا تاج محمد صاحب کتکوت، حضرت مولانا کفایت اللہ صاحب کوانی، حضرت مولانا محمد یوسف صاحب گبری، حضرت مولانا احسان اللہ صاحب تاکحط، او ابن عمّہ راقم الحروف ابوحسان عبدالسبحان ظہیر ترخو، حضرت مولانا تاج محمد صاحب انبار، حضرت مولانا خورشید احمد صاحب پاتک، حضرت مولانا عبید الرحمٰن صاحب جار، حضرت مولانا محمد طاہر صاحب ماندل، حضرت مولانا عبدالرحمٰن صاحب لغری، حضرت مولانا علی محمد سنگار، حضرت مولانا عبداللہ صاحب رباط، حضرت مولانا ہدایت اللہ صاحب خار، حضرت مولانا عاشق اللہ صاحب نوشہرہ وغیرہ وغیرہ۔ داخو "شت نور ہزار" وو ورنہ دَ دوئی تلامذہ یہ زہ گونودی دَ ھغوئی معلومات دسند القران او سند الاحادیث اخستلو نہ معلومیږی او دَ ښار یہ درس کښے چہ غومرہ عُلماء کرام مشران شاملیږی نو ھغوئی ھُم دَ دوئی یہ شاگردانو کښے شامل دی۔

## صفاتِ کمالات او معمولات

مولانا صاحب جامع الصفات شخصیت دے کوم صفات، ھمت او استقامت چہ

اللہ دوی لرہ ورکړے دے ځوک دَ ھغوی ثانی یہ اوس زمانہ کښے نشتہ۔ لږے او نزدے دَ بیمارتیوس، دَ ملګرو یہ غم او خوشحالئی کښے شریکیدل۔ دَ خپلوانو، شاګردانو، عوامو دَ رُتبے مطابق لحاظ کول۔ دَ تعلیم تدریس، وعظ و ارشاد نہ علاوہ ملګری یہ خپلو علاقو کښے پروګرامونہ منعقد کوی او دوی پروګرام تہ حاضریږی داسے یوہ ورځ نہ وی مګر دَ دوی ځنے پروګرام کښے شمولیت وی۔ دَ توحید اوښرک یہ بیان کښے جبل الاستقامۃ دَ "لا یخافون لومۃ لائم" صفت حامل د قران کریم ترجمہ او مطالب یہ داسے عام فہم انداز کښے بیانوی۔ چہ ھر عام وخاص ترینہ مستفیض کیږی۔ دغہ رنګ دَ مضامینو استحضار، دَ سورتونو، ایتونو مینځ کښے ربطونہ، دَ تکلفاتو نہ ځان لرے ساتی۔ دَ ریا نمود نہ لرے، پہ طبیعت کښے نہایت سادګی، کلہ چہ خبرہ یا بیان کوی نو یہ نہایت فصیح اوصفا لیتو کښے خبرہ کوی۔ دَ نورو دَ ژبو دَ الفاظو نہ پاک اوصفا خوراک ئے سادہ البتہ سیلمنو لہ قدرے تکلف کوی۔ دَ دُنیا دارو، سرکاری خلقو نہ لرے زیادہ تروقت ئے پہ تدریس مطالعہ تصنیف و تالیف کښے تیریږی۔ ما سخوتن نہ پس مقامی خلقو تہ درس پہ جُمعہ کښے یوځل دَ خار درس ورکوی عُلماؤ تہ۔ عارف باللہ کامل متبع سُنت چہ ځوک ئے یوځل پہ مجلس کښے کینی نو بار بار دَ ہغہ اتلو خواھش مند کیږی۔ خطیب عظیم مدرس مناظر، اُستاذ العلماء، داعی توحید وسُنت دَطریقت او شریعت مجمع البحرین۔ پہ علم وعمل، فضل وکمال، زھد وتقوٰی، صورت و سیرت کښے نمونۂ سلف، دَ جامعہ تعلیم القران باني دَ تبلیغی جماعت کارکن۔ دَ جماعۃ اشاعۃ التوحید والسنّۃ دَ مجلس شوریٰ رکن۔ دَ جامعہ تعلیم القران شیخ القران وشیخ الحدیث۔ دَ جماعۃ اشاعۃ التوحید والسنّۃ باجور ناظم اعلیٰ ہے

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اللہ تعالیٰ دا ستے صفات ورکړیدی چه په خپل ذات کښے یو انجمن دے۔ غرض دَدُنیا اودین تولے خوبیانے اللہ تعالیٰ ورکړی دی۔ وَلیس علی اللہ بمستنکر ان یجمع العالم فی واحد۔ مصداق دی۔

## تصنیفات وتالیفات

دَ درس وتدریس، وعظ او ارشاد، خطابت او امامت، دعوت وتبلیغ، تنظیمی نظم ونسق، دَمدرسے دَ انتظام او اهتمام او دَکور کلی وطن دَ مصروفیاتو باوجود دوی په تصنیفی او تالیفی میدان کښے کرانقدر کتابونه لیکلی دی۔ په هره زمانه کښے چه کومه فتنه راوچته شوے دہ۔ دَ هغے دَ مرکوبئی دَپاره مولنا تصنیف کړیدے دَ زمانهٔ طالبئی نه دَ دوی دَ تصنیف وتالیف شوق وُو۔ او روستو دورکښے بیا دے کښے ترڅو راغله۔ دَ دوی په تصنیفاتو کښے بعض تصانیف ډیر مشهور ومقبول دی۔ لکه الهام الرحمٰن فی حل مشکلات القرآن، تفسیر فتح الرحمٰن (ترجمه وتشریح) رَدِّ بدعات وغیره اکثر کتابونه مطبوع دی۔ اوځنے غیر مطبوع هم شته۔ تهول لاندے ذِکر کوُلے شی۔ و باللہ التوفیق۔

(۱) الهام الرحمٰن فی حل مشکلات القرآن (۲) التعلیق الصحیح علیٰ مشکوٰة المصابیح (۳) رد بدعات (اردو/پښتو) (۴) انعام الرحمٰن فی تفسیر اصول القرآن (۵) غایة الاصلاح لمنکرات النکاح (۶) تحفة الاحباب فی عصمة الانبیاء وحفاظة الاصحاب (۷) اسلام میں عورت کا مقام اور موجوده انتخابات (۸) تحفة المجاهدین (۹) هجرت اونصرت (۱۰) جهاد فی سبیل اللہ (۱۱) دَجهاد اِعلان (۱۲) الخطبة الاستقبالیة (۱۳) اصول الجهاد لدفع اهل الشرک والالحاد (۱۴) تحفة الفقیر لمجاهدی جموں وکشمیر۔ (۱۵) دَکفر خو بنوُل کفردے (۱۶) تفسیر فتح الرحمٰن پښتو (ترجمه وتشریح)

او غیر مطبوع دادی: (۱۷) فیض الودود علیٰ سنن اَبی داوٗد (۱۸) التنبیه الضروری۔ (۱۹) المسک الشذی علیٰ مقدمة الترمذی (۲۰) تحفة الباجوری لمن اراد ان یتبصر فی الصحیح للامام البخاری (۲۱) زما مستعار ژوند (۲۲) خیر المسالک فی احکام المناسک۔

اولئک اٰبائی فجئنی بمثلهم ٭ اذا جمعتنا یا جریر المجامع

تحریر و ترتیب

ابن عم المصنف ابوحسان عبدالسبحان ظهیر

خادم درس وافتاء جامعه دارالعلوم تعلیم القرآن توحید آباد ترخو

باجوڑ ایجنسی پاکستان۔ ۹ / ربیع الثانی ۱۴۲۹ھ

۱۵ / مئی ۲۰۰۸ء

(۲۳) هدایة المخلصین (۲۴) مسائل اربعین (۲۵) اتمام الحاجة علیٰ سنن ابن ماجة۔ (۲۶) التعلیق الاحسن علیٰ ارشاد السنن (۲۷) هدایة السالکین تعلیق ریاض الصالحین

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# پیش لفظ
## او
# باعثِ تحریرِ مقدّمہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ○ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ○ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ○ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ○

**اَمَّا بَعْدُ!** بنده حقیر پُر تقصیر د قرآن حکیم ترجمه او مختصر تفسیر شروع کړے وُو د تیرشوی کال نه او سکاله چه کله تعلیمی کال ختم شو او ختم د بخاری شریف او جلسهٔ د دستار بندی وشوه نو د حرمینو شریفینو د سفر اراده کړم وه۔ او مسوده مکمّل شوے نه وه۔ د زړهٔ تمنّا رم وه چه د سفر نه مخکښ مخکښ پوره شی۔ الله کریم او رحیم په خپلے مهربانئ سره دُوه درّے ورځے د سفر نه مخکښ تکمیل ته وُرسوُله او ورسره ورسره د جناب کاتب ابُوطلحه گلزار احمد حفظهُ اللهُ الصّمد د څوُ ارلسو پاڼو لیکلو شوُو تصحیح هم وشوه۔ د کُل په ورځ ۲۳ د جولائی ۲۰۰۷ء موافق ۹ د رجب المرجب ۱۴۲۸ھ د ما سپښین موٹر نه بعد سفر شروع شو، شپه پیښور کښ وشوه۔ بیا پنډئ کښ وقفه وشوه او ما زیګر د سه شنبے په ورځ پرواز وشو۔ د چارشنبے په شپه ۲۵ جولائی (۱۱ رجب المرجب) سره د دوارد اهلیو نه راته د عُمرے سعادت الله تعالیٰ نصیب کړو او د بیتُ اللهِ العتیق په دیدار مو سترګے یخے او ارمانونه پوره شو۔ د لسُو شپو نه بعد د مدینے منوّرے سفر اوشو او مسجدِ نبوی او حرمِ نبوی او گنبدِ خضرا او نور مقاما تو مقدّسه ؤته حاضری وشوه: او زاړهٔ یادونه تازه شو، د څلورو شپونه بعد الوداع په غمژن زړهٔ او په ژړا ژړا سره وشوه او بیرته حرم مکی شریف ته واپسی وشوه او د ذوُ الحلیفے نه بیا د عُمرے کولو

(م ایڈیشن درسِ پارہ عمّ ۱۴۲۸ھ کا آغاز ۱۴۲۸ھ)

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



سعادت اللہ تعالیٰ رانصیب کړو۔ فَالْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ۔ الحاصل حمـا دِلی تمنا وه چه دَتفسیر دَپاره یَوه مقدمه هم ولیکم حُکمچه په تفسیر کښ مخکښ دَاسی اصطلاحکانے اوموضوعکانے دی چه مبتدیان به پرے نۀ پوهیږی اوپه مقدمه کښ به دَهغے ذِکر اوشی نوروستو تفسیر کتلو کښ به په هغوی څۀ اشکال نه راځی ؛ خوداسفر عجیبه سفر دی، په المسجد الحرام کښ دَطواف ذکر، تلاوت، مونځونو اودَ بیت اللہ شریف دَدیدار شوق دی : اوپه المسجد النبوی کښ دَدرود سلام، ذکر تلاوت، مونځونو اوگنبدِ خضراء ته دَکتلو اوحاضرئ شوق دی اوواقعی دایولوئے سعادت دے۔ اللہ تعالیٰ دِحمـا اودَ بټولو مسلمانانو باربار همیشه دَپاره نصیب کړی : خوبیا هم داکارونه انفرادی دی، دَځان دَنفع دَپاره دی اودَدے اُمّت ذمه داری اجتماعی ده : كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ : خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ : خَيْرُ النَّاسِ مَنْ يَّنْفَعُ النَّاسَ : بَلِّغُوْا عَنِّيْ وَلَوْ اٰيَةً : نودَ اللہ تعالیٰ په اِمداد م په ۳/۳۰ بجے دَچارشنبے په ورځ ۲۵ جولائی ۲۰۰۵ء سوافق ۱۱ رجب المرجب ۱۴۲۶ھ شروع وکړه اومقدمه په اُولسو ورځو کښ ولیکله شوه اوبرابر وخت م ورته فارغه کړه : چونکه وخت هم کم وُو : اوکتابونه راسره هم موجود نه وُو نودَخپل بل تصنیف "انعام الرحمٰن" نه م خلاصه خلاصه مضامین راواخستل اودَمقدمے شکل م ورله ورکړو : خوسره غلطی چه پکښ وی اللہ تعالیٰ دِے راته معاف کړی اوحمـا دامقدمه دِے دَنا چیز دَسعادت دَدارینو ذریعه وګرزوی۔ او اللہ تعالیٰ دِ دامقدمه اوتفسیر په عوامو اوخواصو کښ دَاستفادې اوافادې دَپاره مقبول وګرزوی۔ امین۔ وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ ۔

باقی دَتفسیر دَنوم په باره کښ ذهن ته دِیرنومونه راغلی وُو اودَملګرو دَسوال په جواب کښ به ما ویلے چه دَپښتنو په ژبه کښ مختصر تفسیر لیکم۔ نن م اللہ رَبُّ العزت په زړه کښ دا نوم واچولو " فتح الرحمٰن فی ترجمة القرآن وتفسیر الفرقان " ځکه چه "فتح الرحمٰن" دَشاه ولی اللہ رحمہ اللہ دَتفسیر نوم دے چه په فارسی ژبه دے، اومختصر دے : شیخ القرآن رحمہ اللہ په ډیر صفت بیانوُلو اوما ترینه هم ترجمه اوتفسیر کښ اَخذ کړے دے۔ بل داچه زمونږ دَ بټولو شیوخو رحمهم اللہ دَ قرآن کریم اودَاحادیثو سَند هم حضرت شاه صاحب ته رسیږی اګویا هغوی "استاذ الکل" دے۔ نوما ناچیزه هم دا ترجمه اومختصر تفسیر دَهغوی دَکتاب په نوم مسمّٰی کړۀ۔ اللہ تعالیٰ وے دَهغوی دَتفسیر پشانے بلکه زیات مقبولیّت ورکړی۔ (آمین)۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اَلْحَمْدُ لِلّٰہ ﷻ دَ اذان خانے خوات مخامخ رکن حجرِ اسود او بیت اللہ شریف ته دَ جُمیع دَ مانځه په انتظار کښ ناست یم او خپل لیک پاتے ته رَسَوُم۔

غرض نقشے است کہ از ما یاد ماند ✤ کہ ہستی را نمی بینم بقائے
مگر صاحب دلے از روئے رحمت ✤ کند در حال درویشاں دُعائے

اِنْ اُرِیْدُ اِلَّا الْاِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ۚ وَمَا تَوْفِیْقِیْٓ اِلَّا بِاللّٰہِ ۚ عَلَیْہِ تَوَکَّلْتُ وَ اِلَیْہِ اُنِیْبُ ۝

پہ آخر کښ د بعض هغو کومو چه حضرت سیدنا ابراهیم او سیدنا اسماعیل علیهما الصلوٰة والسلام دَ خانه کعبے دَ جوړولو په موقعه کړے وو: رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ۝ وَتُبْ عَلَیْنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ ۝

وقت ۱۰/۱۲ بجه، ۱۰ اگست ۱۹۵۰ء بمطابق ۲۷ رجب المرجب ۱۳۶۹ھ ✤
الاحقر محمد عبد الجبار الباجوری غفرلہٗ ولوالدیہ ولمشائخہ ولجمیع المؤمنین ✤

# فضیلت دَ قرآنِ حکیم

دَ اللہ تعالیٰ په خپلو بندګانو باندې احسانات دی چه شمیر لے دَ بندګانو دَ وسع نه بهر دی: سورۃ ابراهیم ۳۴ او نحل ۱۸ کښ فرمائی: وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰہِ لَا تُحْصُوْهَا ۔ "که شمارئ تاسے نعمتونه دَ اللہ تعالیٰ نو طاقت دَ شمارلو ئے نه لرئ۔" منجمله دَ اللہ تعالیٰ دَ لوئے نعمتونو نه دادی چه رحمان ذات (۲۷ ۱۰) سورۃ رحمٰن "په رحمة للعالمین رَسُوْلٌ" (۲۱ انبیاء) دَ رحمت کتاب (سورۃ یونس ع۵) مؤمنانو دپاره لارښود دے۔ دَ بخاری حدیث دے رَسُولِ اکرم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی: خَیْرُکُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ: (مشکوٰۃ ص۱۸۷) "چه غوره او بهترین ستاسے نه هغه څوک دی چه ایزده کوی قرآن لره او تعلیم ئے کوی نورو ته۔"

## اداب

دَ قرآن دَ لوستلو او ایزده کولو چیر اداب دی: څنے ترینه دادی:
① اول کښ اَعُوْذُ بِاللّٰہِ او بِسْمِ اللّٰہِ الخ لوستل۔ وګورئ معارف ص۴۵: ② اوځنے دادی چه اَودس بےئ وی او مسواک به ئے وهلے وی وګورئ اتقان ص۳۸) او بے اَودسه به لاس نه وروړی۔ سورۃ واقعه ع۱۹: بناء په یو تفسیر باندې: لَا یَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ۝ چه نه ځمسه کوی دے لره

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مکدر پاک خلق: ③ څنګه وادی چه د لوستلو په وخت کښ به ورته غوږ ښدی: د کورئ اعراف ۲۰۴: وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا: ④ او څنګه اداب ئے وادی چه تدبر به پکښ کوی. سورۃ ص ۲۹ کښ دی. لِيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ چه سوچ او فکر وکړی دوئی په ایتو نو دے کښ ٭

## تعرّیف د قرآن کریم، او اَسماء، او حِکمت د نزول دَدے

زمونږ د اُستاذانو رحمہم اللہ طریقه داده چه د قرآن کریم د تفسیر او ترجمے شروع کولو په وخت کښ مخکښ تعرّیف د قرآن حکیم: (۲) نومونه د قرآن پاک او (۳) حکمت د نزول د قرآن کریم: د قرآنِ پاک نه پیژندګوی: "آفتاب آمد دلیل آفتاب" لکه اَحقر "انعام الرّحمٰن" کښ تفصیلی ذکر کړی دی. تعریف ئے ۱۹۲ سورۃ شعراء نه شروع شوے دے: فرمائی: وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ ۝ الخ "او یقیناً دا قرآن نازل کړے شوے دے د رب د مخلوق تو نه، راتلے کړی په دے روح الامین په زړۀ ستاپانډ۔" او نومونه ئے ډیر زیات دی، اَحقر "انعام الرحمٰن" کښ ۷۷ ذکر کړی دی: لکه یونوم بقرہ ۲ کښ دے: هُدًى لِّلنَّاسِ: او حِکمتونه د نزول د قرآن مجید ډیر زیات دی، د انسانی طاقت د احاطے نه بهر دی: اَحقر په "الانعام" کښ اووه څیرې څیرې حکمتونه د نزول ئے ذکر کړی دی. منجمله د سورۃ ابراهیم اول سر وکورئ: نوم دے کتاب ئے ذکر کړے دے، بیا تعریف هم دے او حکمت د نزول هم ذکر شوے دے: كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ الخ "دا عظیم الشان کتاب دے چه راليږلے دے مونږ ته تاته چه راوباسے ته خلقولره د تورتمونو نه رنړا ته:

## اُصولُ القرآن

پوهه شه چه اُصول مُهمّه د قرآن حکیم الله دی چه هر روستنے د مخکنی دپاره تائید کوونکے دے: (۱) توحید: (۲) رسالت: (۳) صداقت د کتاب: (۴) ایمان په اخرت: چه دا سوابق (اولنی) دی او په دے پسے لواحق (پیوسته حشلور نوردی: (۱) جهاد فی سبیل الله: (۲) انفاق فی سبیل الله: (۳) تنظیم: (۴) اداب: اداب دپاره د تنظیم دی او تنظیم دپاره د انفاق:

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او انفاق دِیارہ دجہاد اوجہاد دِیارہ دَاخت او ایمان پہ اُخرت دِیارہ دَ تصدیق دَ کتابُ اللہ اود اوِیارہ دَ تصدیق دَ رَسُول اللہ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ اَوھغوی لپارہ لی شوی دی پہ وحدانیّت دَ اللہ تعالیٰ باندِ ۔

## توحید

توحید اللہ تعالیٰ پہ ذرہ کښ یو کنرل، نړۍ خُلہ ویل (معارف ص ۱۳۹ ج ۱) ۔ پہ شرح مقاصد ص۳۱ کښ دی داعتقاد دُعَدم الشریک فی الألوھیۃِ وَخواصِھا، چہ توحید عقیدہ ساتل دی دَدے چہ دَاللہ تعالیٰ ملګرے (شریک) پہ اُلوھیت اودَدے پہ خواصو کښ نشتہ ۔" دَ توحید وضاحت پہ تعریف دَ شرک سرہ رازی ځکہ چہ دائے ضد دے، اومشہورہ خبرہ دہ: وَ بِضِدِّھا تتبین الاشیاء: پہ ضد دَدے سرہ واضحہ کیږی شیونہ ۔

## دَ شرک تعریف

شرک پہ لُغت کښ حصہ دارئ تہ ویلے شی، لکہ راغب اصفہانی رحمہ اللہ "مفردات ص۲۶۱" کښ فرمائی چہ شرکت اومُشارکت دَ دُوُو ملکونو خلط کولو تہ وائی اوشرعہ کښ ثابتول دَ صفا تو مخصوصہ دَ اللہ تعالیٰ دی غیر خدائے تعالیٰ لرہ ۔ (مآۃ مسائل ص۱۰) ۔ دَغہ شانے شاہ اسحاق رحمہ اللہ پہ صفحہ ۹ باندِ ھم لیکی چہ شریک سرہ زَوَل غیر دَ خدائ تعالیٰ لرہ دَ اللہ تعالیٰ سرہ پہ کارسازئ کښ یاپہ استحقاق دَعبادت کښ۔ شیخ القرآن رحمہ اللہ فرمائی چہ دَ شرک" معظم" غټ قسمونہ دُوہ دی: یو اعتقادی اوبل فعلی: دَ اعتقادی لوئے لوئے قسمونہ څلور دی: یو شِرک فِی العلم: دوئیم فی الدعاء: دریئم فی التصرف: څلورم فی العبادۃ: او دَ فعلی غټ قسمونہ دُوہ دی: یو دَ خان نہ حلال حرامول: دوئیم نَذر لِغَیرِ اللہ۔ تفصیل لے دادے ۔

## اَلشِّرکُ فِی العِلم

شرک پہ علم کښ دادے چہ عقیدہ وسائی پہ دے باندِ چہ اللہ تعالیٰ نہ غیر بل څوک پہ مَا کَانَ وَمَا یَکُوْنُ او پہ پتو اوبنکارہ وُ پشان دَ اللہ تعالیٰ پوھیږی یغیر دَ وحی او الہام نہ ۔ دامسئلہ چہ علمِ غیب خاصّہ دَ باری تعالیٰ دہ بل څوک غیبدان نشتہ پہ کنرو ایتونو ثابتہ دہ: یو جامع ایت کریمہ دَ قاعدے پہ شکل دَ سورۃ نمل ۶۵ دے: قُلْ لَّا یَعْلَمُ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَیْبَ اِلَّا اللّٰہُ، وَمَا یَشْعُرُوْنَ اَیَّانَ یُبْعَثُوْنَ ۝ ژباړہ چہ ئے پوھیږی ھغہ څوک چہ پہ اسمانونو اوزمکہ کښ دی پہ غیبو باندِ لاکن یواللہ تعالیٰ پرے پوھیږی اودوی نۍ پوھیږی چہ کلہ بہ بیا راپورتہ کولے شی ۔

## اَلشِّرکُ فِی التَّصَرُّف

داعقیدہ ساتل دی چہ دَاللہ تعالیٰ نہ پرتہ ھم مالک دَ نفع اوضرر او تصرف نشتہ پہ دے عالم کښ یعنی دَ اسبابو نہ اوچت: سورۃ یونس ۱۰۷ کښ ارشاد دے: وَاِنْ یَّمْسَسْکَ اللّٰہُ بِضُرٍّ فَلَا کَاشِفَ لَہٗ اِلَّا ھُوَ، وَاِنْ یُّرِدْکَ بِخَیْرٍ

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ يُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝
"کچھ ہ ورسوی تا ته الله تعالیٰ څه ضرر نو لنشته لرے کوئ دغے لرہ مګر یو الله تعالیٰ، او کچھ ورسوی تا نه څه خیر نو لنشته واپس کوئ فضل دهغه لرہ څوك، ورسوی الله تعالیٰ فضل خپل لرہ چا لرہ چه ئے خوښه شی او الله تعالیٰ بخښونکے رحم کوئ دے ۔

## اَلشِّرْكُ فِي الدُّعَاءِ

دا دیته ویلے شی چه یو انسان عقیده لری چه د الله تعالیٰ نه سوا بل څوك څما غیبي چغه یعنی بے د اسبابو ظاهرو اوری، کوم اسباب چه الله تعالیٰ بند کا نو ته ورکړیدی: سورۃ الفاطر ۱۴ کښ ارشاد دے: اِنْ تَدْعُوْهُمْ لَا يَسْمَعُوْا دُعَآءَكُمْ ۚ وَلَوْ سَمِعُوْا مَا اسْتَجَابُوْا لَكُمْ ۭ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُوْنَ بِشِرْكِكُمْ ۭ "کچھ راوبلئ تاسے هغوی نه اوری بلنه ستاسے اوکه بالفرض واے وری نو قبولتیا نشی کولے تاسے لرہ: اوبه ورځ د قیامت به انکار وکړی په شرك ستاسے باندے۔

**فائده** :- دے آیت کریمه کښ ئے د غیر الله چغے ته شرك ویلے دے

## اَلشِّرْكُ فِي الْعِبَادَةِ

دا عبارت دے د دینه چه یو انسان دا عقیده لری چه د الله تعالیٰ نه پغیر هم بل شے د عبادت (بندګئ) حقدار شته ۔ سورۃ الانعام ۷۱ کښ ارشاد ربانی دے: قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ (الآیة) : "وایه یقیناً ځه منع کړے شوے یم د دے نه چه عبادت وکړم د هغه کسانو چه تاسے بلئ سوا د الله تعالیٰ نه ۔

سے انعام ۱۲۱ ۱۲۵

## شِرْكِ فِعْلِيْ

د دے څخه قسمونه دوه دی: یو اَلتَّحْرِيْمُ لِغَيْرِ اللّٰهِ: چه عقیده لری د حرامولو د هغه چه حلال کړی دی الله تعالیٰ: سورۃ مائده ۸۷ کښ ارشاد دے: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ۝: "اے ایمان والو! مه حرامولئ پاکیزه هغه شیونه چه حلال کړی دی الله تعالیٰ تاسے لره اوتجاوز مکوئ د حد نه یقیناً الله تعالیٰ نه مینه نسا تی د تجاوز کونکو سره ۔

## بَلْ قِسْمُ النَّذْرِ لِغَيْرِهٖ تَعَالٰى

دا عبارت دے د دے نه چه معین کړی یو شے د مال، فصل، حیوان او یا عبادت نه په نوم د غیر الله باندے اوداعقیده لری چه هغه مالك د نفع او د ضرر دے، که وفا وکړم نو په مال او اولاد کښ زما برکت اچوی او که وفا او نکړم نو بیا تکلیف او ضرر راړسوی: سورۃ بقره ۲۷۰ کښ ارشاد دے:

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ "او هغه شے حرام کړے شوے دے چه اواز پورته کړے شی په هغهٔ باندې د پاره د تقرب د غیر الله" د دے دواړو په مقابله کښ دٗوه حکمونه درست دی: یعنی کوم شے چه د الله تعالیٰ د پاره مقرر کړے شوے دے هغه پوره کړی. سورة الحج ۲۹ کښ فرمان دے: وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ "پوره والے د وکړی دوی په نذرونو خپلو: اوبل اَلشَّخْرِيْمُ لِمَا حَرَّمَ اللّٰهُ: چه الله تعالیٰ کوم شے حرام کړے دے هغه حرام کړل. سورة المائدة ۹۶ کښ فرمائی: وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا: "او حرام کړے شوے دے پتاسے بنکار د اوبے څوپورے چه یئ تاسے احرام کوونکی ✣

# د مشرکانو اقسام

شرک چه په چا کښ وی هغهٔ نه مشرک ویلے شی او د مشرکانو کښ اقسام دی ځکه چه معبودان ئے ډیر او مختلف دی لاکن لوئے لوئے قسمونه یکښ څلور دی:

## ① اَلْمُشْرِكُوْنَ بِالْعِبَادِ الصَّالِحِيْنَ

د شیخ القران رحمه الله نه په العرفان ص۱۸ کښ نقل شوی دی چه د شرک د نوح علیه السلام د قوم وُوچه د نیکانو نه مجسمے ئے جوړے کړے وے او تبرک ئے پرے حاصلولو. سورة نوح ۲۳ کښ د "وَد، سُواع، یغوث، یعوق او نسر" نومونه ذکر شوی دی: بخاری شریف (ص۷۳۲ ج۲) کښ راځی چه دا نومونه د نیکانو نوښتو کانو وُوچه د شیطان په لمسون ئے شکلونه جوړ کړے شوی وُو. کله چه مشران مړ کا شو علم اوچت کړے شو نو عبادت ئے شروع شو: الهام الرحمٰن ص۲۰۵ نه آخر کښ د حوالے ذکر کړی دی هلته ئے تفصیل وکوری ✣

## ② اَلْمُشْرِكُوْنَ بِالْكَوَاكِبِ

حضرت شیخ القران رحمه الله فرمائیلی دی: هرڅه مشرکون "بالکواکب" دی نوٗ هغه کسان دی چه عقیده د تصرف لری په ستورو کښ او دوی ته صَابِئُوْن ویلے شی او دوی وائی چه ستوری تاثیر کوونکی دی په عالم کښ: او دوی دا هم عقیده لری چه نیک بختی د انسان او بد بختی د هغهٔ د ستورو نه معلومیږی لکه نن صبا دا عقیده د نجومیانو هم ده: (العرفان ص۲۶). دا دویم قسم شرک دے چه په انسانانو کښ د پیدا کیدو راغلے دے: سورة الانعام ۷۶ تا ۷۸ کښ راځی د حضرت سیدنا ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام په واقعه کښ چه هغوی د ستوری، او د سپوږمئ

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اونمر په باره کښ وفرمایل چه وا رَبُونه حُمَا نشی کیدے او په آخر کښ ئے هغوی ته مشرکان ویلی دی: فَلَمَّا اَفَلَتْ قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ۝ کله چه نمر پریوته نو وے فرمایل اے قومه حُما! حُه بیزاره یم د هغونه چه تاسے ئے د الله تعالیٰ شریکان جوړوئ."

## ③ اَلْمُشْرِكُوْنَ بِالْمَلٰٓئِكَةِ

دا قسم شرک په صابئینو او د حضرت ابراهیم علیه السلام په قوم او مشرکینو د عربو کښ موجود وُو، او په هغه فلاسفو کښ چه د ملائکو علیهم السلام په باره کښ عقیده لرله سائی چه دا تدبیر کونکی د عالم دی. قرآن کریم کښ د دوی رَد په کفر و طریقو سره راغلے دے: منجمله دا آیاتِ کریمه دے. سُورۃ سبا ع۲ کښ فرمائی چه: کله را جمع کړی الله تعالیٰ دوی لره غونه بیا به ووائی ملائکوته "ایا دوی تاسے لره عبادت کولو نو ملائک علیهم السلام به ووائی: سُبْحٰنَكَ اَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُوْنِهِمْ "چه پاکی د ده تا لره، ته زمونږ د امدادی یے سوا د دوی نه."

## ④ اَلْمُشْرِكُوْنَ بِالْجِنِّ

کفارو او مشرکانو په د جنّاتو (پیریانو) په حقله دا لوهیت عقیده ساتله او په هغوی په ئے پنائی حاصلوله او په مصائبو کښ به ئے ورته چغے وهلے، او عبادت به ئے ورله کولو. "انعام الرحمٰن" کښ د کنز البیتونه د دوی په تردید کښ ذکر شوی دی بیو ترینه دا دے: سورۃ الجن ع۱ کښ ارشاد دے: وَّاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا ۝ "او یقیناً شان دا دے وه یوکه ډله د سړو د انسانانو چه پنائی به ئے حاصلوله په څه سړو د پیریا نو انو نو زیات کړے وُو هغوی دوی لره سرکشی.

# د یهودیانو بیان

قرآن مجید کښ چه څنګه د مشرکانو، صابئینو رَد ذکر کوی نو دغه شانے د یهودو، نصاراؤ او منافقانو تردید هم کوی. دغه وجه نه تولے چلے د کفارو مشرکانو دی خو نومونه او قومونه ئے جُدا دی. لهٰذا د مشرکینِ عرب په مناسبت د دغو دلو ذکر هم مناسب کړم: حضرت شیخ القرآن رحمه الله په "العرفان ص۳۶" کښ فرمایلی دی: حاصل ئے دا دے چه یهود په عربو کښ اوسیدهٔ او اکثر د باهر نه راغلی وُو او په مختلفو ملا قو کښ خواره کشوی وُو لکه حِمیر، او بنی کنانه، او بنی حارث، او کندهٔ، او بنی قریظه، او بنی قینقاع، او مدینه منوّره کښ "بَیْتُ الْمِدْرَاس" مدرسه جوړه کړے وه او د تورات ترجمانی

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



به ئے مربوته کوله او هغوی ته به ئے وعظ کولو، تردے چه "اوس او خزرج" به ورله د اولاد نذر منلو، د قرآن پاک چه پیر وسورتونو کښ دد وی ګنړ قبائح ذکر شوی دی، ددے دپاره چه مؤمنان د هغوی د غلطو عملونو صفتونو نه ځان بچ وساتی. بطور مثال سورة نساء ع۱۵ نه اولس قبائح ددوی ذکر دی: يَسْئَلُكَ أَهْلُ الْكِتٰبِ أَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ الخ: "سوال کوی ستا نه اهل کتاب چه راوړے په دوی باندے کتاب (په یوځل)." شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه ددے ځائے نه الله تعالیٰ رد د شبهو د یهودو کوی. انشاء الله تفسیر کښ به نور تفصیلی قبائح ددوی ځائے په ځائے وکورئ او نشاندهی به ئے اوشی چه دا د یهودو قباحتونه دی ٭

## د نصاریٰ و بیان

داهغه کسان دی چه دد ین د عیسیٰ علیه السلام او د انجیل د اتباع دعوی کوی او اکثر ددوی نه امیان دی، په کتاب هم پوهیږی نه. ددوی رد هم باری تعالیٰ په ګنړو سورتونو کښ کړے دے. منجمله سورة نساء ع۱۷ کښ فرمائی: يٰٓأَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ إِلَّا الْحَقَّ إِنَّمَا الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهٗ: "اے کتاب والو! زیاتے مکوئ په دین خپل کښ او مه وایئ په الله تعالیٰ باندے مګر حقه وینا. یقیناً عیسیٰ حوئے د مریم علیهما السلام رسول د الله تعالیٰ دے او کلمه د هغه." شاه صاحب رحمه الله په دے ځائے هم فرمائی چه ددے ځائے نه الله تعالیٰ رد د نصاریٰ وکړی ٭

## د منافقانو بیان

څلورمه ډله چه قرآن حکیم ئے په سخت تردید کوی منافقان دی کوم چه دهوکے کوی د الله تعالیٰ سره او د رسول الله ﷺ سره او د مؤمنانو سره، او داپه دے اخت کښ پیدا شوی دی او دا سخت دشمنان د مؤمنانو دی ځکه چه دشمنی ددوی پنځه ګونه وه او خباثت ئے زیات دے او د نبی اکرم ﷺ په دور کښ دوی په مدینه منوره او چاړچاپیره کښ اوسیدل. چونکه دوی زیات ضرر رسولی وو او اسلام ته نوسزائے هم سخته وه. سورة نساء ع۲۵ کښ ارشاد دے: إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ: "یقیناً منافقان په لاندنی طبقه کښ به وی د اور نه." منافق په دوه قسمه دے: عملی او اعتقادی: د منافقانو په رد کښ سورة منافقون مستقل سورت راغلے دے، او نور سورتونو کښ ئے هم قباحتونه دی خصوصاً د سورة توبے

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دریمه حصه دَدوی په قباحتونو مشتمله ده : دَحضرت شیخ القران رحمہ اللہ دَ ارشاد مطابق څه دیرہ شپیته خباثتونه ذکر دی . تفسیر کښ هم ذکر راروان دے ۔

## دَمشرکانو عقائد او اعمال

دَکفارو او مشرکانو دَ بیان نه بعد دَهغو بعض عقائد او بنهٔ اعمال هم ذکر کولے شی ، تفصیل ئے "انعام الرحمٰن" دَ "ص۸۱" نه وګورئ : په سورۃ یونس ۳۱ کښ دَهغوی عقائد ذکر کولے شی ، فرمائی : قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ اَمَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَ يُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ : "ووایه څوک درکوی تاسو ته دَبره اوَدَ بنکته نه آیا څوک واګ لاندے غوږونو اوَدَ سترګودی اوځوک راوباسی ژوندی له دَمړی اوَدَ راوباسی مړه دَژوندی نه او څوک تدبیر دَ کارونو کوی نو وبه وائی چه الله تعالیٰ : فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ ، او دَ نبو عملونو ذکر سورۃ التوبۃ ۱۹ کښ راځی ، اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَجٰهَدَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَا يَسْتَوٗنَ : "ایا ګرځولی تاسے خرو بول دَ حاجیانو او اباد ول دَ جمات عزتمند پشان دَ (ایمان) دَهغه چا چه ایمان لے راوړے دے په الله تعالیٰ اوپه ورځ روستنئ او جهاد ئے کړے دے په لار دَ الله تعالیٰ کښ : نه دی برابر ؛

**الحاصل** : اصل کښ شرک دَدوی انکار دَ توحید نه وُ لکه سورۃ ص ۵ کښ رازی : اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ "ایا ګرځولی دی اپیغمبر ګ نه خدایانو له صدو کاریګر ، یقیناً دا بو شے ډیر عجیبه دے" اوبل ئے شفاعت قهری منلو ، لکه ۱۱ یونس کښ راځی : وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ ۔ اوبندګی کوی دوی سوا دَ الله تعالیٰ نه دَهغوچه نه ضرر رسوئے شی دوی ته او نه نفعه او وائی دا سفارشیان زمونږ ه دی په دربار دَ الله تعالیٰ کښ ۔" امام رازی رحمہ اللہ لیکی چه دوی دَ نیکا نو مجسمے جوړے کړے وے : اودا ئے عقیده وه چه کله ئے دوی تعظیم وکړی نو دوی لره سفارش کوی په دربار دَ الله تعالیٰ کښ اوبیا اخوا لیکی ، وَنَظِيْرُهٗ فِيْ هٰذَا الزَّمَانِ اشْتِغَالُ كَثِيْرٍ مِّنَ النَّاسِ الخ : "چه نظیر ئے په دے زمانه کښ مشغولیدل دَ پیرو خلقو دی په تعظیم دَ قبرونو دَ نیکا نو په دے عقیده چه کله ئے دوی تعظیم دَ قبرونو وکړی نو هغوی دَدوی سفارشیان جوړیږی" انعام الرحمٰن او الهام الرحمٰن وګورئ ۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# عنوانات دَمسئلے دَتوحید

چونکہ دا اَهمه مسئله ده نو الله تعالیٰ وله په خپل کلام پاك کښ ګڼ عنوانات په بیلو بیلو الفاظو سره ذکر کړی دی چه مسئله ښه واضحه اوخلاصه شی :
① په لفظ دَعبادت سره، وګورئ بقره ۲۱ : ② په لفظ دَتسبیح سره : وګورئ ۱۷ حدید : ③ په عنوان دَحمد سره، ۱ فاتحه : ④ په الوهیّت سره، ۱۶۳ بقره : ⑤ په برکت سره : ۱ سورة ملك، ⑥ په مُلك سره : ۱۸۹ ال عمران : ⑦ په دُعا سره : اعراف ۵۵ ( وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ ) ۔

# دَمُشرکانو په توحید باندِ اعتراضونه

چونکه اَصلی مسئله .... دَقرآن حکیم مسئله دَتوحید ده، په دے وجه دَدے دَنه مثلو دَپاره کافرانو قسما قسم حیلے، بهانے، شبهے به کولے، لکه حوامیم کښ دَهغوی ۔ ۱۱ شبهات او دَهغو جوابات په تفسیر کښ وګورئ ۔ إنشاء الله تعالیٰ رابه شی ۔ شیخ القرآن رحمه الله په "سمط الدرر" کښ ذکر کړی دی او "العرفان" کښ هم دَهغوی نه نقل شوی دی : دلته هم دَیوشمیر شبهو ذکر کولے شی :
① إتباع الآباء : دَتوحید په مقابله کښ دوی وسیلے چه مونږ تابعداری کوو دَهغه چه پلاران خپل موږ ته موندلی دی : وګورئ، بقره ۱۷۰، مائده ۱۰۴، زخرف ۲۳ ۲۴ او نور : ② مشرکانو به دَخپل شرکی فعل دپاره په الله تعالیٰ باندې دروغ ویل : اعراف ۲۸ وګورئ : ③ دا به ئے هم ویلے چه : اتخذ الله ولدا : الله تعالیٰ نازګولی نیولی دی : بقره ۱۱۶ ۔ ۱۱۷ کښ ئے په یوځو طریقو سره جواب شوے دے : ④ قیاس فاسد به ئے کولو نو الله تعالیٰ فرمائی : فَلَا تَضْرِبُوا لِلّٰهِ الْأَمْثَالَ : "پس مه بیانوئ الله تعالیٰ لره مثالونه : یقیناً الله تعالیٰ په هرڅه پوهیږی اوتاسے نه پوهیږئ : (النحل ۷۴) : ⑤ هغے په ګمان پسے به تلل : سورة یونس ۳۶ کښ ارشاد دے : وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا : "اوتابعداری نکوی زیات دَدوی نه مګر ګمان : بیا اخوا الله تعالیٰ فرمائی : اویقیناً ګمان دَحق په مقابله کښ دَهیڅ شی فائده نه ورکوی ۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## دوٴیم اَصل : صداقت دَرَسُول ﷺ دے

قرآنِ حکیم کښ دَرَسُول اللہ ﷺ صداقت په کاملے طریقے سره ذکر شویدے دَپارہ دَدے چه دَمنکرینو څخه عُذر پاتے نشی او دَدے دَپارہ مستقل سورتونه نازل شوی دی لکه سُورۃ والضحیٰ او سُورۃ الانشراح ۔ انشاء اللہ تعالیٰ به تفسیر کښ به دا موضوع ګوری چه دلته کښ صداقت دَرَسُول ﷺ دے : بطور مثال سورۃ بقرہ ع۱۳ ، سورۃ اٰل عمران ع۴ ، سورۃ نسآء ع۱۳ کتلے شئ ۔

## شُبہات دَکُفارو

څنګه چه دَمشرکانو په توحید باندِ اعتراضونه وُو نو دغه رنګه به نبی اکرم ﷺ به ځم شبہات کول : منجمله ترینه دا دی : ① دَهغوی تکذیب ښائے کولو : شبهه سره دَ جواب نه : ع۱۵ اٰل عمران کښ وګورئ : ② لیونے به ئے ورته ویلو : وګورئ حجر ع۱ : ③ ساحر او کذاب به ئے ورته ویلو : وګورئ سورۃ ص ع۱ : ④ فرمایشی معجزے ښائے ترینه غوښتلے : دَسُورۃ اسراء ع۱۰ نه وګورئ : په اخر کښ ارشاد دے : قُلْ سُبْحَانَ رَبِّیْ هَلْ كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ۝ : ⑤ استهزاء ښائے ورپسے کولے : وګورئ انبیاء ع۳ : ⑥ کله به ئے ویلے چه دا څوری باندِ زارونو کښ ګرزی : وګورئ فرقان ع۱ : انعام الرحمٰن : او تفسیر کښ ئے تفصیل دے ، نور اعتراضونه به ئے هم کول ۔

## دَرِیم اَصل صَداقت دَقرآنِ پاک دے

اودا اَصل پخپله قرآن حکیم په ګڼو طریقو سره واضحه کړے دے : " آفتاب آمد دلیل آفتاب " سُورۃ اقرأ کښ اولنے حکم او اولنئ وحی په لوستلو دَقرآن راغلے ده : کله چه نبی اکرم ﷺ غارِ حرا کښ تشریف فرما وُو ۔ سُورۃ القدر کښ عظمت دَقرآن دے ۔ سُورۃ المزمل ع۱ کښ ترغیب په لوستلو دَ قرآن ورکړے شوے دے او سُورۃ المدثر کښ حکم په تبلیغ دَقرآن پاک شویدے اِنشاءَ اللہ تفسیر کښ به دا موضوع او اَصل ځائے په ځائے ګوری ، انتظار ئے کوئ ۔

## په قرآنِ پاک دَکُفارو اعتراضونه

دَمشرکانو ګڼ شمیر اعتراضونه په قرآن کریم باندِ وُو ، او دَهغوی جوابونه باری تعالیٰ ذکر کوی : بَعض ترینه دادی چه قرآن پاک تر ښے اَسَاطِیْرُ الْاَوَّلِیْنَ ،

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دَ دروغو قصے دَ پخوا نرویلے: وګورئ انعام ع۲۵: (۲) کلمه بنے ویلے: اِنْ هُوَ اِلَّا اِفْكٌ افْتَرٰىهُ الخ چه نه وے دا قرآن مګر دروغ دی چه جوړ کړی ئے دی دَ ځان نه: وګورئ فرقان ع۴: (۳) کلمه بنے ویلے چه په یوځلے پرے وَلے نه وے نازل شوے لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً ؛ وګورئ فرقان ع۱۴: (۴) کلمه بنے ویلے: اِنَّمَا يُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ ؛ "یقیناً ښوونه کوی دَ ته یو انسان" (ع۱۴ نحل)؛ (۵) کلمه بدے ویلے چه دا سے کتاب په مونږ ه هم نازل کړو - الله تعالیٰ ارشاد کوی، وَمَنْ قَالَ سَاُنْزِلُ مِثْلَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ: "او څوک وے غټ ظالم دَ هغه چا نه چه وائی زړه چه نازل به کړم په مثل دَ هغه چه نازل کړی الله تعالیٰ:" وګورئ انعام ع۱۴: اِنْشَاءَ اللّٰه تفسیر کښ به دغه شیے اوجوابونه دَ هغو مطاعنو کړئ - او انعام الرحمٰن هم وګورئ ۞

## څلورم اصل ایمان په آخرت

دا دَ ټولو آسمانی کتابونو څخه اصولی مسئله ده او قرآن حکیم په مختلفو طریقو سره ذکر کړے ده او اکثر ځے بطور تمثیل او څرګندے سره ذکر کوی: سورة الحج ع۸ کښ فرمائی: وَتَرَى الْاَرْضَ هَامِدَةً الخ: "چه وینے به ته زمکه اوچه نو کله چه راولیږو مونږ په دے باندے اوبه حرکت وکړی او پرسیږی بیا په ع۱۴ کښ فرمائی وَاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا وَاَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ۝ "او یقیناً قیامت راتلونکے دے شك پکښ نشته اویقیناً الله تعالیٰ به دوباره راژوندی کړی هغه څوک چه په قبرونو کښ دی:" په دے باندے مستقل سورتونه راغلی دی، لکه الزلزال: او القارعة: شو ۞

## دَ کفارو دَ آخرت نه انکار

کفارو، مشرکانو به قیامت هم نه منلو چه دا دَ عقل نه بعیده خبره ده: او په دے به ئے قسمونه کول، او ضدی عنادی تپوسونه به ئے کول. بطور مثال وګورئ سورة مؤمنون ع۸ ۸۳: قَالُوْٓا ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ۝ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا مِنْ قَبْلُ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝ : وائی دوی ایا کله چه مونږ مړه شو، او شو مونږ خاوره او هډوکی ایا مونږ به دوباره راژوندی کوڅے شو، یقیناً وعدے کړے شوے وے مونږ سره دَدے اوپلارانو زمونږ سره ځه دی دا مکرد دروغو قصے دَ پخوا نو - په سورة اعراف ع۱۸ کښ راځی: يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا: "تپوس کوی دوی ستانه دَ قیامت په باره کښ چه کله بنے دی قائمیدل دَ" پیار و ستونو باری تعالیٰ په کښ نږو طریقو سره جوابونه کوی: تفسیر کښ راروان دی: په سورة الملك کښ

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دی : وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ۝ " او وائی دوی کله به دی دا وعده د قیامت کجرے یئ تاسے ږشتونی" بیا په ۲۵ کښ جواب دے ۔

## الفائدة

داخلور د کرشوی اصول أصلی اصول دی اوددی ته "سوابق" محکمی ویلے شی. قران پاک کښ کله مرتب ذکر کړلے شی او کله غیر مرتب او دا د قران کریم تفنن دے : وګورئ سورۃ بقرہ ۲۱ کښ توحید دے : يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ : بیا په ۲۳ کښ صداقت د رسول ﷺ او صداقت د قرآن حکیم دے : وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا الخ : او بیا په ۲۴ او ۲۵ کښ تخویف اُخروی او بشارتِ اُخروی دے ۔ (۲) سورۃ الطلاق ۸ کښ تخویف اُخروی (یعنی بیان د قیامت) دے : بیا په ۱۰ کښ صداقت او رسالت دے نو په اخری آیت ۱۱ کښ وحدانیت ذکر دے : (۳) سورۃ سبا ۱ کښ توحید، په ۳ کښ اثبات د قیامت، په ۴ کښ صداقت د قران دے او (۴) سورۃ تغابن ۱ کښ توحید، ۸ کښ رسالت ۷ کښ قیامت، ۸ کښ صداقتِ قران دے ۔

# پنځم اصل جهاد فی سبیل الله دے

جهاد په اصل کښ د محکمی څلورو اصولو دیارلسو د اشاعت او خورولو ذریعه ده جهاد لغوی معنی سره کوشش او محنت کولو ته ویلے شی لکه مجمع البحار ص ۶۲۳ کښ راځی : هُوَ الْمُبَالَغَةُ واستفراغُ ما فی الوسعِ والطاقةِ من قولٍ وفعلٍ، "چه د کوشش کولو دی اوخرچ کولو د هغه قوت دی چه په وسع او طاقت کښ د انسان وی کړه ویناوی اوکړه فعل" سورۃ لقمان ۱۵ آیت کښ په لغوی معنے سره ذکر دے : اوشرعاً تعریف ئے ملا علی قاری رحمہ اللہ کړے دے ، فرمائی : وشرعاً بذل المجهود فی قتال الکفار مباشرةً اومعاونةً بالمال او بالرای اوبتکثیر السواد اوغیر ذلک : (مرقاۃ ص ۲۶۴ ج ۸) : "او په شرعے کښ خپل پتول طاقت د کفارو په جنګ کښ صرف کولو دی کړه په نفس سره دی اوکړه معاونت کولو سره دی په مال سره یا په رائے سره دی یا په کلے زیاتولو سره دی یا غیر دے نه دی" : شیخ القران نور اللہ مرقدہ فرمائی : والقسمُ المعظمُ منها هو القتالُ فی سبیل الله : "چه لوئے قسم د دغو نه جنګیدل دی په لاره د الله تعالیٰ کښ ۔ (العرفان ص ۶۳) ۔

## د جهاد اقسام

حافظ ابن قیم رحمہ اللہ زاد المعاد (ص ۱۰۶، ۱۰۷) کښ د جهاد دیارلس قسمونه

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ذکر کړی دی : حاصل ئے داوے چه څلور مرتبے د جهاد النفس دی : او دوه مرتبے د جهاد الشیطان سره دی : او څلور مرتبے د جهاد الکفار والمنافقین سره دی : او درے مرتبے د جهاد د ظالمانو او خاوندانو د بدعتونو او منکراتو سره دی : بیا د تفصیل نه بعد فرمائی ، فهذه ثلثة عشر مرتبة من الجهاد ومن مات ولم یغز ولم یحدث نفسه بالغزو مات علی شعبة من النفاق : "پس څوک چه مړ شو او غزا ئے ونکړه او نفس ته ئے په غزا باندې دعوت هم ورنکړو نو مړ شو دے په یوه شعبه د منافقت باندې" (د حدیث متفق علیه دے ۱) وګورئ مشکوٰة ص ۳۳۱ ج ۲ ✧ حاصل دا چه لوقسمونو واشو : ۲ - ۲ - ۳ - ۳ = جمع : ۱۳ - د انعام الرحمٰن د ط نه تفصیل وګورئ : احقر غفرله ئے په "تحفة الفقیر" او "اصول الجهاد" کښې هم ډیر لس واړه قسمونه د زاد المعاد نه نقل کړی دی ✧

**فائده :-** قرآن پاک کښې کله لفظ د جهاد عام ذکر کوی : لکه نمونے انعام الرحمٰن کښې ذکر دی : یو آیت کریمه دا دے : یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَابْتَغُوْۤا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ وَجَاهِدُوْا فِیْ سَبِیْلِهٖ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ (مائده ۳۵) "اے ایمان والو ! ویره وکړئ د الله تعالیٰ نه او ولټوئ هغه ته وسیله او جهاد وکړئ په لاره د هغه کښې دے د پاره چه تاسے کامیاب شئ" او کله د قتال فی سبیل الله خاص ذکر کوی : دے په باره کښې هم ناچیز لکه "انعام الرحمٰن" کښې تحریر کړی دی - یو ترینه سورة بقره ۱۹۰ کښې ارشاد دے، وَقَاتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ الَّذِیْنَ یُقَاتِلُوْنَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ ۝ : "او وجنګیږئ په لاره د الله تعالیٰ کښې د هغه کسانو سره چه جنګیږی تاسے سره او تجاوز مکوئ د حد نه یقیناً الله تعالیٰ محبت نسائی د تجاوز کوونکو سره ✧

## شپږم اصل انفاق فی سبیل الله دے

دا یو قسم د جهاد نه (یعنی مالی جهاد) دے لاکن زمونږ د شیوخو رحمهم الله مستقل اصل ذکر کړے دے حکمه چه بناء د قتال فی سبیل الله د مال په خرچ کولو سره ده : تفسیر کښې به د ترغیب الی الانفاق موضوع او دعوی ځائے په ځائے ګوری ، او "انعام الرحمٰن" کښې خو ښه تفصیل دے ، خصوصاً سورة الحدید کښې ترغیب دے په پنځو طریقو سره - شیخ القرآن رحمه الله په "سمط الدرر" کښې د هغو وضاحت کړے دے : په سورة بقره ۲۶۸ کښې ترغیب دے خرڅ کولو پاکیزه او حلال مال نه : فرمائی : یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّاۤ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ (الایة) "اے ایمان والو ! خرچ وکړئ د پاکو هغو مالونو نه چه کمائی دی تاسو او د هغه څه

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چه راویستلی دی سونبر ه تاسولره د رمکے نه: "سورة منافقون ع کښ رتښه ده هغه چا لره چه د انفاق نه منعه کوی، هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا الخ: "دوی هغه کسان دی چه وائی خرڅ مکوئ په هغوچا چه په نزد د رسول الله ﷺ کښ دی، دے دپاره چه خواره شی د خوا د هغه نه ۔

## اُووم اصل تنظیم دے

دا د جهاد او انفاق سره تعلق لری، د دے مقصد دا دے چه مؤمنانو لره په خپل مابین کښ منظم اوسیدل پکار دی: په دے کښ څو اهم مباحث دی:

① تهذیب الاخلاق :- یعنی د مؤمن مجاهد د تربینلې صفات: او دا په سورة بقره ع۱۴ کښ ذکر دی: پنځه د عقیدے سره او پنځه د نور و اندامونو سره تعلق لری او ټول لسل ذکر شوی دی:

② السیاسة المدنیة :- د ملک د امن اصول او سورة بقره کښ د دے دپاره خلور احکام ذکر دی، د ظالم نه بدله واخلئ: ع۱۷۸: مثال په قانون شرعی تقسیم کړی ع۱۸۰: د روژے ونیسئ دپاره د ارتباط د نفس ع۱۸۳ نه: منعه شئ د رشوتونو ورکولو نه: وکورئ ع۱۸۸:

③ تدبیر المنزل :- یعنی د کورد جوړښت احکام چه هغه سورة بقره کښ د ع۲۱۵ نه تر ع۲۴۱ پورے اتلس ذکر شوی دی: د تفسیر په خلاصه کښ به راشی او شیخ القرآن رحمه الله به ورته د لطیفے په طور د محبت تعویذ ویلو۔

④ د تاسیس الجماعة اصول :- او دا خلور دی: اول عقیده کا بریو کوی: وکورئ ال عمران ع۱۰۲: دوئیم قانون به قرآن وی ع۱۰۳: دریئم ارکان به فعال وی ع۱۰۴: خلورم او مال به لګوی په جماعت: وکورئ ع۱۱۴ ال عمران او پنځم قانون د جماعت د حفاظت دپاره دے چه اغیار به رازدار نه جوړوی او د دے لسل نقصانات دی: وکورئ د ع۱۱۸ نه ال عمران: انشاء الله تفصیل بئے تفسیر کښ وکورئ:

⑤ پنځم احکام د رعیت دی او دا سورة نساء کښ شپاړس ذکر شوی دی: تفصیل بئے په اولے حصے د سورة نساء کښ معلوم کړئ۔

⑥ شپږم احکام سلطانیه د راعی او رعیت په مابین کښ احکام: سورة نساء دوئیمے حصے کښ الله ﷻ ذکر دی:

⑦ اُووم د امیر صاحب اطاعت: سورة نساء ع۹۵ کښ الله تعالیٰ فرمائی، يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ: "اے د ایمان خاوندانو! اطاعت وکړئ د الله تعالیٰ او اطاعت وکړئ د رسول او

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د خاوند انود مشرئ ستاسے نه ؛ حافظ ابن کثیر رحمہ اللہ فرمائی (ص ۵۱۸) : چه ظاهره داده (والله اعلم) چه دا ایت عام دے په ټولو اولی الامر کښ که امراء دی او که عُلماء دی : البته خلاف شرع کار و نو کښ اطاعت نشته : لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق ؛ (قرطبی ص ۲۹۰ ج ۴) ؛

## اتم اصل اداب دی ۴

اَدب ویلے شی استعمال د هغه شی ته چه محمود وی، ستایلے شوے وی، قول وی او که فعل، اویا ویلے شی عمل کولو ته په بنو اخلاقو باندِ او چا ویلے دی چه د بنو کارونو سره اودریدلو ته ویلے شی : و قیل التعظیم لمن فوقك و الرفق بمن دونك ؛ (مرقات ص ۴۵ ج ۹) ۔ د بنڈئ شیخ رحمہ اللہ په "جواهر ص ۳۱۱ کښ دا شعر ذکر کړے دے : ؎

بے ادب تنہا نہ خود را داشت بد ❊ بلکہ آتش در ہمہ آفاق زد

په دیکښ هم یو څو مباحث دی ؛ (۱) د جماعت د حفاظت اداب : او دا اوګ دی په سورة الحجرات کښ ذکر دی : تفسیر کښ وګورئ ؛ (۲) د جهاد د پاره د امیر ضرورت : سورة بقره ۲۴۶ نه د طالوت صاحب واقعه په دے ذکر شوید ه ؛ شیخ القران رحمہ اللہ به فرمایل دورانِ درس کښ ؛ چه اديانو مستمره و نه جهاد لاندے د حکم د یو امیر نه دے) یعنی د مجاهدینو به یو امیر وی ، دا نه چه کور کښ به کوږ ګے وی : د امیر د انتخاب طریقه هم دغه واقعه کښ ذکر ده : او د امیر اخلاق ۱۵۹ ال عمران کښ دی : فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ (الآية) ؛ "پس په سبب د مهربانئ د الله تعالیٰ نرم شوے ته دوی ته او که چرے وے ته پوچ ژبے ، سخت زړے نو خامخا خوارګ شوی وے دوی لتانه " دغه رنګ امیر به خائن نه وی، وګورئ ال عمران ۱۶۱ : امیر به معلم وی د قران او د سنت ، وګورئ ۱۶۴ ال عمران :

(۳) مؤمنان به د شورئ پابند وی او امیر به د ملګرو نه مشوره اخلی : د سورة شورئ ۳۸ نه تر ۴۳ پورے د مؤمنانو نو ګ نر صفات ذکر شوی دی : اوڅم صفت ئے دا دے : وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ : "چه کار د دوی به مشورے والا وی په مینځ د دوی کښ : او په سورة ال عمران ۱۵۹ کښ امر راغلے دے : وَشَاوِرْهُمْ فِي الْاَمْرِ : او مشوره کوه د دوی سره په اهمو کارونو کښ ؛

(۴) د جماعت ارکان به درے قسمه وی ؛ شیخ القران رحمہ اللہ به دورانِ درس کښ په سورة المزمل کښ دا بیانولو ؛ چه یو قسم به عالمان وی د قران درس به کوی : فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ : دویم قسم به تاجران وی مال به په جهاد لګوی :



Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وَاٰخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ فِي الْاَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ : او درېیم قسم به مجاهدین دفاع کونکی وی د جماعت ۱ ملکرو خپلونه : وَاٰخَرُوْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ :

**فائدہ** :- دا آیته اصول دی د قرآن حکیم چه پطور خلاصه عرض کړے شو، دغه دے د پاره چه د تفسیر په مطالعه کښ اسانی وی: او د تفصیل د پاره د احقر کتاب "انعام الرحمٰن" کتلے شئ چه د کوم نه دا خلاصه زیر تحریر شوه ٭

بروز پنجشنبه ۹/۳۰ سعودی وقت غرفة اقامت، بالمسفلة: مکة المکرمة ۲۱ اگست ۲۰۰۶ء - ۱۹ رجب المرجب ۱۴۲۸ھ
نظر ثانی ۲۱ اگست ۲۰۰۶ء - ۲۳ رجب المرجب ۱۴۲۸ھ المسجد النبوی المدینة المنورة ٭

# د دعوے او د ثمرے بیان

پوهه شه چه د هر سورت د پاره یو مقصد وی چه ټول سورت پرے راغونډیږی او دغه مقصد ته دعوی د سورت او موضوع ویلے شی څنګه چه د هر علم د پاره موضوع وی نو چه دلائل پرے روسته ذکر کولے شی نو دغه دعوی د سورت وی او چه څنګه ترینه دلائل وی نو بیا ورته ثمره ویلے شی. انشاء الله تعالیٰ تفسیر کښ به دا څنګه ځای په ځای ګورئ ٭

**فائدہ** :-(۱): کله د سورت دعوی یو وی لکه چه د سورۃ اخلاص دعوی توحید ده : (۲): کله دوه وی لکه د سورۃ نمل : غیبدان یو الله تعالیٰ دے ع۶۵ ، سلامتیا ورکړلو والا یو الله تعالیٰ دے ع۵۹ : (۳) کله درے وی لکه د سورۃ اعراف : زیږیدل مړ تلل او قرآن او رسول ع۱ : اتباع د ما انزل الیکم : وکړئ ع۱ توحید ع۱۹ : (۴): کله څلور وی لکه سورۃ بقره ع۳۱ کښ توحید ، ع۱۹ کښ صداقت د رسول علیه السلام ، ع۱۹ کښ قتال فی سبیل الله ، ع۲۵ کښ انفاق فی سبیل الله ٭

## د دعوو اقسام

د سورتونو د دعوو ګڼ اقسام دی : انعام الرحمٰن کښ د "ص۱۵۳" نه د شپږ ویشتو دعوو ذکر شوے دے تفصیلاً لے هلته وګورئ دلته "مشت نمونه از خروار" عرض

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کوم ۱: ۱: دعوی د توحید ۲ بقره ۲: ۲: صداقت د رسول ﷺ سورة ضحی ۱ ۲ ۳: ۳: صداقت قرآن ۲ اقرأ ۱: ۴: اثبات د قیامت ۳ سورة القیمة ۱: ۵: قتال فی سبیل الله ۱۹ بقره ۱: ۶: انفاق فی سبیل الله ۴ حدید ۱: ۷: د جماعت جوړیدو اصول ۱۲ ال عمران نه: ۸: آداب او امور انتظامیه د ۱۲ حجرات نه: وغیره وغیره ✧

## د ثمر و مثالونه

۱: ۱: وګورئ سورة یونس ۱: ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ: ۲: سورة انعام ۱۰۲: ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوْهُ: ۳: سورة مؤمنون ۱۰۲: فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ ۝: ۴: سورة عنکبوت ۱۰۲: قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ: او: ۵: سورة مؤمن ۱۰۲: فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۝ او: ۶: سورة یونس ۱۰۲: سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝: ۷: سورة جاثیه ۲۲: وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ: وغیره: (وسبحت اذا جعتم) ✧

## د دلائلو بیان

پوهه شه چه دعوے چه ثابتیږی نو د هغوی د پاره د دلائلو ضرورت وی خکه هر عقلمند پوهیږی چه په خالی دعوی کولو څه نه ثابتیږی څو پورے چه پرے دلیل ذکر شوے نه وی او چونکه الله تعالیٰ د چا عذر او بهانه نه پاتے کوی نو له دے وجے نه قرآن پاک کښ ئے دلائل ذکر کړی دی، کله عقلی وی، کله نقلی، کله وحی وی، او کله حلف: او قرآن پاک کښ د دلائلو نه تعبیر په "آیات" سره شوے دے: وګورئ سورة انعام ۱۰۵ ✧

## عقلی دلائل

عقلی دلائل په دوه قسمه دی: ۱: عقلی محض: ۲: عقلی اعترافی: عقلی محض دیته ویلے شی چه عقل سلیم ئے منی او مقدمات ئے د مقابل په نزد مسلم وی: او تعرض پکښ اعتراف ته نه وی: او اعترافی دیته ویلے شی چه خصم ئے منی او اقرار او اعتراف پرے کوی صراحةً: او یا سکوت پرے کوی نو گویا که سکوت ئے په دغه خائے کښ دلیل د رضا وی: د اول مثالونه: سورة نحل ۳ کښ راځی: خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ تَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ "پیدا کړی دی الله تعالیٰ اسمانونه او زمکه د پاره د اظهار د حق، اوچت دے د هغه نه چه دوی ئے د الله تعالیٰ سره شریکوی" په ۴ کښ فرمائی: خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ۝ "پیدا کړی الله تعالیٰ

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



انسان د نطفے نه نوناخاپه وے جهگړالو ښکاره وے ۰

**فائده:-** سورة انعام کښ ۲۵، سورة نحل کښ ۲۲، سورة رُوم کښ ۱۷ — دلائل عقلیه دی: تفسیر کښ ئے بیان راروان دے: شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه دوه قسمه دلائل عقلیه په قرآن کښ ویردی: یو دا چه د هرشی پیدا کولو والا الله تعالیٰ دے لکه ذکر شو: دریم داچه عالم به هرشی الله تعالیٰ دے لکه نحل ۷۰ کښ فرمائی: وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ۰ او الله تعالیٰ پوهیږی په هغه چه تاسے ئے پټ کوئ او په هغه چه تاسے ئے ښکاره کوئ ۰

## د اعترافی دلائلو مثالونه

دا هم په دوه ډوله سور تونو کښ دی: منجمله د ترینه سورة یونس ۳۱ کښ راځی: "وایه خوك درزق درکوی تاسے ته آسمان نه او د زمکے نه؟ ایا څوك واکمن دے د غوږونو او سترګو؟ او څوك راوباسی ژوندے د مړی نه او راوباسی مړے د ژوندی نه؟ او څوك تدبیر د کارونو کوی؟ فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ: "نو زده وے چه وُبه وائی دوی الله تعالیٰ". دغه شان سورة زخرف ۸۷ کښ راځی: وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ۰ "او کله چه تپوس وکړے ته د دوی نه چه چا پیدا کړیدی آسمانونه او زمکه نو ضرور به وائی چه پیدا کړی دی دوی لره زور آور پوهه ذات".

## د عقلی الزامی مثالونه

یعنی هغه دلائل چه مخالف پرے صراحةً اعتراف نکوی خو (مُسکِت) چپ کوونکے وی هغه لره: سورة انعام ۱۲ کښ راځی: قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط قُلْ لِّلّٰهِ: "وایه چه د چا دپاره دی هغه چه په آسمانونو کښ دی او په زمکه کښ (نو دوی به غلی شی) نو وُوایه چه الله تعالیٰ لره دی: سورة یونس ۳۴ کښ دی: قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ط قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ط فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ۰ "وایه آیا شته د شریکانو ستاسے نه هغوك چه پیدا الله د مخلوق کوی بیائے اعاده کوی (نو دوی به غلی شی) وایه الله تعالیٰ شروع کوی د پیدا الله بیائے اعاده کوی نو کوم خوا اړوُلی شئ تاسے؟ (یعنی د الله تعالیٰ د توحید نه؟

## دلائلِ نقلیّه:

دلائلِ نقلیه دیته وئیلے شی چه دلیل نیول یکښ په نقل سره وی یا د عزتمند انسان نه پرته نفسُ الامر کښ یا د مخاطب په نزد یا د تسلیم شُده کتاب نه یا د داسے

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



شی نه چه باطل ته مائل نه وی : ۲ قرآن پاک د مطالعے نه شپږ قسمه دلائل تقلیه معلومیږی ۱ : د انبیاء علیهم السلام نه ۲ : د ملائکو علیهم السلام نه ۳ : د پخوانو اولیاء کرامو رحمهم الله نه ۴ : د جنّاتو (پیریانو) نه ۵ : د پخوانو کتابونو نه ۶ : د صرفانو او وحوشو نه ۔

## التفصیل

د انبیاء علیهم السلام نه کله اجمالی اجماعی دلیل وی لکه سورة انبیاء ع۱۵ کښ ارشاد دے : وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ إِلَّا نُوْحِيْ إِلَيْهِ أَنَّهٗ لَآ إِلٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُوْنِ ۝ او صونږ نه دی لیږلی مخکښ ستاسے نه هیڅ یو رسول مګر وحی مو ورته کړیده د دے خبرے چه نشته حق د بنا کښی سوا څمانه ، نو عبادت کوئ څما ۔" سورة نحل ع۳۳ ، او سورت زخرف ع۴۵ : او نور و سورتونو کښ هم دی : او کله انفرادی تفصیلی وی : لکه واقعات د پیغمبرانو علیهم السّلام په کتړو سورتونو کښ دی : بطور مثال سورة هود ع۲۵ نه د نوح علیه السلام ، د ع۵ نه د هود علیه السلام ، د ع۶ نه د صالح علیه السلام د ع۸ نه د شعیب علیه السلام واقعے ذکر دی ۔

**فائده :** قصص د انبیاؤ علیهم السّلام دلائل نقلیه دی د هغوی نه اوپه دغو کښ بے شمار حکمتونه دی چه د انسان علم پرے احاطه نشی کولے ، العالم الرحمٰن کښ د "ق" نه لس حکمتونه ذکر شوی دی او تفسیر کښ هم د واقعاتو حکمتونه اوفائدے په کوته شوی دی ۔

## نقلی دلائل علیهم السلام نه

د دے نه مراد د هغوی اقوال او احوال دی چه هغوی د الوهیّت حقدار نه دی او د دوی اقوال او احوال د الله تعالیٰ په وحدانیّت باندے دلائل دی : بطور مثال سورة بقره ع۳۲ کښ رازی چه دوی وائی : سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝ "پاکی د تا لره ، نشته پوهه مونږ لره مګر هغه چه تا راکړے د یقیناً ته پوهه او د حکمت والا یے ۔" سورة تحریم ع۶ کښ رازی : لَا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ "چه خلاف نکوی دوی د الله تعالیٰ او کوی هغه چه دوی ته پرے امر کولے شی ۔"

## نقلی د پخوانو نیکانو نه

سورة یٰسٓ کښ د هغه نیک سړی رحمه الله بیان دے چه د رسولانو پیغمبرانو تائید لے کړے وو ، د ع۱ نه ترتنه پورے : په ع۱ کښ رازی : وَمَا لِيَ لَآ أَعْبُدُ الَّذِيْ فَطَرَنِيْ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ : "اوخه دی مالره چه عبادت نکوم د هغه ذات چه پیدا کړے دے مالره او خاص هغه ته به واپس کیږئ تاسے ۔" او سورة

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



لقمان کښې وحکیم الدنیا رحمۃ اللہ نقلی دلیل په ځان کښې راوړی: یٰبُنَیَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِیْمٌ ۝ "اے بچیه! شرك مکوه د الله تعالیٰ سره، یقیناً شرك کول خامخا ظلم لوئے دے." نو رمثالونه به د قرآن کریم په تفسیر کښې په ګوته کړیږی۔

## نقلی دجنّاتونه

سورۃ احقاف کښې د ۲۹ نه تر ۳۲ پورے: وَاِذْ صَرَفْنَاۤ اِلَیْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ یَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۚ فَلَمَّا حَضَرُوْهُ قَالُوْۤا اَنْصِتُوْا ۚ فَلَمَّا قُضِیَ وَلَّوْا اِلٰی قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِیْنَ ۝ "او کله چې راوګرزولمونږ تا ته یوه ډله د پیریانو نه، غوږ نیولو قرآن ته نو کله چه حاضر شوو ورته نو ویلیچپ شئ، پس کله چه تلاوت ختم شو وګرزیده قوم خپل ته ویره ورکوونکی." او سورۃ الجن خو مستقل دلیل نقلی دے د جناتونه د ۱ نه تر ۱۵ پورے دیارلس بیانات دی د څخې او په ۱۸ کښې راځی، وَّاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا ۝ "او هیڅوك نه شریکوئ مونږه د رب خپل سره څوك"۔

## نقلی د پخوانو کتابونه

یعنی پخوانی کتابونه او صحیفے هم تصدیق د توحید او د قرآن او د رسول ﷺ کوی: بطور مثال سُوْرَةُ الْاَعْلٰی ۸۷ کښې راځی: اِنَّ هٰذَا لَفِی الصُّحُفِ الْاُوْلٰی ۝ صُحُفِ اِبْرٰهِیْمَ وَمُوْسٰی ۝ "یقیناً دا مضمون په صحیفو مخکښو کښې چه صحیفے د ابراهیم او د موسیٰ (علیهما السلام) دی." سورۃ اسراء ۱۷ کښې دی: وَاٰتَیْنَا مُوْسَی الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ هُدًی لِّبَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِیْ وَكِیْلًا ۝ "او ورکړے وو مونږ موسیٰ ۴۳ ته کتاب او کړو ګرزولے وو مونږه هغه لره هدایت د بنی اسرائیلو، (مضمون یې کښې داوو) چه مه نیسئ سوا ځما نه کارساز." څنګه چه د امسئله په ۷۳ المزمل کښې هم ده: رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِیْلًا ۝ "رب د مشرق او د مغرب دے، نشته حقدار د بندګئ سوا د هغه نه، نو ونیسه هغه لره کارساز"۔

## نقلی دلائل د مرغو او وحوشو نه

قرآن پاك کښې د دوی حال هم ذکر دے اګرچه د ذوالعقول نه نه دی لاکن بیا هم د باری تعالیٰ په توحید قائل دی او په دے ورله شعور ورکړے شوے سورۃ النحل ۱۶ کښې د مچئ ذکر دے چه الله تعالیٰ ورته الهام کړیے

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او دَرَب وَهکم تابع دے: فرمائی: ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا: "بیا خوره وَهرقسمه میوُونه پس زَره په لارو دَرَب خپل چه تابع شوی به وی: دغه شانے سورۃ نمل کښ رازی، قَالَتْ نَمْلَةٌ يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ۝: ووِیلے میږۍ: اے میږانو! داخل شئ سُوړو خپلونه چه دَل نکړی تاسے لره سلیمان علیہ السلام اولښکر دَ هغۀ اودوی به خبر نۀ وی"معلومه شوه چه دَ میږۍ عقیده وَه چه سلیمان علیہ السلام اودَ هغۀ ملګری غیبدان نۀ دی: شیخ القرآن رحمہ اللہ به بطورِ لطیفه فرمائیل چه یُومُلا صاحب به خُونه میږان جوړیږی: دغه شانے دَ هُدهُد نه هم نقلی دلیل سورۃ نمل ۲۲ کښ وګورئ:

## دلائلِ وحیّیه

مخکښ چه څومره دلائل عقلیه اونقلیه ذکرشو، دغه هم وحی دلائل دُو په دِے معنے سره چه په قرآن پاک کښ ذکرشوی دی اونبی اکرم ﷺ ته دَ قرآن مجید وحی شوے وَه خو دلته مقصد دادے چه دَدے مسئلے وحی نبی ﷺ ته خصوصی طور سره شوے وَه اوهغوی مأموره شوی دی په دِے باندِ چه وِے رسوَه، دَدے څلور قسمه تعبیرات "انعام الرحمٰن" کښ وګورئ: دلته دُوَه مثالونه عرض کولے شی: سُورۃ کهف مثلاً کښ ارشاد دے: قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ الخ: "وو ایه چه یقیناً هُغه بَشر یم پشان ستاسے، وحی کولے شی ماته چه یقیناً مدګار ستاسے مَدګار یَو دے"؛ سُورۃ انعام ۱۹ کښ ارشاد دَدے: وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ: "اووحی شوے وَه ماته دَدے قرآن چه ویرَوم تاسے په دے اوهغه څوك چه دا ورته وُرسیږی"

## دَحلف (قسم) بیان

دَشیخ القرآن رحمہ اللہ "العرفان ص۸" کښ نقل شوی دی چه څنګه مدّعی په دلائلو ذکرشو وثابتیږی، نوهغه شانے مدّعیٰ په قسم هم ثابتیږی لکه ویلے شوی دی: ؎

فَإِنَّ الْحَقَّ مَقْطَعُهُ ثَلَاثٌ ✧ يَمِينٌ أَوْ لِقَاءٌ أَوْ جِلَاءٌ

"چه یقیناً دَ حق دَقطع والی دُرے شیونه دی: قسم، یا ملاقات، یا بنګاړه والے"

دَیتدې شیخ رحمہ اللہ په "جواهر القرآن ص۵۸۳" کښ دَشیخ المشائخ

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مولنا حسین علی رحمہ اللہ په نقل لیکی چه د "مُقْسَم بِهٖ" یعنی په کوم شی چه قسم خوړلے شی، په اعتبار سره د قسم څلور قسمونه دی: "انعام الرحمٰن" او "تفسیر دوالو" کښې کتلے شئ اوداسے هم فرمایلی دی چه د قرآن اکثر او بیشتر قسمونه د دے قسمه نه - یعنی بطور شاهد اوګرځولو دی: لکه سورة العصر ۱ کښې دی: وَالْعَصْرِ شاهد دے زمانه - ابن القیم رحمہ اللہ په دے کتاب لیکلے دے "التبیان فی احکام القرآن" هغه قابلِ دید کتاب دے ۞

## د قواجر او تخویفات

کله چه حق بیان شی نو خلق ورسره دوه ډلے کړی: ۱: هغه چه وے منی: ۲: هغه چه بنکاره لے ومنی لاکن پټ لے نه منی: ۳: هغه چه پټ او بنکاره ترینه انکار وکړی: لکه سورة الحج ۵۲ کښې ارشاد دے: وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ "چه موږ نه دی رالیږلی مخکښې ستانه هیڅ رسول او نه نبی مګر چه کله لے بیان او قراءت کوالو نو اچولے به شیطان "وسوسے" په وخت د بیان دهغه کښې نو زائله به کړی الله تعالیٰ هغه چه غورځولے به شیطان بیا به لے مضبوط کړی آیتونه خپل، او الله تعالیٰ پوهه او د حکمت والا دے -" بیا په ۵۳ کښې د منافقانو، ۵۴ کښې د مؤمنانو، ۵۵ کښې د کافرانو حال ذکر کوی. او کله د مخکښې نه تنبیه ورکوی چه خبر شه ستا د بیان نه بعد به خلق درے ډلے کړی لکه ۱ بقره کښې اصلي مسئله د توحید ده: نو د مخکښې نه موځد ته درے ډلے بیانوی: ۳ ۴ ۵ کښې د متقیانو او ۶ کښې د کافرانو او د ۷ نه تر ۱۶ پورے د منافقانو صفات ذکر کړی دی - لهذا د دغه ټولو په حقله قرآن پاک کښې فیصلے ذکر کوی، د منو نکو دوه پاره هم او د منکرینو دوه پاره هم - منجمله د هغو نه زجر دے ۞

## د زجر بیان ۞

زجر د عربی لفظ دے او قرآن پاک کښې سورة صٰفّٰت ۲ کښې ذکر شوے دے: فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ۱ "پس شاهد دی شړونکی ملائك په شړلو سره: بیا ۱۲ کښې رازی: فَاِنَّمَا هِیَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ۱۹ "پس یقیناً دا چغه یوه ده": دغه شانے سورة نازعات ۱۳ کښې هم دی. حافظ ابن کثیر رحمہ اللہ (ص ۴۶۷ ج ۴) د حسن بصری رحمہ اللہ په حواله لیکی چه د زجر معنی چغه د غضب ده ۞

**فائده:** - د زجر دیر اقسام دی خکه چه چا له زجر (رتنه) ورکوله شی هغه ډیره دی: دغه شانے کله لے په اقوالو سره وی او کله په افعالو سره وی، او کله مؤمنانو لره وی: لکه سورة آل عمران ۱۵۲ کښې په سستۍ او مخالفت

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



سره دے او په سورة صف کښ یې اقوالو سره دے ،لِمَ تَقُولُونَ مَالَا تَفْعَلُونَ" او زجرونه منافقانو لره ویر زیات دی دَهغوی په غلطو اقوالو او ناکاره افعالو سره منجمله ترینه سُورة توبه کښ وګورئ چه دَ جهاد په باره کښ تاسے ته وینا اوشی: إِثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ" "نودرانه شئ زمکے ته اوبیا په سُورة کښ زجر ورله دے په غلط قول سره: وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ ائْذَنْ لِي وَلَا تَفْتِنِّي "او بعض دَدوی نه هغه څوک دی چه والی اجازه وکړه ماته (وَیاړے کیږو) اوبه امتحان کښ مه اچوه ماله!" دغه رنګے یهود دلره په سورة مائده "کښ، نصارا دلره په سورة مائده "کښ زجرونه دی اونور و سورتونو کښ: دغه رنګے مشرکانو لره په نړ منلو دَ توحید "سورة صٓ" کښ په نړ منلو دَ رسول علیه السلام په "سورة رعد" کښ په نړ منلو دَ قرآن "سورة فرقان" کښ په نړ منلو دَ قیامت سورة ملک" سورة کښ زجرونه دی: انشاء الله تفسیر کښ به ځائے په ځائے په دیو نشاندهی کیږی ٭

## دَ تخویف بیان

مُراد دَ تخویف نه ویره ورکول دی نړ منونکو لره دَ دُنیا په عذاب څنګه چه په زړو قومونو راغلی وُو- او ویره ورکول دی دَ آخرت په عذاب باندې دَ تخویف لفظ په قرآن کښ سُورة اسراء "سورة حٰمٓ" کښ او زُمر "سورة کښ راغلے دے:

**مثالونه** دَدے ډیر مثالونه دی: دلته په یو یو مثال اکتفاء کولے شی سورة عنکبوت کښ دَ زړو قومونو هلاکت ذکر شوے اونومونه ئے اختصاراً شوی دی: سورة کښ فرمائی: فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنْبِهِ فَمِنْهُمْ مَنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُمْ مَنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُمْ مَنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُمْ مَنْ أَغْرَقْنَا وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ،"پس هریو وُنیول مونږ کا په ګناه دَ هغه نو بعض دَدوی نه هغه وُوچه رالیږلے وُو مونږ په هغوی باران دَ ګټو، او بعض دَ دَدوی نه هغه وُوچه ونیولو دوی لره چغے، او بعض هغه وُوچه وُمنډل مونږ هغه په زمکه باندې، اوبعض دَ دوی نه هغه وُوچه وُوب کړه مونږ هغوی لره اونه دے الله تعالیٰ چه ظلم وکړی په دوی باندې لاکن وُو دوی په خپلو نفسونو ظلم کولو" او سورة بقره کښ فرمائی: فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ،"کچرے دا کار مو اونکړو، اوهیچرے ئے نشئ کولے نو ویریږئ دَ اور هغه نه چه خشاک ئے خلق اوګټے دی، تیار شوے دے دَ پاره دَ کافرانو" ٭

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## برزخی تخویف

تخویف نوکښ یو قسم تخویف د قبر او د برزخ دے او د دنیا او اخرت په مابین کښ دے۔ شیخ القرآن رحمہ اللہ به فرمایل چه قرآن پاک کښ د اتلس ایتونو نه عذاب د قبر او برزخ ثابت دے: سورۃ مؤمن ۴۵ ایت باندے عامو مفسرینو رحمہم اللہ لیکلی دی چه دا دلیل دے په اثبات د عذاب قبر باندے: الهام الرحمٰن او انعام الرحمٰن او دے تفسیر کښ پرے حوالے کښلے شوی: ایت دا دے: اَلنَّارُ یُعْرَضُوْنَ عَلَیْهَا غُدُوًّا وَّ عَشِیًّا، "اور پیش کولے شی دوی په اُور سحر او بیگانی"؛ دغه شانے د سورۃ نوح ایت ۲۵ باندے هم مفسرینو رحمہم اللہ لیکلی دی:

## د ختم القلب یعنی د زړه د ټاپے بیان

کله چه مُبلّغ بیان وکړی او معاند نے نه منی نو د دے د پاره خلور رتبے دی: اوّل شک کوی، بیا ګمراه شی، بیا جګړه کوی، بیا ئے په زړه مُهر ولګی نو د هدایت اُمید نے ختم شی۔ سورۃ مؤمن ۳۵ کښ داخلور واړه د زړه مُهر ولګیدل مؤمن په بیان کښ ذکر دی او دے د پاره کښ الفاظ په قرآن پاک کښ ذکر دی، اِنشاء اللہ محے ته به راشی او قرآن پاک چونکه په عُرف او محاوره راغلے دے نو کله د مُهر لګولو نسبت اللہ تعالیٰ خپل ته کوی، بقره ۷: او کله دوی د خپل ځانونو ته کوی لکه خَتَمَ سجده ۷ کښ: او کله د دوی عملونو ته نسبت کولے شی لکه مطففین ۱۴ کښ: انشاء اللہ تعالیٰ نور وضاحت به تفسیر کښ ویئ۔

## د تسلّی بیان

تَسلّی په لُغت کښ غم لرے کولو ته وائی: مختار الصّحاح ص۳۳۶ کښ راځی: سلاه مِنْ هٰذِهِ تَسْلِیَةً وَاسْلَاهُ: "چه تسلّی ئے ورکړه د غم د هغه نه به تسلّی ورکولو سره او غم ئے لرینه لرے کړو۔" مطلب دا چه کله مصائب راشی په مؤمنانو باندے او کفار تکذیب او استهزاء شروع کړی نو اللہ تعالیٰ نبی کریم ﷺ او مؤمنانو ته حکم کوی په صبر کولو سره او به تثبّت او مضبوطیا سره او جاده کوی دوی لره: لکه انعام ۱۰ کښ فرمائی: وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِیْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ یَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ او یقیناً ټوقے شوے دے په پیرو رسولانو پیسے مخکښ ستانه پس احاطه وکړه او یقیناً ټوقے شوے دے په پیرو رسولانو پیسے مخکښ ستانه پس احاطه وکړه په هغه کسانو چه مسخره ئے کولے به دوی پیسے عذاب د هغه چه به دوی پیسے

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مسخرے کولے۔" او سورۃ عنکبوت ملا مله کښ رازی، اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ۝ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ الخ: ایا گمان کوی خلق چه پرے به بنودے شی پدے چه وائی صونږه ایمان راوړے دے اوپه دوی به امتحان نشی کولے؟ یقیناً امتحان کړے وُو صونږه په هغه کسانو چه مخکښ ددوی نه وُو، پس بیل کړی وُو الله تعالیٰ هغه کسان چه رښتیا لے ویلی وُو او بیل کړی هغه کسان چه دروغژن وُو۔"

## د بشارت بیان

د بشارت (زیری) لفظ قرآن پاک سورۃ بقره ۲۵ اوپه سورۃ زمر ۱۸ کښ ذکر دے۔ راغب اصفهانی رحمۃ الله "مفردات" کښ فرمائی چه د خوشالئ خبرته بشارت او بُشریٰ ویلے کیږی: په بشارت مستقل سورتونه راغلی دی۔ او کله د دُنیا وی او کله د عُقبیٰ (اخرت) وی: د اُولنی مثال لکه سورۃ النصر شو، چه د فتحے او نصرت زیرے یکښ ذکر دے او د اخرت زیرے لکه ۲۵ بقره کښ دی: وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ: "او زیرے ورکړه هغه کسانو ته چه ایمان یے راوړے دے او عمله نه کوی نیك چه یقیناً دوی لره باغونه دی، بهیږی لاندے د هغونه وُلے:" "انعام الرحمٰن" کښ د دې واړو کلمو مثالونه ذکر شوی دی۔

## د بشارتِ برزخی بیان

څنګه چه د تخویفا تو په لړکښ د تخویف برزخی ذکر هم وُو نو دلته د بشارتِ برزخی ذکر مناسب کنړم: سورۃ ابراهیم ۲۷ کښ ارشاد دے: يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ "مضبوطوی الله تعالیٰ هغه کسانو لره چه ایمان یے راوړے په وینا مضبوط سره په ژوند د دُنیا کښ اوپه اخرت (قبر) کښ:" مفسرینو رحمهم الله فرمائیلی دی چه د فِي الْاٰخِرَةِ معنیٰ فِي الْقَبْرِ ده: انعام او الهام۔ او دے تفسیر کښ حوالے وګورئ:

**فائده:** داخبره قابله د ذکر ده چه برزخ او قبر د شرع په اصطلاح کښ نوم د هغه مکان دے چه د انسان رُوح ورته بوتلے شی او باقی دا خبره چه د جسم سره یے څنګه تعلق دے، د هغه په کیفیت یوالله پوهه او خبر دے:

## د رَبط القلب بیان

دا یُوه درجه ده چه د "ختم القلب" په مقابله کښ ده: یعنی څرنګ چه

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دَ بَد و عملونو په وجه دَ کافرانو په زړونو باندې مُهر لګیدی. همدغه شانے دَ مؤمنانو په زړونو دَ نبو عملونو په وجه رَبط راځی : دَ شیخ القرآن رحمہ اللہ په "العرفان منا" کښ منقول دی چه ربط القلب سکینه او اطمینان دے په زړونو دَ مؤمنانو باندې ، دَ پیندی شیخ رحمہ اللہ (ص ۱۲ ، ۱۵) کښ فرمائی چه دَ هدایت څلور مرتبے دی : اَثابت ، هدایت ، دَ کورنی رعد ۲۷ ، اَستقامت : دَ کورنی حٰمٓ سجدہ ۳۰ ، او رَبط القلب : دَ کورنی کهف ۱۴ ، دَ سورۃ کهف ایت کریمه داده ، وَرَبَطْنَا عَلٰی قُلُوْبِهِمْ اِذْ قَامُوْا فَقَالُوْا رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلٰهًا لَّقَدْ قُلْنَاۤ اِذًا شَطَطًا "اوپتی لکولے وه مونږ په زړونو دَ اصحابِ کهفو کله چه ودریدل دَ باچا دربار کښ نو وئے ویلے رَب زمونږ هغه رَب دَ اسمانونو او دَ زمکے دے ، هیڅوک نه رابلو سوا دَ هغه نه کار نه کاږو ، یقیناً اوبه وایو په دغه وخت کښ زیاته خبرے" انشاء اللہ تفصیل به ے تفسیر کښ کورئ ۔

تحریر شد در دارالحمد : قریب مسجد قبیں :
المدینۃ المنورۃ ، ۵ راگست ۲۰۰۷ء موافق
۲۲ رجب المرجب ۱۴۲۸ھ بوقت ۱۵/۱ بجے
پاکستانی وقت ۔

# یَوخوَ اَهم قَواعِد

دَ منکرینو او منقادینو دَ اَحوالونه بعد یَوخوَ اَهم مباحث او قواعد دَ فَهم دَ قرآنِ پاک دیاره ذکر کوم څنګه چه زمونږ شیوخو تقدیراً او تحریراً بیان کړی دی ، چه مبتدیانو او لوستونکوته بیا اسانی وی : وباللہِ التوفیق ۔

## ① التزهید فی الدُّنیا

یعنی بے رغبتی او بے توجهی په دُنیا کښ : قرآنِ پاک کښ هم دا مضمون ځائے په ځائے راځی حُکه چه دَ دُنیا محبت او دے لره په زړه کښ ځائے ورکول سبب دَ زوال دَ محبت دَ اللہ تعالیٰ دے او سبب دَ عذاب دے : دَ سورۃ "تکاثر" دعوی هم داده : سُورۃ کهف کښ خساست دَ دُنیا په دریو طریقو سره ذکر دے : دَ کورنی دَ ۴۵ نه : سُورۃ الزخرف ع ۳۲ ، ۳۳ ، ۳۵ کښ ارشاد دے :
وَلَوْلَاۤ اَنْ یَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ یَّكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ لِبُیُوْتِهِمْ

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ۝ وَلِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِئُوْنَ ۝ وَزُخْرُفًا ؕ وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَالْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِيْنَ ۝ "اوچدے داوبره نه وے چه خلق به ټول یوه ډله شی "په کفر باندې" نو خامخا گرزوو لی به وے مونږ هغه چاته چه کفر کوی په مهربان ذات دپاره ډکورونو ډډوی چتونه ډ سپینو زرو او پیړوی چه په هغو دوی خیژی او ډکورونو ډډوی دپاره دروازے اوکټونه چه په هغودی تکیه لګوی (او دا ټول به هو ورله کړنه وُلے وے) ډ سرونه : اونهٔ دی دغه ټول مګر څکه ډژوند ډدنیاوی ژوند او اخرت په نزد ډرب ستا دپاره ډ متقیانو دے ۔"

## ② الامثال

کله قرآن پاک کښ مثالونه دپاره ډوضاحت او پند او نصیحت حاصلولو ذکر کیږی : ډعربو مشهور مثال دے ، اَلْمَثَلُ بِلَامَثَلٍ كَالْفَرَسِ بِلَا لِجَامٍ وَّالنَّاقَةِ بِلَا زِمَامٍ "یعنی چه ډکوم شی دپاره مثال نه وی ، دا سے دے لکه چه ډ اَس دپاره لګام نه وی او ډ اُوښے دپاره جلب نه وی ۔" سورة عنکبوت ۴۳ "کښ فرمائی ، وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ وَمَا يَعْقِلُهَا اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ۝ "او دغه مثالونه بیانوو مونږ دغولره دپاره ډ فائدے ډ خلقو او نه پوهیږی په دغو مګر عالمان ۔" ډ شیخ القرآن رحمه الله ډ ارشاد مطابق چه ابن القیم رحمه الله فرمائی چه قرآن کښ څلور ګڼلو بیت مثالونه دی او شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه ډ اُوبو او ډ اُور مثالونه قرآن کښ ذکر دی ځکه چه اُوبه او اور بقدر ضرورت رحمت دے او چه ډحد نه زیات شی نو زحمت شی : یعنی مُفید هم دی او مُضِر هم ۔ ډ اُوبو مثال ۷ ۵ ۵۸ اعراف کښ، او ډ اُور مثال بقره ۱۷ کښ راوړان دی ۔

## ③ القصص فی القرآن

قرآن پاک کښ ډ انبیاء علیهم السلام او ډ نورو نیکانو رحمهم الله واقعات ذکر شوی دی او ډ هغوګڼو فوائد دی : دا ډ نورو قصو غوندے قصے نه وی دا دلائل نقلیه وی په مختلفو دعوو کانو بانډ : کله غیر مکرر وی او دا په ځائے خپل وی : او کله مکرر وی او تکرار کښ ئے هم ګڼو فوائد وی : مکرر واقعات سورة اعراف ، هود ، شعراء وغیره کښ وګورئ ، فوائد بیځے تفسیر کښ مطالعه کړئ : او غیر مکرر لکه واقعه ډ طالوت رحمه الله ، واقعه ډ اَصحاب کهف ، واقعه ډ خضر علیه السلام ، واقعه ډ ذوالقرنین رحمه الله ، واقعه ډ خسف ډ قارون لَعَنَهُ اللّٰه : او تفصیلی واقعه ډ یوسف علیه السلام شوه ۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## ④ اَلْاُمُوْرُ الْمُصْلِحَۃ

کلہ قرآن مجید کښ ترغیب ورکوی نیکو عملونو ته چه تائید کوی کښی وی دَ پارہ دَ مُبلغ او دفع کوونکی وی دَ هغه نه عذاب؛ او تسلی وی داعی دَ حق لره ۲ سُورَۃ عنکبوت ۴۵ کښ یس دَ عذاب دَ هلاک شُوو فرمونو نه ارشاد دے: اُتْلُ مَآ اُوْحِیَ اِلَیْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَ الْمُنْكَرِ ؕ ۱ "لولوه هغه چه وحی شوی ده کیږی تا ته دَ کتاب نه او قائمول ساتنه لره یقیناً مونځ منع کوی دَ بے حیاء او بدو کارونو نه." سُورَۃ الاسراء کښ دَ دفع دَ عذاب دَ پارہ درُے کارونه ذکر شوی دی: شرک مکوئ ۲۳ : دَ الله تعالیٰ مخلوق سره نیکی کوئ او دَ دے څخه ګور نمونے دی ۲۴ ظلم مکوئ : او دَ دے څخه ګور نمونے دَ ۳۸ نه ، تفسیر کښ راروان دی هلته ئے په غور سره مطالعه کړئ ۔

## ⑤ اَلْاِدْخَالُ الْاِلٰهِیّ

(یعنی مینځ کښ معترض کلام) دا په دوه قسمه دے : یو دا چه یو مضمون روان وی او بیا بل مضمون شروع شی ځکه چه اول مستلزم وی دَ دویم دَ پارہ او دیته تنویر او روشنائی اچول هم وائی : لکه سورۃ بقره ۱۹۵ کښ فرمائی: وَ اَنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَ لَا تُلْقُوْا بِاَیْدِیْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ "او پوره کړئ حج او عُمره دَ پارہ دَ رضا دَ الله تعالیٰ ، مخکښ ئے جهاد او انفاق فی سَبیل الله ذکر کړے دے، نو روستو حج او عمره دَ پارہ دَ تنویر ذکر کوی لکه چه "سمط الدرر" کښ شیخ القرآن رحمہ الله ذکر کړی دی او تفسیر کښ به راشی- او بل قسم دا دے چه یو مضمون روان وی نو مینځ کښ یو عبارت به طور دَ جمله معترضه راشی لکه سورۃ نمل ۴۴ کښ دَ بلقیس بیان شروع دے چه "باچایان کله کوم بنار ته داخل شی نو برباد وی ئے او کړ زوی عزتمند اهل دَ هغهٔ ذلیله" نو الله تعالیٰ دَ پارہ دَ تصدیق دَ قول دَ هغے وفرمایل : وَ كَذٰلِكَ یَفْعَلُوْنَ ۝ "او همدغه رنګ کوی دوی" الوسی رحمہ الله فرمائی (ص ۱۹۸ ج ۱۹) روح المعانی کښ چه دا تصدیق دے دَ الله پاک له طرفه نه بلقیس لره چه واقعی دغسے کوی ۔

## ⑥ اَلْاِنْدِمَاجُ

دَ دے مطلب دادے چه یو څائے کښ عبارت حَذف شوے وی او ذکر شوے عبارت پرے دلالت کوی: انشاء الله تعالیٰ تفسیر او ترجمه کښ به دَ دے نمونے

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



راځي: بطور مثال سورۃ بقرہ کښ ارشاد دے، مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا: دلته مثلهم جمع دے کومضاف الیه په وجه او کمثل الذی الخ مفرد دے معنے نه صحیح کیږی، څنګه توجیه کوم مفسر بن رحمه الله کوی، یوه توجیه شیخ المشائخ مولنا حسین علی رحمه الله کړے ده چه دلته اندماج دے: بیاد پنلوئ شیخ رحمه الله په "جواهر" کښ داعبارت لیکی، وَعِنْدَهُ رِجَالٌ أَحْوَجُ إِلَيْهِ او په خوا ده کښ سړی نور وی" اود پنجګیر شیخ القران رحمه الله به دوران درس کښ فرمایل: وَهٰذَا لَهُ رِجَالٌ قَاعِدُوْنَ: "او دغلته سړی ناست وی" دواړو مطلب یو راوځی ۔

(ختم شد نظر ثانی ۵ بجه سعودی وقت بعد از نماز عصر در مسجد نبوی مدینه منوره ۱۱ قریب دیوار قبله: ۶ اگست ۲۰۰۷ء موافق ۲۳ رجب المرجب ۱۴۲۸ھ، بعون الله وحسن توفیقه ۔)

## ⑦ د نسخ بیان

امام زرکشی رحمه الله په "البرهان" کښ لیکلی دی، قَالَ الْأَئِمَّةُ وَلَا يَجُوْزُ لِأَحَدٍ أَنْ يَفْسِرَ كِتَابَ اللهِ تعالٰی إِلَّا بَعْدَ أَنْ يَعْرِفَ مِنْهُ النَّاسِخَ وَالْمَنْسُوخَ: "چه امام نوویلی دی چه جائز نه دی هیڅوک ته چه تفسیر کوی د کتاب الله څخه مګر پس د هغه نه چه وپیژنی د دغه نه ناسخ او منسوخ لره." د نسخ معنی نسفی رحمه الله "مدارک ص۱۷ ج۱" کښ کړے ده: حاصل ئے راوړے چه په لغت کښ بدلولو ته وایی کیږی: او په شریعت کښ بیان د ختمیدو د مودے د حکم شرعی دے چه مطلق وی په طریقے د روستو الی سره کوم چه زمونږه وهمونو کښ همیشه وی: نو نسخ بدلول د حکم دی زمونږه په حق کښ او خالص بیان دے په حق د صاحب د شریعت کښ: یعنی مونږ نه بدلول ښکاری او شرع ورته هم دغه وقت مقرر کړے وی ختم شی، قرآن پاک مونږ بقره کښ راځی، مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا أَوْ مِثْلِهَا: "کچرے بدل کړو مونږ کوم آیت لره یا یې لکل پریږدو هغه لره نوراتله کوو مونږ په غوره د هغه نه اویا په مثل د هغه:" شاه ولی الله رحمه الله "الفوز الکبیر ص۲۲" کښ فرمائی چه بعض د سختو مواضعو نه په تفسیر کښ معرفت د ناسخ او د منسوخ دے او وجه د سختئ ئے اختلاف دے په اصطلاح د متقدمینو او متاخرینو کښ. بیا هغوی تفصیل لیکلے دے، حاصل ئے دا دے چه د متقدمینو علماؤ په نزد معمولی تبدیلئ ته هم نسخ وایی شی نو تقریباً د پنځه سوو نه زیات آیتونه ئے منسوخ منلی دی، امام سیوطی رحمه الله

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



په "اتقان" ص۲۲۳ ج۲ "کښ ۳۰ پورے منلی دی او شاه صاحب رحمه الله پنځو پورے منلی دی؛ وګورئ "الفوز الکبیر" : د نسخ څلورګ اقسام "انعام الرحمٰن" ص۲۳۳ کښ وګورئ : او تفسیر کښ د منسوخ ایتونو نشاندهی به راشی انشاء الله تعالیٰ ۔

## ⑧ اسبابُ النّزول

شاه صاحب رحمه الله واهم د سختو مواضعونه ذکر کړیدی او وجه د سختئ ئے واضحه کړے ده ؛ الفوز الکبیر او انعام الرحمٰن وګورئ : شاه صاحب رحمه الله اخبر کښ فرمائی : کوم تکلف چه خلق کړی د خاصو خاصو واقعاتو، د غولره هیڅ اعتبار نشته ، مګر بعض ایتونه چه تعریض پکښ شوے وی ویړے واقع ته د واقعاتونه چه موجوده شوے وی په زمانه د نبی علیه السلام کښ یا مخکښ د ده ے نه : اونه نازله کیږی هغه انتظار چه سامع ته پیښیږی مګر په تفصیل د دغے قصے سره ؛ احقر په تفسیر د سورة تحریم ، سورة ممتحنه وغیره کښ هم منشاء د نزول بنودلے ده ۔

## ⑨ اَلْمُحْکَمَاتُ وَالْمُتَشَابِهَات

د قرآن پاک څخه ایتونه محکمات اوځنے متشابهات دی لکه د سورة آل عمران مے ایت کښ ذکر دی ؛ علماء کرام فرمائی چه : متشابهات په دوه قسمه دی ، یو داچه نه ئے معنیٰ لغوی موږ ته معلومه وی اونه شرعی ؛ لکه د ۲۹ سورتونو سر کښ ټکی ټکی ، حروف مقطعات رازی : اوبل داسے چه لفظی معنیٰ ئے موږ ته معلومه وی اومعنیٰ مراد ئے الله تعالیٰ ته معلومه وی ؛ "وَمَا یَعْلَمُ تَاْوِیْلَهٗۤ اِلَّا اللّٰه" د پښکړئ شیخ رحمه الله "جواهر القرآن" ص۱۳۱ کښ د امام طحاوی رحمه الله په حواله لیکی : چه محکمات هغه دی چه اتفاق ئے په تاویل باندې شوے وی اومتشابهات هغه دی چه اختلاف ئے پر تاویل کښ وی ؛ نو لهذا د قرآن پاک د فهم د پاره د محکم او د متشابه پیژندل هم ضروری دی : انشاء الله تعالیٰ تفسیر کښ به نور بیان راشی ، منتظر اوسئ ۔

## ⑩ ترتیب مصحفی اونزولی ، یا مکّی اومدنی

پوهه شه چه د قرآن پاک ترتیب په دوه قسمه دے ؛ یو مصحفی لکه د سورة فاتحه نه شروع دے او په سورة الناس باندې ختم شویدے ؛ اوبل نزولی دے لکه اولنے سورة اقرأ دے او اخری سورة النصر دے ؛ دهر سورت په سر کښ ناڅیز دا دواړه خبرے لیکلی دی ، اودا هم ذکر شوی دی چه دا سورت مکی دے که مدنی دے ؛ مکی سورتونه ۸۶ دی اومدنی سورتونه ۲۸ دی ؛ په

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مکي سورتونو کښې زیات تر توحید، رسالت، صداقت، اخرت بیانوی، اومدني سورتونو کښې زیات ترجهاد، انفاق او احکام ذکر کوی۔

**فائده:** سیوطي رحمه الله په "الاتقان ص ۱۱۱ ج ۱" کښې دمکي اومدني سورتونو په بارہ کښې درے اصطلاح کانے ذکر کړې دی، خو مشهوره اصطلاح نے دا ذکر کړے وه چه مکي هغه دی چه د هجرت نه مخکښې نازل شوی دی اومدني هغه دی چه د هجرت نه پس نازل شوی دی۔

## ⑪ ترتیب د آیتونو او سورتونو

قرآن پاک کښې چه دا موجوده کوم ترتیب دے د آیتونو او سورتونو، دے په بارہ کښې الوسی رحمه الله "روح المعاني ص ۶ ج ۱" کښې فرمائی، هرچه ترتیب د آیتونو دے چه دا توقیفي دے، په دیکښې څه شبهه نشته: حتی نقل جمع منهم الزرکشي و ابوجعفر الاجماع علیه من غیر خلاف بین المسلمین والنصوص متظافرة علی ذلك، "نږدے چه نقل کړے یو جماعت چه د هغوی نه زرکشي او ابوجعفر دی اجماع په دے باندې په غیر د خلاف نه په مابین د مسلمانانو کښې او نصوص د یوبل امداد کوونکی دی په دے باندې" او هرچه ترتیب د سورتونو دے نو دا اجتهادي دے او که توقیفي دے، فالجمهور علی الثاني: نو جمهور علماء په دویمه خبره دی: أحقر سورة توبه کښې دے مسئلے ته اشاره کړے ده۔

## ⑫ علوم د قرآن مجید

قرآن پاک یو جامع کتاب دے او د دنیا او د اخرت د هدایت او د نجات علوم یکښې راجمع دی: یو سالك رحمه الله فرمائی:

جمیع العلم في القرآن ولکن ✤ تقاصر عنه أفهام الرجال

زرکشي رحمه الله د ابن العربي رحمه الله په حواله لیکی چه علوم د قرآن (۷۷۴۵۰) اووه اویا زره څلور سوه پنځوس دی او بیا لیکی چه علوم د قرآن درے قسمه دی: توحید، تذکیر، احکام (برهان ص ۶ ج ۱) دغه رنګه "العرفان" کښې دی ص ۱۱۸: انشاء الله ځی تفسیر کښې د دعوو ذکر کولو په وقت به دے اقسامو ته اشاره کولے شی۔

## ⑬ مناسبت د آیتونو او د سورتونو

زمونږه د شیوخو رحمهم الله طرز او طریقه دا ده چه د هر سورة د ما قبل سره ربط او مناسبت ذکر کوی حکه چه قرآن پاک یو فصیح، بلیغ، مرتبط،

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۝۶۹ يٰٓاَهْلَ
نشي ګمراه کولے ، مګر خپل ځانونه ، او نه پوهیږي دوی . اے
الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ۝۷۰
کتاب والو! ولے کفر کوئ کئ سے په آیتونو د الله ، او تاسے ګواهي کوئ .
يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوْنَ
اے کتاب والو! ولے ګډوډ کوئ په خلقو حق لږکه ، د باطل سره ، او ولے پټوئ
الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝۷۱ وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ
حق لږکه ، او تاسے پوهیږئ . او وائی یوه ډله د اهل کتابو
الْكِتٰبِ اٰمِنُوْا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَجْهَ
ځان سره چې ایمان راوړئ په هغه چې نازل شوے په هغه کسانو چې ایمان یې راوړے دے په اول سر
النَّهَارِ وَاكْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ۝۷۲ وَلَا
ورځ کښې او کفر وکړئ په اخر سر د ورځ کښې دپاره د دې چې دوی واپس شي .
تُؤْمِنُوْٓا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ ۭ قُلْ اِنَّ الْهُدٰى
مني دهغه چا نه مګر د هغه چا په تابع وي ستاسے د دین ، دوایه یقیناً - هدایت
هُدَى اللّٰهِ اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ مِّثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ اَوْ
هدایت د الله دے ایا ورکولے شي یو کس ته په مثل د هغه چې درکړے شوے تاسے
يُحَاۗجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ ۭ قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ
او دې تاسو به وکړي تاسے سره په نزد د رب ستاسے ، وواید یقیناً ، فضل په لاس د الله کښ دے
يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝۷۳ يَّخْتَصُّ
ورکوي دے چا ته چې هغه خوښ شي ، او الله فراخیدونکے پوهه کے ، خاص کوي
بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝۷۴
رحمت خپله هغه چا سره چې خوښ شي ، او الله خاوند د فضل لوئے دے .

لِمَ تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ ، بقره ۴۲ کورئ . شیخ القرآن رحمہ اللہ به فرمایل : ولے کښې وئ یې د حق سره باطل ، پیښې به د کوږې پرې محمد مجتبیٰ سره او ولے کښې وئ یې د محمد سره ابوجهل ، الوسی رحمہ اللہ لیکلی دی چې ۱۲ کښ چې اتفاق وکړو دوولسو کسانو ورهور د خیبر اوه کلو د عربانه او بعضو بعضو ته ووایل چې داخل شئ په دین د محمد کښې په اول سهار کښې او بیا بې نظره کړئ او بیا خپلو خپلو اومشورې سره وکړئ غالباً نو خپلو سره ، پس بیا موسونه محمد لږکه چې پیغمبر نه دے او هغوئ ته ولے دروغ اوبطلان د دین پښکاره شو . پس کله چې دا وکړي نو شك مند به شي ملګري د دې او اوبه وائي چې دوی د کتاب والا دی او دوی نسبۍ پوهه دی په دې باندې پس واپس به شي د دین خپل نه ستاسے دین ته . اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ : دلته همزه د انکار پرته دے . اَوْ يُحَاۗجُّوْكُمْ پرے عطف دے . معنی دا شوه ، ایا ورکولے شي یوتن ته ستاسے غوندے کتاب او یا به جګړه وکړي تاسے سره . یعنی نشي ورکیدے او نه دوسره جګړه کولے شي په دربار د رب ستاسے کښ . کورئ جواهر ۱۶ شیخ القرآن رحمہ اللہ به فرمایل چې قُلْ اِنَّ الْهُدٰى هُدَى اللّٰهِ د اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ جواب دے او قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ د اَوْ يُحَاۗجُّوْكُمْ جواب دے . خو اِنَّ الْهُدٰى ئے مخکښې ذکر کړه د دپاره د ځلیدو دوهم په دا دواړه به د اَوْ يُحَاۗجُّوْكُمْ سره لګی . (عقد المرجان صـ قلمی)

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وَمِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُّؤَدِّهٖٓ
او بعض د اهل کتابو نه، هغه خو ئې دی چه امانت ورکړه هغه ته پورې د ډیر مال نو ادا به
اِلَيْكَ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِدِيْنَارٍ لَّا يُؤَدِّهٖٓ
کړی تا ته، او بعض دوی نه هغه خو ئې دی چه که امانت ورکړې ورته یو دینار نو هم نه ادا کوی
اِلَيْكَ اِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ
تا ته، مګر چه هیښ ولاړ وی د هغه په (خوا) کښ ولاړ، دا به وی چه یقیناً دوی
قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ
وائی نشته په مونږ باندې په مال اختلو د امیانو کښ څه ګناه، او وائی
عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۝ بَلٰى مَنْ اَوْفٰى
په الله تعالیٰ دروغ، او دوی پوهیږی - ولې نه چا چه پوره اوله وکړه
بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝ اِنَّ
په لوفا خپل او وویرېده د الله نه، پس یقیناً الله ښه ساتی د دا سې متقیانو سره - یقیناً
الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَاَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا
هغه کسان چه اخلی، په لوظ د الله تعالیٰ، او په قسمونو خپلو، قیمت
قَلِيْلًا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ وَلَا
لږ، دغه کسان، نشته برخه دوی لره، په آخرت کښ او خبرې به
يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
ورسره وکړی الله تعالیٰ، او ونه ګوری دوی ته، په ورځ د قیامت،
وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۠ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ وَاِنَّ مِنْهُمْ
او پاک به نه کړی دوی لره، او دوی لره عذاب دردناک دے - او یقیناً بعض د دوی نه
لَفَرِيْقًا يَّلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتٰبِ لِتَحْسَبُوْهُ
خامخا یو ډله دوی چه اړوی، ژبې خپلې، په کتاب سره، چه تاسې خیال وکړئ په هغه
مِنَ الْكِتٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتٰبِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ
د کتاب د الله تعالیٰ نه، او نه وی هغه د کتاب د الله تعالیٰ نه، او وائی

منزل ۱

لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ:
چه نشته په مونږ باندې په مال اختلو د امیانو کښ څه ګناه - اوس هم وائی:
مال مړوی بخوره د غازی - چه د مړو ذیانو مال غازیان خوری.
ابن کثیر رحمہ اللہ فرمائی په دې ۳ کښ چه یقیناً دوی باعثه کړیدی په انکار د حق باندې (سره د خبرې) چه دوی وائی نشته په مونږ باندې په دین زمونږ کښ څه ګناه په خوړلو د مال د امیانو چه عرب دی پس یقیناً مونږ ته لره ئې حلال کړیدی -
بَلٰى: دائے جواب دے -
اِنَّ الَّذِيْنَ: په دې کښ ورته تخویف دے په پنځه طریقو سره - سورۃ بقرہ ۱۷۴ هم وګورئ: وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ: او خبرې به ورسره د ذکر حمت ونکړی بلکه وائی به چه سپو! کوم شی په دوزخ کښې - وګورئ سورۃ مؤمنون ۱۰۸.
يَلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ: چه اړوی ژبې خپلې په کتاب د الله تعالیٰ سره یعنی تحریف کوی -
(ابن کثیر ص ۱۷۶ ج ۱) ✤

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَ
دا د طرفه د الله نه ښودے، اونه دوی د خپله طرفه د الله ګڼي نه، او
يَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۸﴾
وائي، په الله تهمتونه دروغ، او دوی پوهیږي.
مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّؤْتِيَهُ اللّٰهُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ
نه دی مناسب ټیټوونکو ته چې ورکړي هغه ته الله کتاب، او پوهه، او
وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُوْلَ لِلنَّاسِ كُوْنُوْا عِبَادًا لِّيْ
او پیغمبري بیا وائي خلقونه، شئ بندګان ګوڅکي مالره:
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ بِمَا كُنْتُمْ
سوا د الله ته نه، اولاکن (وائي) شئ تاسے خدائي خلق په سبب د هغه چه
تُعَلِّمُوْنَ الْكِتٰبَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَلَا
ښودے ګوڅکي خلقونه د کتاب او په سبب د هغه چه یاسئ چه ایزده کړه درس کوئ تاسے. او
يَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا ؕ
امر کوی تاسے الله ته چه ونیسئ: ملایکه، او نبیان ﷺ خدایان (او بندګان حقداران)
اَيَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۰﴾
ایا امر کوی تاسے ته په کفر، پس د هغه نه چه تاسے مسلمانان یئ.
وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ
او کله چه واخسته الله ﷻ مضبوط وعده د نبیانو نه، چه هغه درکوم تاسوته،
مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ
د کتاب او پوهے د دین نه، بیا راشی تاسے ته: رسول ﷺ،
مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ ؕ
رښتونے کوونکے د هغه چه تاسے سره دی ناغلے ایمان به راوړئ تاسے هغه او ضامن به شئ
قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ وَاَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِيْ ؕ
اوویل الله ایا اقرار وکړ تاسے او ومنیوله په دے شرط باندے، وعده ما،



ما كَانَ لِبَشَرٍ: علامه خازن رحمه الله په ص۲۵ کښ لیکلی دی چه ویلے شویدی چه نصارا او د نجران ویل چه یقیناً عیسیٰ علیه السلام دوی ته امر کړے دے چه دوی له رب ونیسئ نو الله ﷻ پرے رد وکړه الخ. او تفسیر جواهر ص۱۶۳ معارف ص۱۹۵، عثمانی ص۱۰۱، ابوالسعود ص۵۲ ضم وکورئ (البرهان الرحمٰن ص۱۰۲)

د فقیر وائی چه دوبیره جاهلانو عقیده وه چه فلانی بابا وصیت کړے دے چه په چا فلانے مرض راغلو او مالره رانغے او مړ شو نو خون ئے پخپله غاړه (اسیدونه شته) داخو د قرنګیانو عقیده وه.

سورة انبیاء ص۱۰۸ ضم وکورئ.

كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ: چه شئ حکیمان عالمان حلیمان. (ابن کثیر ص۳۶۴)

تُعَلِّمُوْنَ الْكِتٰبَ: چه نور وته ایزده کړه کوی او په سبب د دے چه څه ئے له درسونه کوی —

علامه نسفی رحمه الله لیکلی دی چه دا آیت کاڼی دلیل دے په بربادی د کوشش دهغه چا چه محنت کښ نفس اچولی وی او روح ئے ستړے کړے وی په جمع کولو د علم کښ او بیا ئے ذریعه د عمل او نه کولو د وی. (مدارک ۱۶۶ اول) اَرْبَابًا: خدایان یا لونکی، د عبادت او بندګئ حقداران. حکمه چه رب خو صرف یو الله ﷻ دے. فائده وکورئ ص۱۰۱ او ص۱۰۲ یوسف. وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ ع۸: او کله چه واخسته الله ﷻ مضبوطه وعده د نبیانو نه. دلته سوال راځی چه د اُمتیانو نه نو د وعدے اخستلو ذکر نشته نو بیا په روستو آیتونو کښ ورله ولے ژمنه وړکوی؟ نو تفسیر جلالین ص۵۵ کښ جواب کوی چه اُمتونه د نبیانو نو تابع دی د دی لړه په دے لوظ اخستلو کښ.

او تفسیر زاد المسیر ص۳۵۰ کښ جواب کوی چه بعض اهل علمو ویلی دی چه لوظ ئے د نبیانو او اُمتونو نه اخستے وو خو التفات ئے وکړه په ذکر د نبیانو باندے د دې د اُمتونو نه حکمه چه په اخستلو د وعدے کښ د متبوع نه دلالت دے په اخستلو د وعدے د تابع نه. او دا معنیٰ د قول د ابن عباس رضی الله عنه او زجاج رحمه الله دہ ۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

فَمَنْ تَوَلّٰی: پس څوك چه وګرزیدهٔ پس ورځه نه، پس دغه ګسان یقیناً ظالمان دی. "تفسیر قرطبی ص۲۱۵ ج۴" کښ دی پس څوك چه وګرزیدهٔ د امتونو د نبیانو نه د ایمان نه، پس د اختلاو د لوټانه.



قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوْا وَاَنَا مَعَكُمْ مِّنَ
ویل دوی اقرار موږکړو، وفرمایل الله پس ګواه شئ، او زهٔ له تاسے سره د
الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۱﴾ فَمَنْ تَوَلّٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ
ګواهانو ګوانکونه یم. پس هغه څوك چه وګرزیدهٔ پس ورځه نه، پس دغه ګسان
هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۸۲﴾ اَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ يَبْغُوْنَ وَ
یقیناً فاسقان دی. "ایا پخپر د دین د الله تعالیٰ نه، لټوی دوی، او خاص
لَهٗٓ اَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا
الله لره تابع شوی هغه چه په آسمانونو کښ دی، او زمکه کښ دی، په خوښئ
وَّكَرْهًا وَّاِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿۸۳﴾ قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَ
او په ناخوښئ، او خاص الله ته به واپس کړے شي دوی. او وایه موږ ایمان راوړے په الله تعالیٰ او
مَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَ
په هغه چه نازل شوی دی په موږ او په هغه چه نازل شوی دی په ابراهیم ع، او په
اِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ
اسمٰعیل ع: او په اسحٰق ع او په یعقوب ع: او په اولادهغه، او هغه چه ورکړے شوی
مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۪ لَا
موسیٰ ع، او عیسیٰ ع، او نورو نبیانو ته، د ربّ هغوی نه، جدا
نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۫ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۸۴﴾
نکوو، په منځ د یو کس، د دوی نه، او موږ د الله تعالیٰ تابعداریو.
وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ
او څوك چه لټوی غیر د اسلام نه، بل دین، پس هیڅوړے به قبول کړے شی
مِنْهُ ۚ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۸۵﴾ كَيْفَ
د هغه نه، او دے به په آخرت کښ د تاوان کوونکو نه وی. څنګه به
يَهْدِي اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ وَ
هدایت وکړی الله تعالیٰ هغه قوم ته چه کفر وکړے پس د ایمان خپل نه، او

منزل

راوړهٔ او توبه ئے وکړه نو بیا خوئے توفیق ورکړهٔ دوی ته د هدایت. ص۱۲۹ ج۴، ص۱۳۰ ج۴

اَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ: ایا پخپر د دین د الله تعالیٰ نه لټوی دوی بل دین لره. دا زجر دے. قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ: په دیکښ بیان د دین د الله تعالیٰ دے او ترغیب دے. سورة بقره ع۱۳۶ هم وګورئ.

لَا نُفَرِّقُ: جدا ئی نکوو په منځ د یوکس د دوی کښ په تصدیق او تکذیب کښ چه بعض باندے ایمان راوړو او په بعضو نه ۔ بلکه ټول منو. وګورئ "روح المعانی ص۲۱۵ ج۳" او سورة نساء ع۱۸ کښ ئے وضاحت شوے دے. ع۱۳۶ بقره هم وګورئ.

وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ: څوك چه ولټوی غیر د اسلام نه بل دین (قانون). "الوسی رحمہ اللہ ص۲۱۶ ج۳" کښ لیکی چه دا نفی کوی قبول والے د هغو دینونو چه مخالف (ضد) وی د دین اسلام نه. کَيْفَ يَهْدِي اللّٰهُ: امام قرطبی رحمہ اللہ په دفع د سوال کښ دا سے فرمائیلی دی چه معنیٰ ئے داده چه الله تعالیٰ دوی ته هدایت نکوی تر څو پورے چه تهینك ولاړ دی په کفر خپل: او ظلم خپل: او کجرے اسلام ئے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



شَهِدُوْٓا اَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّجَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ؕ
گواهی کړی، چې یقیناً رسول حق دے، اوراغلی دوی ته بنهاره دلیلونه،
وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۶﴾ اُولٰٓئِكَ
او الله ﷻ هدایت نکوی قوم ظالمانو ته۔ دغه کسان
جَزَآؤُهُمْ اَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ
بدله ورکوی دا ده چې یقیناً په دوی باندې لعنت د الله ﷻ، او د ملایکو، او د خلقو
اَجْمَعِيْنَ ﴿۸۷﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ
ټولو دے۔ همیشه به وي دوی په هغه کښ، سپک به نکړے شي دوی څخه عذاب
وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۸۸﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ بَعْدِ
اونه به دوی ته مهلت ورکولے شي: مګر هغه کسان چې توبه وکړي، پس ورسره
ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۸۹﴾ اِنَّ
نه، اوښه عمل وکړي، پس یقیناً الله ﷻ بخښونکے مهربانه دے۔ یقیناً
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا
هغه کسان چې کفر کړے پس د ایمان خپل نه، بیا زیات کړی کفر لره،
لَّنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الضَّآلُّوْنَ ﴿۹۰﴾
هیڅرے به قبول نشي توبه د دوی، او دغه کسان هم دوی ګمراهان دي۔
اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ
یقیناً هغه کسان چې کفر کړے، او مړه شي، او دوی وي کافران،
فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْ اَحَدِهِمْ مِّلْءُ الْاَرْضِ
پس هیڅرے به قبول نکړے شي د هیڅ یو د دوی نه، د ډکوالے د زمکے
ذَهَبًا وَّلَوِ افْتَدٰى بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ
د سرو زرو نه، اګرکه فدیه ورکړي به د هغه سره، دغه کسان خاص دوی لره عذاب
اَلِيْمٌ وَّمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۹۱﴾
دردناک دے او نشته د دوی مدګار، څوک امداد ورکولے شي =

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا: په دې آیت کښ د ډیرو عالمانو نوټ کړی دی او وړاندې شرطونه یې کښ دي۔
لَنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ: هیڅرے به قبول نشي توبه د دوی۔ ابوبکر رازی رحمہ اللہ په دغه سوال کښ دوه درے جوابونه کړي دي اخری جواب ئے دا دے فرمائی چې هیڅرے به قبول نشي توبه د دوی په وخت د حاضرو والی د مرګ کښ۔ (مسائل ص۳۳ د کورنۍ ۹۰ یونس، ۱۵۸ انعام، ۸۵ مؤمن)
فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْ اَحَدِهِمْ، تائید کښ سورۃ بقرہ ۲۸۱ زمر ۴۷ د کورنۍ۔ دیکښ تخویف دے۔ فائدہ شیخ القرآن رحمہ اللہ په سمط الدرر ص۲۵ کښ د اهلِ کتابو د قبا حتونو او شبهو ذکر کولو نه پس لیکلی دی "کچرے ته سوچ وکړے نو بیا به موږ د اجیلے او شیخے نن ورځے په ناکاره عالمانو کښ برابر سرابر"۔

(چهارشنبه د ګل ۲۷ صفر المظفر ۱۴۲۷ھ، ۲۷ مارچ ۲۰۰۶ء)
توحید آباد ترخو باجوړ۔
نظر ثانی ختم شد بشب چهارشنبه ۱۹ شعبان المعظم ۱۴۲۷ھ مطابق ۱۳ ستمبر ۲۰۰۶ء بمقام مذکورہ بالا۔ نظر ثانی شده برائے تصحیح بعد از کتابت بتکاب صاحب بمقام باڅوړائی مسجد درسِ نظامی العلوم جناب مولوی محمد رشید صاحب بمورخه ۲۸ مارچ ۲۰۰۷ء - ۹ ربیع الاول ۱۴۲۸ھ فقط واللہ تعالیٰ د باقی لیکلو او چاپ کولو توفیق سم راکړی۔ ناکاره فقیر

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ ۔ هیڅوے به ونه رسیږی حقیقت ونیکئی ته اوٻا هیڅوے به نفی یکان اوٻا هیڅوے به حاصله نکړی نیکی د الله تعټ به ثواب ونیکئی وښه ۔ (مدارک ۱/۲۲۹) (تفسیر القرآن رحمه الله) فرمائی چه ثواب غیب ئے ورکړو انفاق ته اوبه رغبتی ئے ورکړه د مالونو نه ګله د مالونو نه اړول کوی د دین نه اودے وجے نه بے لارے شوی وُو یهود اوتحریف ئے کړے وُو به دین خپل کښ۔ (سمط الدرر رحمه الله) جناب څښتی صاحب رحمه الله به معارف کښ د وجه نه د صحابه کرامو اوقات ذکر کړیدی چه هغوی به محبوب مالونه خرڅ کول ۔ یه صفت کښ فرمائی چه فانتوسامان او د حاجت نه زیاتی شیونه د الله په لاره کښ خرڅ کول هم د ثواب نه خالی نه دی ۔ د آیت اخری حصه یرے دلیل دے ۔ کُلُّ الطَّعَامِ ۔ دلته د هغوی د یارلسم قباحت دے ۔ علامه خازن رح په ۲۵ کښ لیکلی دی چه سبب د نزول دوے آیت دادے چه یهودو نبی علیه السلام ته ووسیل چه ته خیال کوے چه ته به ملت د ابراهیم علیه السلام باندے ئے او هغه به د اوښانو غوښه او د هغوی شوربا نه خوړل او ته ئے خوړے نو ته د هغه به دین نه ئے ۔ نو نبی علیه السلام ورته وفرمائیل چه د احلال او د هغه د یارلسو ۔ مراد د طعام نه متناع فیه دی یه کوم کښ چه نزاع وه ، ورنه څنے د محکمی نه حرام وُو لکه مُردار او وینه ۔ (مدارک ۱/۲۲۹) اِلَّا مَا حَرَّمَ اِسْرَآءِیْلُ ۔ منکر هغه چه منع کړی وُو یعقوب به محان خپل ۔ حرام دلته یعنی د منع دے ۔ وګورئ ۱۲ قصص ۔ مفسرینو رحمهم الله لیکلی دی چه یعقوب علیه السلام د عرق النساء د یوے بیماری به وجه د طبیبانو به مشوره د اُونٹ غوښه نه خوښه اودوے نه ئے پرهیز کولو او د پرهیز محض د بیماری به وجه وُو ۔ نه د حرمت شرعی به وجه ۔ وګورئ ۱۲ جواهر ص۱۶۵ ، کشاف ص۳۱۶ ، ابو السعود ص۵۲ ، ماجدی ص۱۴۵ ۔ اِنَّ اَوَّلَ بَیْتٍ ۔ د اے خوارلسم قباحت اوشپږ د اچه زمونږ قبله ستاسے د قبلے نه مخکښ ده ۔ نو د اجواب راغلو ۔ د مفسرینو رحمهم الله دلته دوه قوله دی یو د اچه د اولنی اباده ده ۔ دویم د اچه اولنی عباد تخانه ده ۔ امام رازی رحمه الله اولنے قول



لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۚ وَمَا
هیڅوے به حاصله نکړی نیکی ، تر دے چه خرڅ وکړی ګوهغه څه چه تاسے ډیر ګران ګڼئی او
تُنْفِقُوْا مِنْ شَیْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِیْمٌ ﴿۹۲﴾ كُلُّ
چه خرڅ کوی څه شے ، پس یقیناً الله به پرے پوهه دے ۔ ټول
الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ اِلَّا مَا حَرَّمَ
طعامونه (چه دوی به خان حرام کړی وُو) وُو حلال د بنی اسرائیلو دپاره ، مګر هغه چه منع کړی وُو
اِسْرَآءِیْلُ عَلٰى نَفْسِهٖ مِنْ قَبْلِ اَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرٰىةُ
بنی اسرائیل (یعقوب) په خان خپل ، مخکښ د نازلیدو د تورات نه ،
قُلْ فَاْتُوْا بِالتَّوْرٰىةِ فَاتْلُوْهَآ اِنْ كُنْتُمْ
وواید پس راوړئ تورات ، پس د لولئ هغه کښے یاستئ ستے
صٰدِقِیْنَ ﴿۹۳﴾ فَمَنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ
ریښتونی وویناء پس چا چه وتړل ، په الله تعټ باندے دروغ ،
مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۹۴﴾ قُلْ
پس د دے نه ، پس دغه کسان هم دوی ظلم کونکی دی ۔ ووایه
صَدَقَ اللّٰهُ ۗ فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ حَنِیْفًا ۭ وَمَا
ریښتیا وویل دی الله تعټ پس تابعداری وکړی د دین د ابراهیم چه مائل وُو د باطلو اوښه
كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿۹۵﴾ اِنَّ اَوَّلَ بَیْتٍ وُّضِعَ
وُو د شرک کوونکو نه ۔ یقیناً اولنے کور چه جوړ شوے (مقرر شوے) وُو
لِلنَّاسِ لَلَّذِیْ بِبَكَّةَ مُبٰرَكًا وَّهُدًى لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿۹۶﴾
د پاره د خلقو ، هغه ورهه ده چه مکه کښ ده ، د برکت نه ډک شوے او هدایت د د پاره د خلقو ۔
فِیْهِ اٰیٰتٌۢ بَیِّنٰتٌ مَّقَامُ اِبْرٰهِیْمَ ۚ وَمَنْ
دیکښ نښے واضحے دی (جمله تفسیریه ده د آیت د) د ابراهیم ؑ دے ، او څوک چه
دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ۭ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ
داخل شو دغه ته ، شو د امن والا ، او خاص د الله د پاره به خلقو باندے حج د

منزل

۱۲ ع ۱۲ ۱۲ ۱۲

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

قول فورہ کوی (کبیر ص۱۲۳) اوحافظ ابن کثیر رحمہ اللہ پہ ص۳۸۵ کښ دویم قول خورہ کړی او ځکه یې ورته وائی۔ دوی ګ علی رضی اللہ عنہ پہ نقل فرمائی چه کوتے محکمې وے نور اولنی کوتہ وه چه جمهور پرې شوے وه دیاره وعباد د اللہ تعالیٰ۔ ښکاره: داوډ ته مکړے نوم دے۔ حافظ ابن کثیر رحمہ اللہ پہ ص۳۸۵ کښ تقریباً شل نومونه وګڼلے



دیاره ذکر کړیدی او بکّة ورته ځکه وائی چه ظالمانو اوجابرو څخه نه ډیله اوعاجزه کوی او وبلے شی چه «بیتِ خلق از دحام کوی۔ باری تعالیٰ شپږ خصوصیتونه او فضیلتونه ذکر کوی۔ مقام ابراهیم تائید دیاره د سورۂ بقره ص۱۲۵ وګورئ۔

د عَنِ کُفرٍ: اوچه چه کفر وکړو ابن کثیر پہ ص۳۸۵ د ابن عباس او د مجاهد او د نورو پہ روایت لیکی چه څوک منکر شی د فرضیت د حج نه۔ الوسکی فرمائی پہ ص۱۲۳ کښ چه معنی ئے «داوه چه حج ئے ونکړو او کفر ئے ورته تغلیظاً اوتشدیداً وبللے دی او مفتی صاحب رحمہ اللہ ص۱۲۲ کښ ګیو توجیه دا ذکر کړے ده چه د کافرانو غوندے عمل کښ مبتلا دے پہ آیت ص۹۵ م۹۵ کښ زور ئے دی۔ ت کښ منع ده د تابعدارئ د اهل کتابو نه۔ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ ۱۰۰: د ترمیمه حصه شروع شوه۔ د اخصمیه جهاد او انفاق کښ دے۔ څلورم پاره نه اول ترم۱۲۹ پورے۔ اللہ تعالیٰ د جماعت د جوړولو دیاره یو څو اصول ذکر کړیدی (۱) چه جماعت به په یوه عقیده وی ت۱۰۲۔ (۲) قانون به ئے قرآن وی ت۱۰۳۔ (۳) آلکان به داعین وی ت۱۰۴۔ (۴) مال به ګڼلے وی پہ جماعت ص۱۱۵۔ (۵) ټول اصل دے دیاره د حفاظت پہ ص۱۱۸ م۱۱۹ کښ۔

حَقَّ تُقٰتِهٖ: زنوټ: د ص۹۵ سره متعلق دے۔ پہ حقے ویرے سره۔ شاه ولی اللہ رحمہ اللہ فرمائی چه ویرېدی پہ شرک کولو کښ اوپہ هغه کښ چه رجعت ئے اعتقاداً ونه کړی۔ (الفوز الکبیر ص۲۷) سورۂ تغابن هم وګورئ ت۔ بِحَبْلِ اللّٰهِ: عام مفسرین رحمهم اللہ فرمائی او مننګلے ونګړی پہ قرآن پاتو۔ وګورئ ص۳۶ ر۱۰۳



Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

۱۰ ۱۲/۴ روح المعانی، ۱۵۹/۲ قرطبی، ۱۵/۱ التسہیل، ۲۱/۲ ابن جریر، ۱۲۰/۱ جواہر، ۱۴۳/۱ مدارک، منہ الہام الرحمان۔ "یہ ۱۳ کہ ۲ صحابہ کرامو دڈو منتبنونہ ذکر کړیدی۔ یو دا چہ ورونہ ورونہ شو، دوئیم دا چہ د جہنم

لمن تبنا اولا ۴ — ۹۹ — آل عمران ۳

حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۲﴾

پہ حق ویرے سرہ، اومړ شئ تاسو خو، مگر یہ داسے حال کښ چہ تاسے مسلمانان یاستئ۔

وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا

او منګلے ولګوئ پہ رسی - د اللہ تعالیٰ خوئندہ، او مه جدا کیږئ دوئ نه،

وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً

او یاد کړئ، نعمت، د اللہ تعالیٰ چہ پہ تاسے یاندے، کله چہ وئ تاسے دښمنان،

فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖٓ اِخْوَانًا ۚ

پس مینځ ورایکولہ پہ مینځ د زړونو ستاسے کښ، پس وګرزیدئ پہ نعمت د اللہ تعالیٰ، ورونه،

وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا ۗ

او وئ تاسے پہ غاړہ د ډوبولکی - د اور، پس خلاص یې کړ تاسے لره د هغه نه،

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾

دغه رنګ، بیانوی، الله تعالیٰ تاسے ته آیتونه خپل د دې چې تاسے هدایت ومومئ

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَ

وئ دستاسے نه، یوه ډله چې بلنه کوئ، خیر طرفته، او

يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ۭ

امر کوئ - په ښو باندې، او منع کوئ، د بد و نه،

وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا

او دغه کسان، خاص دوئ کامیاب دي - او مه کیږئ

كَالَّذِيْنَ تَفَرَّقُوْا وَاخْتَلَفُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا

پشان د هغه کسانو چې جدا شوي او اختلاف ئې کړیدے پس د هغه نه چې

جَاۗءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ عَذَابٌ

راغلے وئ دوی ته، واضح دلیلونه، او دغه کسان لره دوئ عذاب

عَظِيْمٌ ﴿۱۰۵﴾ يَّوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ

لوئے دے۔ کله چې سپین شي مخونه، او تور شي مخونه،

منزل

يَوْمَ تَبْيَضُّ: کله چې سپین شي مخونه او تور شي مخونه۔ مفسرین رحمہم اللہ فرمائی چې سپین به وي مخونه د اهل سنت او جماعت او تور به وي مخونه د اهل بدعت او فرقت۔ (ابن کثیر ص۳۲۹ ج۱، قرطبی ص۱۴۲ ج۴، معارف ص۱۴۲ ج۲، تفسیر الرحمان ص۱۴۶) ✤

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُم بَعْدَ

پس هغه کسان چه — نو ترشی مخونه ځکه دوی (وبه وایی شی دوی) ایا کفر مو کړے دے وروسته

إِيمَانِكُمْ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿١٠٦﴾

ایمان ستاسے نه، پس وڅکئی — عذاب: په سبب د هغه چه تاسے کفر مو کولو

وَأَمَّا الَّذِينَ ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ

او هغه کسان چه — سپین شی — مخونه ځکه دوی پس دوی به په رحمت د الله کښ وی

هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١٠٧﴾ تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا

دوی به په دیکن هیشه پاتے کیدونکی وی - دغه ایتونه د الله ځکه دی، چه لولو مو لے

عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۗ وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعَالَمِينَ ﴿١٠٨﴾

پتاسه نو، په حقه سره، او نه دی الله چه ارادې وکړي ظلم به مخلوق تو باندې.

وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَإِلَى اللَّهِ

او خاص د الله دے هغه څه چه په اسمانونو کښ دی، او هغه څه چه په ځمکه کښ دی، او خاص الله ته

تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿١٠٩﴾ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ

واپس کولے شی ټول کارونه - ریاستی تاسے غوره ډله چه راوپیدل شوی وه د پاره د خلقو

تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَ

امر به کوئ تاسے: په نیکئی سره، او منع به کوئ تاسو د بدئ نه، او

تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ۗ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ

ایمان به راوړئ په الله تعالیٰ، او که چیرے ایمان راوړے وے اهل کتاب نو، نو خامخا وے به

خَيْرًا لَّهُم ۚ مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ

غوره د دوی لره، بعض د دوی مؤمنان دی، او زیات د دوی نه

الْفَاسِقُونَ ﴿١١٠﴾ لَن يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى ۖ وَإِن

فاسق کافران دی - هیڅوک ضرر نشی رسولے تاسے ته دغه ذکر شوی دلیل او که

يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١١١﴾

وجنګیږی تاسے سره، نو وبه ګرځوی تاسے ته شا خامخا، بیا به د سره امداد و نکړے شی.

منزل

## فائده:

دے ایت کریمه نه د عالمانو دوه قسمونه بیانیږی او د هر یو قسم د پاره لسګ لسګ صفات ذکر کوی.

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ اَيْنَ مَا ثُقِفُوْٓا اِلَّا بِحَبْلٍ
تا پہ شوے کے پہ دوی باندے ذلت، چیرتہ چہ پیدا موندے شی مگر د منلے لکولو دی پہ ہغی
مِّنَ اللّٰهِ وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ
د اللہ تہ، او پہ رسی د خلقو، او اخته شوی دی پہ غضب د
اللّٰهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا
اللہ تہ، او هلے شوے پہ دوی باندے خواری (غریبی) دا پہ کومہ چہ یقیناً دوی وو،
يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ الْاَنْۢبِيَاۗءَ بِغَيْرِ
کفر کولو پہ آیتونو د اللہ تہ او وژلے، نبیان، پہ
حَقٍّ ۭ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ۝ لَيْسُوْا
ناحقہ، دا پہ کومہ چہ نافرمانی کولادی دوی چہ تجاوز کولو حدونہ، نہ دی دوی
سَوَاۗءً ۭ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اُمَّةٌ قَاۗىِٕمَةٌ يَّتْلُوْنَ
برابر، بعض د اهل کتابو نہ پہ دلہ (مضبوطہ) ولاړہ دی پہ حق باندے لولی
اٰيٰتِ اللّٰهِ اٰنَاۗءَ الَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُوْنَ ۝ يُؤْمِنُوْنَ
آیتونہ د اللہ تہ، پہ وختونو د شپے کښے اودی سجدہ کوی (اللہ تہ) ایمان راوړی
بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ
پہ اللہ تہ، او پہ ورځ روستنۍ، او امرکوی۔ پہ نیو باندے، او
يَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ ۭ
منعکوی د بدونہ، او جلتی کوی۔ پہ نیو کارونو کښے،
وَاُولٰۗىِٕكَ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ وَمَا يَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ
او دغہ کسان، د نیکانو نہ دی، او هغہ چہ دوی کوی د نیکئ نہ،
فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ۝ اِنَّ
پس هیڅ بہ محرومہ نشی د ثواب نہ رضا نہ، او اللہ تہ پوهہ دے پہ حال د پرهیزګارو۔ یقیناً
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ
هغہ کسان چہ کفر کړے دے هیڅ بہ نہ ګټہ ورکړی د دوی نہ مالونہ د دوی او نہ اولادونہ د دوی،



"الا بحبل من الله" مګر چہ منلے لکولی وی پہ رسی د الله تعالی یعنی د قرآن او سنت پہ منلو سره بہ د ذلت نہ بچ شی۔ د کوری مشر ال عمران۔ مفتی صاحب رحمہ الله پہ "معارف" ج ۲ ص ۱۵ کښی د "کشاف" پہ حواله لیکی چہ "پہ یهودو بہ ذلت او خواری لکیدلے وی مګر صرف دوه صورتونو کښی پہ هغوی د ذلت نہ بچ کیدے شی، یو د الله عهد مثلاً د ذمی بالغہ ماشوم یا د ښځے توب پہ بناء یا د پہ حکم د الله تہ هغوی د قتل وغیره نہ مامون وی۔ دویم "بحبل من الناس" یعنی د خلقو سره د معاهدے صلح پہ بناء سره پہ دوی باندے د ذلت او د خواری ظهور نہ وی۔ بیا اخوا مفتی صاحب فرمائی چہ حاصل د دے چہ "بحبل من الناس" عام دے مؤمن، کافر ټولو لره شامل دے۔ نو بنا، پہ دے د اسرائیلو د موجوده حکومت سوال نہ پیدا کیږی۔ "لیسوا سواء": د دے ځائے نہ د ډلے ډلے صفات دی۔ شیخ المشائخ مولانا حسین علی رحمہ الله فرمائی چہ کلمہ پہ قومونو د الله تہ عذاب راځی نو د دغہ هر یو فرد بد کار ګڼلہ وی بلکہ پہ دوی کښی بعض نیکوکار هم وی او د دغہ سنګر یزو پہ پہ ډیرو کښی کوم کوے ریشتو نے ملغلرے هم وی۔ (جواهر ص ۱۷۱) "وما یفعلوا من خیر" او هغہ چہ دوی د کوی د نیکئ نہ، نو هیڅ بہ محرومہ نشی د ثواب نہ (تسهیل ص ۱۱۱، شیخ القرآن رحمہ الله) فرمائی چہ جماعت د یهودو لابدی دی د دے مال او تو تیښے نہ نو ترغیب د انفاق نہ ورکړو او بیا د تخویف ورکړو د بخلاوت نہ چہ د دوی مالونہ دوی تہ نفع نشی ورکولے او "ص ۱۱۷" کښی د ورلہ مثال ورکړے۔ (سمط الدرر ص ۲۵)

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا وَّاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا
دعذاب د الله څخه هیڅ شی او دغه کسان خاوندان د اور دی، دوی به په دیکښ
خٰلِدُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ مَثَلُ مَا يُنْفِقُوْنَ فِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةِ
همیشه راسره کښ وی، مثال د هغه چا چه دوی لګوی، په دے ژوند
الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيْحٍ فِيْهَا صِرٌّ اَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ
نړۍ دے کښ، پشان د سیلۍ دے چه وی په دیکښ سخته یخنۍ، چه ورسیږی فصل د یو قوم ته
ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَاَهْلَكَتْهُ ۭ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ
چه ظلم یې کړی وی په ځانونو خپلو پس هلاک کړی دغه فصل د، او ظلم نه کړے په دوی الله ولیکن
اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا
دوی خپلو ځانونو ظلم کوی۔ اے د ایمان والو! مه نیسئ
بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا ۭ وَدُّوْا مَا
رازدار دوست، پرته ستاسے نه، کسے نکمی به نقصان ستاسے کښ، خوښوی هغه څه
عَنِتُّمْ ۚ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاۗءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ۚ وَمَا تُخْفِيْ
مشقت کښ اچوی تاسے، یقیناً بهار ښکاره شوې دغه عداوت، د خولو د دوی نه، او هغه څه پټوی
صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ ۭ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ اِنْ كُنْتُمْ
سینې د دوی، لوے دی زیات، یقیناً بیان کړل مونږ تاسو ته نښانې، که ستاسو
تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ هٰٓاَنْتُمْ اُولَاۗءِ تُحِبُّوْنَهُمْ وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ
د عقل نه کار واخلئ، خبردار تاسو! همیشه لوئ د دوی سره، او دوی نه ښه نکوی ستاسے سره
وَتُؤْمِنُوْنَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ ۚ وَاِذَا لَقُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚ
او ایمان لرئ تاسے په کتاب ټول یانډ، او کله چه ملاوشي دوی تاسے سره نو وایی ایمان راوړے
وَاِذَا خَلَوْا عَضُّوْا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ۭ
مونږ، او کله چه یوازے شی څنګ پتاسے، سرونه ډکوی تو، د وجے د غصے نه،
قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۱۹﴾
او وایه مړ شئ په غصه خپله یانډ، یقیناً الله ښه خبر دے، په رازونو د سینو یانډ۔

اغیار یه رازدار دوستان نه کړی وی
او دهغوی لښ قبا عتونه. پطانة:
رازدار دوست. (جواهر ص۱۴۷) راغب
اصفهانی رحمه الله په "مفردات ص۵۰"
کښ لیکلی دی چه بَطَنْتُ شَيْئًا باطن
په هغه وخت کښ وئیلی شی چه
جامه لاندے د پلے نه کړی او یا
مستعار شوے دی۔ (لفظ) دبطانة
دهغه چا پاره چه تڼے خاص
کړے یه خبر ورسره لو په پته
باطنو، کارونو خپلو پانډ جناب
مفتی صاحب رحمه الله لیکی چه په
رُوس او په چین کښ هیڅ یو دا سے
سړی نه لرے چه په کمپیوټر م ایمان نلری
په کوے ذمه دارے عهد ے باندے
نه کا عیاښوی او دغه د مملکت
رازدار او مشیر نه جوړ وی۔ د
اسلامی مملکتونو د زوال قصے چه
ګولی نو د زوال د ټولو راسباب سره
په کثرت سره دا هم ملاویږی
چه مسلمانانو د خپلو کارونو
رازدار او معتمد غیر د مسلمانانو
نه جوړ کړی دی الخ (معارف ص۱۵۹)
لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا : ولیه لفظ د
ألی پټ دے دے، ای فی خبالکم
(مدارک ۱/۱۷۷) معنی دا شوه چه
ضرر نکوی ستاسے په فساد کښ۔

وَاِذَا غَدَوْتَ : جمهور علماء
په دے دی چه دا د احد
غزا وکه (قرطبی ص۱۸۴) معنی دا
ده چه د کومے د اهل فیل
نه۔ مدارک فرمائی مراد
دا دے چه نحر وختی وتل دی
احد ته د کومے د عائشے نه
(ص۱۵۹) دا په ستمبر د شوال
په میاشت کښ وه (معارف) د کلفا روشمار درے زره وو چه اووه سوه شوه پکښ د زغرو اغوستونکی
وو۔ دوه سوه په آسونو اوباقی په اوښانو سوار وو، سند رغارے شپږ ورسره هم وے او

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ
کہ ورسی تاسے تہ، خوشالی خفہ کوی دوی لرہ، او کہ ورسیږی تاسو تہ تکلیف
يَفْرَحُوا بِهَا ۖ وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ
خوشالی کیږی دوی پہ هغہ سره، او کہ صبر وکړی او پرهیزګاری وکړی، ضرر نشی رسولے تاسو تہ مکر
شَيْئًا ۗ إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿١٢٠﴾ وَإِذْ غَدَوْتَ
دښمنانو ستاسے، یقیناً اللہ پہ هغہ چه دوی کوی، احاطه کوونکے دے او کله چه سحر ختی واړه
مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۗ
د اهل خپل نه، ښودل د مؤمنانو ته، ځایونه د کښینا ستو سره ږ (د جنګ)
وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾ إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ
او الله اوریدونکے پوهیږی کله چه قصد وکړه دوو ډلو ستاسو نه
أَنْ تَفْشَلَا ۙ وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ
چه وبږزیږی شی، او الله مدد ګار د دوارو ډلو، او په الله ټینګ باندې ځان وسپاری،
الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٢٢﴾ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ
ایمانداران = او یقیناً مدد وکړے ستاسے الله په بدر کښې، او تاسې
أَذِلَّةٌ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ تَقُولُ
کمزوری وئ پس وبرېږئ د الله نه ډېر لاړ دې په تاسے شکر ګزاری - کله چه وویلے
لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَنْ يَكْفِيَكُمْ أَنْ يُمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ
مؤمنانو ته، ایا نه کافی کیږی تاسے لره، چه امداد وکړی ستاسے رب ستاسے
بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُنْزَلِينَ ﴿١٢٤﴾ بَلَىٰ إِنْ
په درے زره ملایکو سره، نازل شوے د آسمان نه، ولے نه کیږی
تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُمْ مِنْ فَوْرِهِمْ هَٰذَا
صبر وکړو، او وبرېږئ د الله نه، او راځی دوی تاسے ته د جوش د دوی نه په دم دا سے
يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ
امداد وکړی رب ستاسے په پنځه زره د ملایکو نه،



ع ۱۲ — ۱۲ — ۱۲

ځه له راغے او مسلمانان د تحریم مانځه کښې مصروف وو په رئیس المنافقین عبد الله بن اُبَی د درخ شو او ملګرو سره د میدان نه جنګ نه واپس شو (واحدی ص۱۰۵، ص۱۰۶) اِذْ هَمَّتْ: کله چه خیال وکړ دوو ډلو - مدار اړه په ځان باندې لیکن چه بنو سلمه د خپل رجع نه او بنو حارثه د اوس نه - پښې ږدل د بدر غزا په میاشت د رمضان سنه ۲ کښې شوے وه. (معارف ص۱۶۰) د کفارو شمیر ۹۵۰ وو او د مسلمانانو تعداد صرف ۳۱۳ وو د ټولو فوج سره صرف دوه آسونه او اویا اوښان او غالباً توره نه وه (ص۱۶۰) - شیخ القرآن رحمه الله پدې ځای کښې لیکلی دی: او ذکر شوید واقعه د احد او د بدر د پاره د دې اضافه کولو د تیرو ذکر شوو اصولو چه تاسے له د وئ په پښې رکښې او په تاسو کښې نور د منافقانو او منکا سلانو نه ځو خو لاکن په دې وخت کښې د مسلمانانو د اطاعت د امیر کښې نو الله تعالیٰ د له امداد وکړه هغه او د پیر وئ په غزوه د احد کښې نو د امیر خلاف موو کړه او په تاسو کښې سستۍ او منافقان وو نو ځکه له شړئ او اختلاف موو کړو پس شکست د له الله ورکړو - بِثَلٰثَةِ آلٰفٍ: د پنډی شیخ رحمه الله لیکلی دی په جواهر ص۱۰۵، ص۱۰۶ کښې چه حاصل د دا دے چه په بدر کښې زره ملایکه پالفعل د کفارو د شمیر مطابق راغلے وے خکه چه سورۃ الانفال مدنی "کښې دی لیکن د دې نه روسته چه کافرانو دا افواه خوره کړه چه کرز بن حُوی د جابر محارب د دوو زره سپاهیانو سره کمک د پاره د رسیدو ته ځی نو په دغه وخت الله تعالیٰ د درے زره فرښتو کمک راولیږلو وعده وکړه چه مسلمانان مطمئن شی او ثابت قدمه شی - دوے نه بعد

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ وَ

لَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِ ۚ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ

اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِينَ

كَفَرُوا أَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنقَلِبُوا خَائِبِينَ ﴿١٢٧﴾ لَيْسَ لَكَ

مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ

فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ ﴿١٢٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي

الْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَن

يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٩﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً ۖ

وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٣٠﴾ وَاتَّقُوا النَّارَ

الَّتِي أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿١٣١﴾ وَأَطِيعُوا اللَّهَ

وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٣٢﴾ وَسَارِعُوا إِلَىٰ

منزل ۱

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

چه دومره قدرے کښوس اوتخیل وی چه جاته قرض ورکړی نو په دغه پاڼو هم ښکاره وصول کوی اود خدائ دپاره د قرض حسنه په طور د ډوډۍ برابر د چا سره همدردی ښکوی: نو د دغه ته ددے توقع په څه طور کولے شی چه هغه د خوښۍ روح قربانی ورکړی۔ (جواهر ص۱۵۴)

مُضٰعَفَةً: د دوچندئ قید احترازی نه دے چه یوچندی دپښی روا وی بلکه ـــــ د زیاتے رقمے دپاره دے څکه دوی به په جاهلیت کښ دا سے سود کولو۔ وګورئ قاسمی ص۲۲۱، خازن ص۲۶۱: وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِیْ: امام ابوحنیفه رحمه الله فرمایلی دی چه دا د ویرونکے آیت دے په قرآن کښ چه الله تعالیٰ وعید ورکړے ایماندارونه د هغه اورنه چه تیارشوے دے کافرانو لپاره پکښے دوی منعه نشی د څان سانتلو د محارم صحونه۔ (مدارک ص۱۸۱، روح ص۵۲ ـــ ابوالسعود ص۸۵، قاسمی ص۲۲۵، جواهر ص۱۵۹، الهام ص۷۵) ٭

وَلَمْ یُصِرُّوْا: اونه تهینکیږی په ناکاره فعل خپل ٭ (شوکانی ص۳۸۶) ٭



مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ
ته، ګډ به ستاسے نه، او جنت ته چه فراخی د هغه به اندازه د اسمانونو نه

وَالْاَرْضُ ۙ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ
او زمکے وی، تیارشوے دے دپاره د متقیانو، هغه کسان چه خرچ کوی

فِي السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَ
په خوشالئ کښ او تکلیف کښ، او خوړونکی وی، غصے لره، او

الْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ ۭ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳۴﴾
او عفوه کوی د خلقونه، او الله ښه مینه ساتی د نیکی کونکو سره۔

وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ
او هغه کسان چه کله وکړی، بے حیائی، او یا ظلم وکړی په ځانونو خپلو

ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ ۡ وَمَنْ يَّغْفِرُ
یاد کړی الله تعالیٰ لره، پس وښښنه وغواړی د ګناهونو خپلو، او څوك دے چه وښښنه

الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۡ وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰي مَا فَعَلُوْا
وکړی د ګناهونو ګنا هوښ سوا د الله تعالیٰ نه، او نه تهینګیږی په هغه چه دوی کوی،

وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۵﴾ اُولٰۗىِٕكَ جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ
او دوی پوهیږی = دغه کسان، بدله د دوی، بښښنه دی،

مِّنْ رَّبِّهِمْ وَجَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا
د رب د دوی نه، او باغونه دی چه بهیږی په لاندے د دغو نه،

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ وَنِعْمَ اَجْرُ
ولے، همیشه به اوسیږی په دغه کښ، او ښه دا بدله

الْعٰمِلِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ ۙ
د عمل کونکو۔ یقیناً تیرشوې دی، لکښ ستاسے نه واقعات

فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ
پس وګرځئ په زمکه کښ، پس وګورئ څرنګه وو،



Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۳۷﴾ هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ

انجام — د تکذیب کونکو۔ دا قرآن، بیان دے، د پاره د خلقو،

وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۸﴾ وَلَا تَهِنُوْا

او هدایت، او نصیحت دے، د پاره د متقیانو۔ او مه سُست کیږئ،

وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ

او مه غمجن کیږئ، او تاسو به اوچت یئ، کله چې یئ تاسے

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۹﴾ اِنْ يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ

کامل مؤمنان۔ کله چې رسیږي تاسے ته زخمونه (نو صبر کوئ) پس یقیناً رسیدلے

الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهٗ ؕ وَتِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا

وو هغه قوم ته زخمونه په مثل دے، او دغه ورځے دی، چې اړوو مونږ

بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

په مینځ د خلقو کښ، او چې بیل کړي الله تعالیٰ، هغه کسان چې ایمان یے راوړے

وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ

او چې وګرځوي ستاسے نه، شهیدان، او الله تعالیٰ مینه نه ساتی د

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۰﴾ وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

ظالمانو سره۔ او چې خالص کړي الله تعالیٰ، هغه کسان چې ایمان یے راوړے

وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا

او ختم کړي، کافرانو لره۔ آیا خیال کوئ تاسے، چې داخل به شئ،

الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا

جنت ته، او لا ندې چې بیل کړي الله تعالیٰ، هغه کسان چې جهاد کوي

مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۲﴾ وَلَقَدْ كُنْتُمْ

ستاسے نه، او لا ندې نیسکاره کړي صابرانو لره۔ او یقیناً وئ تاسے چې

تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَلْقَوْهُ ۖ فَقَدْ

آرمان موکولو د مرګ، مخکښ د دے نه چې ملاقات مخ شئ د هغه سره، پس یقیناً



هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ: حسن رح او قتادہ او ابن جریج او ربیع رح فرمائی چه دا اشاره ده قرآن ته۔ (سیرت ماجدی ص۱۵۶، جواہر ص۱۸۱۔)

وَتِلْكَ الْاَيَّامُ: او دغه د دنیا ورځے دی اړوو راړوو یے مونږ ما بین د خلقو کښ د نعمتو او عذابونو نه، کله ئے دوی له ورکړو او کله ئے هغوی له۔ (مدارک ص۱۸۴) ❊

وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ: زنوت: دا د مکه سره متعلق د نبی علیہ السلام دا مبارک نوم په دے آیت ۱۴۴ او احزاب ۴۰ او محمد ۲ او فتح ۲۹ کښ دے۔ د احد په غزا کښ نبی علیہ السلام زخمی شوے وو، شیطان لعنتی دا افواه خوره کړه چه محمد علیہ السلام شهید شو په دے د مسلمانانو هممتونه سست شو نو دا آیت نازل شو۔ فائده: دلته د موت مرګ نسبت نبی علیہ السلام ته وشو۔ او ۱۳۳ بقره کښ د یعقوب علیہ السلام او په ۱۳۱ سبا کښ سلیمان علیہ السلام ته او په ۲۳۴ مؤمن کښ یوسف علیہ السلام ته شویدے۔ او بخاری شریف ۵۱۲/۱ کښ او بله حدیث دے چه حاصل ئے دا دے چه کله نبی علیہ السلام وفات شو، ابوبکر رضی اللہ عنہ د سنح مقام نه راغلو وعا ئے رضی اللہ عنہا کوتکئ ته ونوتلو د نبی علیہ السلام مخ مبارک ئے برسیږلو کړو او خکل ئے کړو او

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



رَاَيْتُمُوْهُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۱۴۴﴾ وَمَا مُحَمَّدٌ

اُو مولیدے ٹو مرلے، او ناسو ورتہ کانتہ۔ اونہ دے محمد ﷺ

اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۭ اَفَا۟ىِٕنْ

مکر رسول، یقیناً تیر شوی دی، مخکښ دی وی نه، رسولان، ایا پس که

مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ ۭ وَمَنْ

دا مړشو، او یا وژل شو، اوړی به تاسے په پښو ښی خوا بانډی، او څوک چې

يَّنْقَلِبْ عَلٰي عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْـــًٔا ۭ وَ

واوړیږی و په پښو ښی خوا، پس هیڅ به ضرر نشی رسولے الله ته هیڅ شی، او

سَيَجْزِي اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ

زر دے چې بدله به ورکړی الله شکرګزارونکو۔ او نشته ډهیڅ یو نفس ډیاره:

اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا ۭ وَمَنْ

چې مړ شی، مګر په اذن، د الله ﷻ، لیک ئے نیټه دارے، او څوک چې

يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ وَمَنْ يُّرِدْ

اراده ولری، د به ئے د دُنیا، ورسره کړو دا ته ډرځ نه، او څوک چې اراده ولری

ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۭ وَسَنَجْزِي

د بدلے د آخرت، ورسره کړو دا ته ډرځ نه، او خامخا به بدله ورکړو:

الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۵﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ

شکر ایستونکو نه۔ او ډیر د نبیانو نه، جنګ کړے دے ئے دوی سره الګ ډیر

رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ ۚ فَمَا وَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ فِيْ

خدائی خلق: ډیرو، پس سُست شو، ډډے ډهغه تکلیف نه چې رسیدلی وو

سَبِيْلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا وَمَا اسْتَكَانُوْا ۭ

په لارې د الله نه کښې، او نه کمزوری شو، او نه، ذلیله شو

وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۶﴾ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ

او الله خوښ ساتی د صبر کوونکو سره۔ او نه د دوی وینا د دوی

اِلَّآ اَنْ قَالُوْا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَاِسْرَافَنَا

مګر دا چې ووئیل، اے ربه زمونږ! بخښه زمونږ ګناهونه او زیاتوالی

فِيْٓ اَمْرِنَا وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَي الْقَوْمِ

زمونږ په کارونو کښې، او ټینګ کړه قدمونه زمونږ، او مدد راکړه زمونږ

الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا

د کافرانو په قوم باندې۔ پس ورکړل دوی ته الله بدله د دُنیا

وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ۭ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۴۸﴾

او ښه بدله د آخرت، او الله خوښ ساتی د نیکوکارانو۔

ع ۱۴ — ۵ — ۱۲ — منزل ۱

ے وفرمایل چې کینه او مسیحیانو نه ئے بیان وکړه چې څوک د محمد علیه الصلوٰة والسلام عبادت کوی پس یقیناً هغوی وفات شو او چې څوک د الله تعالیٰ عبادت کوی فَاِنَّ اللّٰهَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ او بیائے دا آیت او د سورۂ زمر ع ۳ پاتے نه اولوستل۔

فائده: د عمر رضی الله عنه د ذهن نه او د نورو د صحابه کرامو رضی الله عنهم د فکر نه د غم د وجے نه دا آیتونه وتلی وو او بیا به ئے نه اولوله دا لوستل کوی چې دا اجماع شوه چې نبی علیه السلام دُنیا نه لاړو او د آخرت په هیڅ ډول نه ممکن شو: او د دُنیا زندګی ئے ختمه شوه۔ دا حدیث ذکر شوے دے په دے تفسیر و نوکښې: وګورئ ابن کثیر ص۴۰۹ ج۱، ابو السعود ص۲۰۹ ج۲، جواهر ص۱۹۳ ج۲ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ: ترغیب دے جهاد ته چې بے اجله مړ نشته۔ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ: اجماعتونو ډیرو — نسبت ئے شوے دے رِبَّةٌ ته او دا جماعت ته ویلے شی۔ (قرطبی ص۲۳۱ ج۴) او مدارک فرمائی منسوب دے رِبَّةٌ ته، په دے آیت کښې دُعاء د جهاد ښودنه او بل آیت کښې ورله بشارت دے ۔

وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ: خدائی خلقو ډیرو (ص۱۸۶)

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ؕ او بنہ بدلہ د آخرت۔ الوسی رحمہ اللہ فرمائی پہ ﷺ کښ: پہ دیکښ خبرتیا دہ پہ بھترئ او زیاتوالی بدلے د آخرت او اللہ تعالیٰ پہ دریار کښ اعتماد ی هم دغہ بدلہ دہ۔ پہ آیت ۱۴۸ کښ



الْاٰنَ قَالُوْا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَاِسْرَافَنَا
مؤمنانو نہ زجوے پرتا بعداری د کفارو چہ دہ ے نتیجہ ارتداد دے۔ پہ ۱۵۰ کښ فرمائی چہ اللہ تعالیٰ ستاسے مولیٰ او غوره امدادی دے۔ پہ ۱۵۱ کښ فرمائی چہ د کفارو پہ زړونو کښ بہ رعب واچوم او دهغہ وجہ بیانئ چہ دوی د اللہ تعالیٰ سره شریکان کړی هغہ چہ د هغوی پہ معبودیت او الوهیت اللہ تعالیٰ هیڅ دلیل نہ دے نازل کړے

فِيْٓ اَمْرِنَا وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى
پہ کار (دین) زمونږ پرپښو او مضبوط کړہ قدمونہ زمونږ، او امداد درکړہ موږ تہ، پہ

الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا
قوم کافرانو باندے؛ پس ورکړہ دوی تہ اللہ، بدلہ دونیا؛

وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۴۸﴾
او بنکلے بدلہ د آخرت، او اللہ، مینہ ساتی د احسان کونکو سره۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ
اے ایمان والو! کہ مومنو اطاعت وکړی د هغہ کسانو چہ

كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا
کفر وکړے کړے، وبرګرزوی ستاسے کړہ، پرپښو ندستاسو، پس شئ پہ تاوان

خٰسِرِيْنَ ﴿۱۴۹﴾ بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ
تاوانیان۔ بلکہ اللہ تہ مولا ستاسے دے، او دا غوره کا

النّٰصِرِيْنَ ﴿۱۵۰﴾ سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا
نصرت کونکے دے۔ خامخا اوبہ غورزو مونږ پہ زړونو د هغہ کسانو کښ چہ کفر وکړے کړے

الرُّعْبَ بِمَآ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ
ویرہ، پہ سبب د هغہ چہ دوی حصہ دار کړکړہ د اللہ سره، هغہ چہ نہ یی نازل کړے پرهغہ

سُلْطٰنًا ۚ وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ وَبِئْسَ مَثْوَى
شوک، ځمنہ دلیل، او ځائے د اوسیدو دوی اور دے۔ او ډیر بد دے ځای کونکو

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ
ظالمانو نو۔ — او یقیناً رښتو نے کړے وو تاسے سره، اللہ، وعدہ خپلہ،

اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰٓى اِذَا فَشِلْتُمْ وَ
کلہ چہ وژل ناسو دوی لرا پہ حکم د اللہ، تردے چہ ویرہ ځئ شوئ، او



بعد ما نوښ د ارتداد دے۔ پہ ۱۵۲ کښ فرمائی چہ اللہ تعالیٰ ستاسے مولیٰ او غوره امدادی دے۔ پہ ۱۵۳ کښ فرمائی چہ د کفارو پہ زړونو کښ بہ رعب واچوم او دهغہ وجہ بیانئ چہ دوی د اللہ تعالیٰ سره شریکان کړی هغہ چہ د هغوی پہ معبودیت او الوهیت اللہ تعالیٰ هیڅ دلیل نہ دے نازل کړے

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ: او یقیناً رښتو نے کړے وو تاسے سره اللہ وعدہ خپلہ د احد د هغہ ګټې چہ ورکړے وو تاسے تہ پہ هغہ وخت کښ چہ کله تاسو د اللہ تعالیٰ د دښمنانو قتل شروع کړے وو۔ کلمہ چہ فشلتم شوله نو دوی کښ اختلاف راغے چہ زمونږ د ډلے پہ ډیرئ باندے فتحہ ضرورت نشته او د امیر حکم خلاف راغے چہ د هغہ پہ وجہ فتحہ پہ شکست بدله شوه۔ خو دلتہ دا خبرہ قابل غور دہ چہ کهرے دوی پہ خپلے سر رښے باندے پاتے هم وے نو



Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



تَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِنْ بَعْدِ مَا
اختلاف موکړو په امر (دې) پرېږدئ، اونافرمانی موکړه، پس د هغې نه چې وے خوښ
أَرَاكُمْ مَا تُحِبُّونَ ۚ مِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الدُّنْيَا وَ
تاسو ته، هغه چې تاسو (یعنی ستاسو) بعض ستاسو هغه دوه چې ارادې کوی لرلے دنیا، او
مِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الْآخِرَةَ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ
بعض ستاسو هغه دوه چې ارادې کوی لرلے د آخرت، بیا وګرځول تاسے لرلے الله دوی نه،
لِيَبْتَلِيَكُمْ ۖ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ ۗ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ
چې امتحان وکړی بیا تاسے، او یقیناً عفو ئے کړے لتاسے نه، او الله تعالیٰ خاوند د فضل دے
عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥٢﴾ إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ
په مؤمنانو باندې - کله چې روان وئ صدیښے نه، اونه متوجه کیږئ
عَلَىٰ أَحَدٍ وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِي أُخْرَاكُمْ
هیڅوک ته، او رسول (د) اوازکوی تاسو ته په رسنو د ے سره تاسے کښې،
فَأَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ لِكَيْلَا تَحْزَنُوا عَلَىٰ مَا
پس بدله کښې ورکړو تاسو غم په بدله د غم (او دا پاره د دې چې غمژن نشئ) په هغه چې
فَاتَكُمْ وَلَا مَا أَصَابَكُمْ ۗ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا
فوت شو تاسو، اونه په هغه چې ورسیدلے تاسو، او الله خبردے په هغه چې
تَعْمَلُونَ ﴿١٥٣﴾ ثُمَّ أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِ الْغَمِّ
تاسې ئے کوی - بیا راولیږه الله تعالیٰ پرتاسے، پس د غم نه،
أَمَنَةً نُعَاسًا يَغْشَىٰ طَائِفَةً مِنْكُمْ وَطَائِفَةٌ
امن لرونکی، چې پټوله ئے، ډوبه کړه دله، ستاسے نه، او بله دله،
قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِاللَّهِ غَيْرَ
چې په غم کښې اچولی وو دوی لره نفسونو د دوی، گمان ئے کاوه په الله تعالیٰ، ناحقه
الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ۖ يَقُولُونَ هَلْ لَنَا
گمان د جاهلیت، وائی دوی: آیا شته دے مونږ لره

منزل

غنیمت نه ورلره حصه ملاویده نو دوی محض ارادې د دنیا نه لرلے بلکه د مجاهدینو سره د کمک کولو په وجه دوی په غنیمت راټولولو کښې مصروف شوی وو - جناب مفتی صاحب رحمه الله په معارف ج ۲ ص ۱۰۹ کښې فرمائی چه طبعی طور په دے وخت کښې د مال غنیمت خیال په زړه کښې بعید نه دے لکه الله تعالیٰ د خیل رسول علیه السلام د صحابه کرامو رضی الله عنهم د زړونه ډک نه هم صاف کیدل غواړی چه په مال کښې د تصرف کولو نه لتعبیر په طلب د دنیا سره وکړی. ولقد عفا عنکم ۱۲: یقیناً الله تعالیٰ عفوه کړے لتاسو نه. په دے آیت کښې چه د کومو صحابو نه اجتهادی خطا شوے وه د هغوے اعلان دے. د شاه ولی الله صاحب رحمه الله په فتح الرحمن ص ۸۰ کښې معنی داسے کوی: د النصیحت د رسول د پاره د دے چه غمژن نشئ ص ۸۰ کښې لیکی: بارې تعالیٰ عفوه وکړه دوی نه نو اینده خلفو د پاره د اعتراض ځائے پاتے نشو. شیخ القرآن رحمه الله په فرمایل چه الله تعالیٰ د صحابه کرامو رضی الله عنهم په بار کښې ډیر ښه جملے استعمال کړیدی: ۱۲ بوه د ا- وبیم په ص ۱۵۵ و لقد عفا الله عنهم - او باقی درے په ص ۱۵۵ کښې دی. فاثابکم غما بغم: حاصل دا دے چه یقیناً الله تعالیٰ عفوه کړے ستاسے نه او یقیناً الله تعالیٰ عفوه کړے د دوی نه او ثنا ئے عفوه وکړه دوی نه، او بخښنه وغواړه د دوی د پاره: او مشوره د رسره کوه په کار دونو کښې - جناب مفتی صاحب رحمه الله په معارف ص ۳۱ کښې لیکلی دی چه په عقائد نسفیه کښې دی د ذکر د صحابو نه بعضه کوله شی مګر په نیکی سره او په شرح مواقف کښې دی چه واجب دے د تعظیم د ټولو صحابو او منعه د عیب لګولو نه په هغوی باندې. غما بغم: پس په بدله کښې د رکړه تاسو ته غم په سبب د هغه غم چه رسولے وو تاسو - پیغمبر علیه السلام ته به سبب د عصیان او مخالفت ستاسو د هغه نه د روح المعانی، لکیده تکرونو، شاه ولی الله صاحب رحمه الله په فتح الرحمن ص ۸۰ کښې معنی داسے کوی: د النصیحت د رکولو د پاره د دے چه غمژن نشئ ص ۸۰

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

سته یه هغې چه تاسوته رسیدلی دی۔ په آیت ۱۵۴ کې د منافقانو پېژندنه قباحتونه د یادونې ورته ذکر دی ۱۲



مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَیْءٍ قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهٗ لِلّٰهِ ؕ
د اختیار نه، څه شے، ووایه یقیناً، اختیار ټول الله تعالیٰ د ګ،

یُخْفُوْنَ فِیْۤ اَنْفُسِهِمْ مَّا لَا یُبْدُوْنَ لَكَ ؕ
پټوی دوی، په زړونو خپلو کې، هغه چه نه ښکاره کوی تا لره،

یَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَیْءٌ مَّا قُتِلْنَا
وائی دوی، که څه وے مونږ لره، د اختیار نه څه شے، نو نه به وژلے شوے

هٰهُنَا ؕ قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِیْ بُیُوْتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِیْنَ
دلته، ووایه که څه وے ګرځے وئ تاسے په کورونو خپلو کې، نو خامخا به راوتے وے هغه کسان

كُتِبَ عَلَیْهِمُ الْقَتْلُ اِلٰی مَضَاجِعِهِمْ ۚ وَلِیَبْتَلِیَ
چه مقرر شوی دی په هغوی قتل، خامخا د دوی لګولو خپلو ته، (او دا کار الله وکړه)

اللّٰهُ مَا فِیْ صُدُوْرِكُمْ وَلِیُمَحِّصَ مَا فِیْ
الله، د هغه چه ستاسے سینو کې دی، او خالص کړی هغه چه ستاسے په

قُلُوْبِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۵۴﴾
زړونو کې دی، او الله ښه پوهه دے، په هغه راز دنو چه سینو کې دی۔

اِنَّ الَّذِیْنَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ یَوْمَ الْتَقَی الْجَمْعٰنِ
یقیناً هغه کسان چه وګرځیدل ستاسے نه، په هغه ورځ چه مخامخ شوے دوه ډلے،

اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّیْطٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا ۚ
یقیناً خو یوائی وڅړولی لره، شیطان، په سبب د بعض هغه عملونو، چه دوی کړی،

وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ
او یقیناً عفوه کړه الله تعالیٰ د هغوی نه، یقیناً الله تعالیٰ، بخښونکے

حَلِیْمٌ ﴿۱۵۵﴾ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا ع ۱۶
صابره دے۔ اے ایمان اروا! مه کیږی

كَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَقَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ اِذَا ضَرَبُوْا
په شان د هغه کسانو چه کفر ئے کړے او وائی، په باره د ورونو خپلو کې چه سفر کړی

منزل

حَلَّ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ: ایا شته دے مونږ لره د امداد او فتحے نه څه شے۔ یعنی نشته ئے مطلب داچه ظاهره ئے استفهام د طلب د پاره ګرځولو او مقصد انکار وو۔ وګورئ قرطبی ص۲۳۴ ج۴

قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِیْ بُیُوْتِكُمْ: د دے نه معلومه شوه چه وخت د مرګ او ځای د مرګ په تدبیر نه بدلیږی۔ اَلْجَمْعُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا: په بعض هغه عمل چه دوی کړے دو۔ معلومه شوه چه یوه ګناه د بلے سبب کمزوری۔ بیا باری تعالیٰ د صحابه کرامو نه د عفوے اعلان وکړ چه اینده د دې پاره د جهاد طعن وبیلو حق پاتے نشی۔ لِاِخْوَانِهِمْ اے ایمانداروا! د مدینې پشان د هغه کسانو چه کافران دی او وائی په باره د ورونو خپلو کې۔ مدارک وائی په ص۱۹۰ ج۱ کې مُراد قریبه نسبی ورونه دی۔

د شاه کپور شیخ رحمه الله فرمائی په ص۹۰ افضل التراجم کې چه د انصارو قتل منافقانو خپل قتل وو ۞

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ: پہ دے آیت کښ د شہیدانو شان او مقام ذکر دے۔ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ: پہ دے آیت کښ د نبی علیہ السلام اخلاقِ کریمہ ذکر شوی او دا بیانہ اوصاف د امیر ویلے شی چہ هغہ بہ سخت زړہ او بد خوی نہ وی دے دپارہ چہ ملگری یہ راغونډ وی۔ بابا سعدی صاحب فرمائی: د شعر د نومعنی لے دا دے چہ هیڅ نہ دی لیدلے چہ تیزی د ځهاز، یہ غار یا د تروو او بو راغونډ شوی وی۔ کوم ځائے کښ چہ خوږہ چینہ وی، خلق او میږان او مارانِ چا پہ راغونډ یږی۔ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ: او مشورہ ورسرہ کوہ پہ اهمو کارونو کښ۔ دا لفظ د شُرْتُ الْعَسَلَ نہ راخستلے شوی دے۔ دا پہ هغہ وخت کښ وئیلے شی چہ د کَبینہ د چاک نہ کَبین راوُباسی۔ مطلب دا چہ امیر پہ خوږے خوږے رائے کانے د ملگرو نہ اخلی۔ د کسوری ماخذ پہ "مفردات" کښ دی۔

فائدہ:۔ مُفتی صاحب رحمۃ اللہ علیہ لیکلی دی چہ د عُمر رضی اللہ عنہ ارشاد دے چہ نہ بہ وی خلافت مکمل پس د مشورے نہ۔ (کنز العمال) اسلامی آئین چہ څنگہ اللہ تعالیٰ مخلوق د کیسرٰی او د قیصر او د نورو شخصی بادشاهانو د ظلم او د جبر د پنجے نہ نجات ورکړ پہ دے د غور رکھے د اللہ تعالیٰ نہ پیژندلو نہ مغربی جمهوریتونو تہ لے د اللہ تعالیٰ سرہ د ثنا ییٰ او د خدا پرستی لارہ خو دلے دہ او دا لے خو دلے دی چہ د مُلک حکام وی او کہ عوام وی د اللہ تعالیٰ د ورکړے شوی قانون پہ پابند وی۔ (معارف ص۲۲۳) جناب قاضی شمس الدین رحمہ اللہ د موجودہ



فِي الْأَرْضِ أَوْ كَانُوا غُزًّى لَّوْ كَانُوا عِندَنَا
پہ زمکہ کښ ، او یا وی دوی غزا کوونکی ، پرتہ وی دوی مونږ سرہ خو اگر کښ ،

مَا مَاتُوا وَمَا قُتِلُوا لِيَجْعَلَ اللَّهُ ذَٰلِكَ
نہ بہ وے مړہ شوی او نہ بہ وے قتل شوی ، پیدا وکړی ، اللہ تعالیٰ دا خبرہ ،

حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ ۗ وَاللَّهُ يُحْيِي وَيُمِيتُ ۗ
افسوس ، پہ زړونو د دوی کښ ، او اللہ تعالیٰ ژوندی کول کوی ، او مړہ کول کوی ،

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١٥٦﴾ وَلَئِن قُتِلْتُمْ
او اللہ تعالیٰ پہ هغہ عملونو چہ تاسے کوی لیدونکے دے ۔ او کہ چرے قتل شوی تاسے ،

فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَ
پہ لارہ د اللہ تعالیٰ کښ ، او یا مړہ شوی ، خامخا بخښنہ د طرف د اللہ تعالیٰ او

رَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿١٥٧﴾ وَلَئِن مُّتُّمْ أَوْ
مهربانی ، غوره دہ د هغہ نہ چہ دوی راجمع کوی ۔ او کہ چرے مړہ کہ شوی او یا

قُتِلْتُمْ لَإِلَى اللَّهِ تُحْشَرُونَ ﴿١٥٨﴾ فَبِمَا رَحْمَةٍ
وژل شوی تاسے ، نو خامخا اللہ تعالیٰ تہ بہ راجمع شئ ۔ پس پہ سبب د مهربانئ ،

مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ
د اللہ تعالیٰ ، نرم شوے تہ بہ دوی ته ، او کہ چرے وے تہ پہ زړہ ترڅ ، سخت ـ

الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ
زړے ، نو خامخا خواره شوی بہ وو دوی ستا د چاپیره ، پس عفوہ وکړہ دوی نہ ،

وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ۖ فَإِذَا
او بخښنہ وغواړہ د دوی د پاره ، او مشوره ورسره کوہ ، پہ کار کښ ، پس کله چہ

عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ
قصد وکړے تا ، پس توکل وکړہ پہ اللہ تعالیٰ باندے ، یقیناً اللہ تعالیٰ مینه ساتی

الْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾ إِن يَنصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ
د توکل کوونکو سره ۔ که مدد وکړی تاسے اللہ تعالیٰ ، پس نشته زور اور ،

منزل

انتخابا تو او جمهوریت پہ بارہ کښ یو قصیدہ لیکلے دہ یو څو ځے دا دی: ترک کړ د نقل اصحابِ رسول ❊ اُسوۂ نصر ایمان کړ د زد قبول ❊ چہ وے خلقو د صحابہ کرامؓو نقل پریښود ❊ او د فرنگیانو طریقہ لے قبوله کړه ❊

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



لَكُمْ وَإِنْ يَخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِي يَنْصُرُكُمْ
پتاسے خولے، او که رسوا کړی تاسے لره، پس څوك دے هغه كس چه امداد او كړی ستاسے
مِنْ بَعْدِهِ ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٦٠﴾
پس دے نه، (وخاص په الله ﷻ دے خان اوسپاری، مؤمنان -
وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ ۚ وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ
اوندی مناسب نبی لره چه خیانت وكړی، اوچا چه خیانت وكړ ؤ، رابه ؤړی
بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَا
هغه چه خیانت كړے ؤے یے په ورځ د قیامت، بیا به پوره پوره ورکړیشی هر نفس ته، په لره هغه
كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦١﴾ أَفَمَنِ اتَّبَعَ
عمل چه كړے ؤے وی، اوپه دوی به ظلم نشی كیدے - ایا پس هغوك چه تابع شوے
رِضْوَانَ اللَّهِ كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِنَ اللَّهِ وَ
د رضا د الله ﷻ، پشان وهغه چا وے چه اخته شوے په غضب د الله ﷻ، او
مَأْوَاهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٦٢﴾ هُمْ دَرَجَاتٌ
خائے د او سیدلے دوزخ دے، او بد خائے د واپسی دے (دا دوزخ) دوی مختلف درجو والا
عِنْدَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٣﴾ لَقَدْ
په نزد د الله ﷻ، او الله تعالیٰ ښه لیدونکے دے په هغه عملونو چه دوی كوی - یقیناً
مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا
احسان كړے الله ﷻ په مؤمنانو باندے، كله چه راليږلے په دوی كښے، پیغمبر
مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَ
د جنس د دوی نه، چه تلاوت كوی په دوی باندے، آیتونه د هغه، او
يُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ ۚ وَ
پاكوی دوی لره، اوښائی دوی ته، كتاب (قرآن) او پوهه د دین (سنت) او
إِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ﴿١٦٤﴾
النصف
او یقیناً وُ دوی، مخكښ دے نه خامخا په گمراهۍ ښكاره كښ -



وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّغُلَّ : او نه دی مناسب د نبی د پاره چه خیانت وكړی - مطلب دا چه امیر به خائن نه وی - علامه خازن رحمۃ اللہ علیہ ۱۲۹ كښ د ابن عباس رضی اللہ عنہما په روایت ذكر كړی چه بدر كښ یو سور رنگا در ورك شوے وُ نو بعض منلقو وویل چه دا به نبی علیہ السلام د خان د پاره اخستے وی - نو جواب ئے په ټلوړو طریقو سره دے - یو په دے آیت كښ، بل په ۱۶۲ كښ بل په ۱۶۳ كښ، بل په ۱۶۵ كښ، امام رازی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه نبوت او خیانت نه رجمع كیږی - (كبیر ص۲۰۰ ج۳) اندلسی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی څه چه یقیناً غلول گناه ده او نبی گناه نه معصوم وی (بحر ص۱۰۱ ج۳) ملتقی صاحب رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه په وقفی مالونو او سركاری خزانه كښ غلا په حكم د غلول كښ ده (معارف ص۲۳۶ ج۲) هُمْ دَرَجٰتٌ : دا درجو والا دی - (قرطبی ص۲۶۳ ج۴)

لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ : دا ظلم ورم جواب دے چه نبی خو د الله نعمت دے نو څنگه ئے خیانت وكړ ؤ

يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ : سورۃ بقرہ ۱۲۹ او سورۃ جمعہ ۲ هم وگورئ ÷

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ : دلتہ زجر دے مؤمنانو لرہ ۔ مطلب دادے چہ یہ وختی طور شکست باندے مؤمنانو تعجب کولو چہ دا څنګہ راغے؟ جواب دا وشو چہ دیکښی ستاسے عمل لرہ دخل شتہ۔ چہ صورچہ ھم پیرے ګورہ۔ او

اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَيْهَا ۙ

ایا او ھر کلہ چہ درسیدلے ناستہ، مصیبت (حال واړہ) چہ رسولے وُ ونا سو، دوہ چند ورکے نہ

قُلْتُمْ اَنّٰى هٰذَا ۭ قُلْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِكُمْ ۭ اِنَّ

والی ګوم خلے کے دا، وویایہ، دا ظرف دنفسونو ستاسے نہ دے، یقیناً

اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ وَمَآ اَصَابَكُمْ يَوْمَ

اللہ یہ ھر شی باندے قدرت والا دے ۔ او ھغہ چہ درسیدلے ناستہ یہ ھغہ ورځ

الْتَقَى الْجَمْعٰنِ فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ۙ

چہ مخامخ شوے دوہ ډلے پس دا یہ حکم د اللہ وی، او چہ ښکارہ کړی مؤمنانو لرہ :۔

وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ نَافَقُوْا ۚ وَقِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوْا

او ښکارہ کړی ھغہ کسانو چہ منافقت ئے کړے او ویلے شوی وُ دوی تہ، راتلئی ۔ وجنګیږی

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوِ ادْفَعُوْا ۭ قَالُوْا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا

یہ لار د اللہ تعالیٰ کښی؛ او یا دفع کړئی کومن لوګو، وائی دوی کہ چیرے پوھیدلے موجہ یہ جنګ

لَّا اتَّبَعْنٰكُمْ ۭ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَىِٕذٍ اَقْرَبُ مِنْهُمْ

نو خامخا تابعداری بہ وکړے وہ ستاسے دوی کفر تہ یہ دغہ ورځ د ایمان نزدے دوی یہ نسبت د دوی

لِلْاِيْمَانِ ۚ يَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ مَّا لَيْسَ فِيْ

ایمان تہ، وائی دوی، یہ خلو خپلو، ھغہ چہ نشتہ، یہ

قُلُوْبِهِمْ ۭ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُوْنَ ۝ اَلَّذِيْنَ

زړونو نو خپلو دوی کښی، او اللہ تعالیٰ ښہ پوھیږی یہ ھغہ څہ چہ دوی پټوی ۔ دا ھغہ کسان دی چہ

قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوْا لَوْ اَطَاعُوْنَا مَا

وائی دوی یہ بارہ د وروڼو خپلو کښی، اوناست دی د جنګ نہ چیرے منلے وے دوی زمونږہ، نہ یہ

قُتِلُوْا ۭ قُلْ فَادْرَءُوْا عَنْ اَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ اِنْ

ګوزارلی شوی ۔ دوایہ ځواب ورکړئی، د ځانونو نو خپلو نہ ۔ مرګ لرې، کړے

كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا

یاستئی ریښتیا وُ بولئی ۔ او څیرے خیال مکوہ یہ ھغہ کسانو چہ قتل شوی



پہ ، قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَيْهَا کښی اشارہ دہ کوم غزا تہ چہ کفار پکښی مُردار شوی وُو او پکښی قیدیان شوی وُو ۔ او یہ ، بِاِذْنِ اللّٰهِ کښی اشارہ دہ سبب حقیقی تہ چہ ھغہ د اللہ تعالیٰ یہ حکم کیږی او یہ ھغہ کښی د منافقانو څخہ ښکلو قباحتونہ ذکر شویدی ۔

اَوِ ادْفَعُوْا : د پښتو شیخ رحمہ اللہ فرمائی چہ کیږی د اللہ د خوشالہ کولو او ثواب اخرت د پارہ نہ جنګیږی نو کم ازکم د خپل مال او د ځان او د خپل ښارنہ د دفاع کولو د پارہ خو د کافرانو سرہ وجنګیږی (جواہر ۱۰۱) مطلب دا چہ دفاع شہری خو وکړئی ۔ قاضی ابوالسعود رحمہ اللہ یہ " څخہ کښی ھم لیکی چہ دفاع وکړی د اھل او د ښار او د حریم خپل نہ کیږی نہ جنګیږی یہ لار د اللہ تعالیٰ کښی ۔ هُمْ لِلْكُفْرِ : مطلب دا چہ منافقانو کښی کفر پټ او ایمان ښکارہ وُو ۔ اوس لہ ھغہ کفر ھم ښکارہ شو د ایمان نہ لرے او کفر تہ دیر نزدے شو ۔ دتاج پور شیخ رحمہ اللہ فرمائی چہ اوس یہ ظاھر کښی کفر تہ او مخکښی یہ ظاھر کښی ایمان تہ نزدے معلومیدلے ۔ (افضل التراجم ص۹۹)

لِاِخْوَانِهِمْ : یہ بارہ د وروڼو خپلو کښی امراد ترینہ نسبی وروڼہ دی ۔ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ : دیکښی بشارت دے شہیدانو لرہ ۔

بقرہ ۱۵۴ او محمد ۴ ھم ګورئی ۔ مطلب دادے چہ د نورو عامو مړو غوندے خیال او ګمان پرے مکوئی ۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

عمدۃ القاری، علامہ عینی رحمہ اللہ ج۱۶ ص۱۶۱ کښې لیکی چه دوی څوندی دی په دربار د رب خپل کښې په عالم غیب کښې، خکه چه دوی تل ژوندی اخرت ته ..... په کبیر اوږد، د حدیث کښې راځی، مسروق رحمہ اللہ وائی چه مونږ د ابن مسعود رضی اللہ عنہ نه تپوس اوکړو، هغه



فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ
په لار د الله کښې وژل شوي دي مړه ونه بلکه ژوندي دي په دربار د رب خپل کښې

يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ
رزق ورکولے شي ۔ خوشالي کوي په هغه څه چه ورکړي دوی ته الله د فضل خپل نه،

وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ
او خوشالي کوي په هغه کسانو چه لا ندې پيوسته شوي په دوی کښې نه، روستو

خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾
دوی نه چه نه ډار دي ويره په دوی باندې، او نه به دوی غمجن کيږي ۔

يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ
خوشالي کوي، په نعمت د الله تعالیٰ، او په فضل د هغه او په دې چه بيشکه

اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٧١﴾ الَّذِينَ اسْتَجَابُوا
الله تعالیٰ نه ضائع کوي بدله د ايمانداره ۔ هغه کسان چه قبولتيا اوکړه د

لِلَّهِ وَالرَّسُولِ مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ ۚ
الله لره او رسول لره، پس د هغه نه چه ورسيده دوی ته زخم،

لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٢﴾
ګټه اوکړه د هغوی نه او پرهيزګاري اوکړه د هغوی نه، بدله لويه ده ۔

الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا
هغه کسان چه وويل دوی ته خلقو رسيدلې دي چه يقيناً هغه کسانو اکاڼ (لښکر) جمع واړي کړي

لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا
تاسے لره، پس وويريږئ د دوی نه، پس زيات کړه دوی لره ايمان، او وويل دوی چه کافي دے مونږ لره

اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ
الله تعالیٰ، او ښه کارساز د هغه ۔ پس واپس شوي دوی په نعمت د الله تعالیٰ،

وَفَضْلٍ لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ
او په فضل سره، او نه رسيده دوی ته هغه تکليف، او تابعداري اوکړه د رضا د

وقف لازم ع ۱۶ ۸ مع

منزل

الله تعالیٰ: حافظ ابن کثیر رحمہ اللہ: په ص۴۰۱ "کښې لیکی چه امام بخاري رحمہ اللہ د ابن عباس رضی اللہ عنہما نه نقل کوی چه د هغه کلمے دی چه ابراهیم علیہ السلام ویلے وے کله چه اورته غورزولے شوے وو او محمد صلی اللہ علیہ وسلم ویلے وے چه کله ورته خلقو وویل چه هغه خلقو تاسو ته جمعه واړي کړے دي، پس ویريږئ د هغوی نه ۔ پس زيات کړه دوی لره ايمان او وے ویل:

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

سے حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ۔ ناچیز وائی چه مونږه د شاه عنایت الله شاه بخاری رحمۃ الله نه د وظیفے مطالبه وکړه نو هغوی وفرمایل چه دا کلمات دیر دیر واښی ۞ اِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ : یقیناً دغه



اللّٰهُ ۗ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۷۴﴾ اِنَّمَا ذٰلِكُمُ

الله ﷻ او الله ﷻ خاوند د فضل لوئے دے ۔ یقیناً دا جاسوس ئے ولیږه

الشَّيْطٰنُ يُخَوِّفُ اَوْلِيَآءَهٗ ۪ فَلَا تَخَافُوْهُمْ وَ

شیطان دے ، ویروی تاسے لره د دوستانو خپلوونه ، پس مه ویریږئ د دوی نه ، او

خَافُوْنِ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۵﴾ وَلَا يَحْزُنْكَ

دوی ویریږئ زما نه ، که ئے تاسے پاکستی ایمان دار ۔ او غمجن د نکړی تاله

الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ ۚ اِنَّهُمْ لَنْ يَّضُرُّوا

هغه کسان ، چه جلتی کوی ، په کار د نوو کفر کښ ، یقیناً دوی هیڅ به ضرر نشی رسولے

اللّٰهَ شَيْـًٔا ۗ يُرِيْدُ اللّٰهُ اَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِي

الله ﷻ هیڅ ، اراده کوی ، الله ﷻ چه ونګړی دوی ، دوی لره ، حصه برخه ، په

الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

آخرت کښ ، او خاص دوی لره ، عذاب ، لوئے دے ۔ یقیناً هغه کسان

اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ۚ

چه اخستے دے ، کفر ، په بدله د ایمان کښ ، هیڅ به ضرر نشی الله ﷻ ته هیڅ ،

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۷﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ

او دوی دپاره ، عذاب دردناک دے ۔ او هیڅ به وخیال نکوی هغه کسان چه

كَفَرُوْٓا اَنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ خَيْرٌ لِّاَنْفُسِهِمْ ۚ اِنَّمَا

کفر ئے کړے چه یقیناً مهلت ورکول مونږ دوی لره ، ښه دی ، دپاره د نفسونو د دوی ، یقیناً مهلت

نُمْلِيْ لَهُمْ لِيَزْدَادُوْٓا اِثْمًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ

ورکوو مونږ دوی لره چه زیاته کړی دوی ګناه کې او د دوی دپاره ، عذاب

مُّهِيْنٌ ﴿۱۷۸﴾ مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰى مَآ

خوار کوونکے ۔ نه دے الله تعالیٰ چه پریږدی مومنانو لره ، په هغه حال

اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ۗ

کې چه تاسے ئے پرې ، تر دے چه بیل کړی ، پلید ، د پاک نه ،



شیطان دے اوپه دیکښ هغه پروپیګنډه کوونکو ته اشاره ده ۔ یُخَوِّفُ : روح المعانی ج۴ ص۱۲۱ کښ معنی کوی : یُخَوِّفُكُمْ : ویروی تاسے لره ۔ یعنی مفعول به دلته محذوف دے ۔ وَلَا يَحْزُنْكَ : دا تسلی ده رسول اکرم ﷺ ته او په دے کښ د منافقانو ذکر دے او په دے کښ رښته ده او د نفع د یوسوال ده چه کافرانو ته ولے مالونه او عمرونه ورکړے شویدی ۔ اِنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ : یقیناً مهلت ورکوو مونږ دوی لره چه زیاته کړی ګناه کې ۔ استاذ محترم صیاء الدین رحمہ الله بد فرمایل د قرآنی کریم ان ترینه جوړوم ۔ مَا كَانَ اللّٰهُ : دا بل سوال جواب دے ۔ الوسی رحمہ الله ج۴ ص۱۳۸ کښ لیکی چه مؤمنانو مطالبه وکړه چه دوی ته وښائے غلامه ورکړے شی چه بیلتون پرے وکړی د مؤمن او کافر نو نازل شو دا آیت ۔

**مسئله** : مشرکان د دے آیت نه د علم غیب نفی د نبی علیه السلام د پاره دلیل نیسی حکمه چه په الخبیث کښ الف او لام د استغراق د پاره دی نو مراد ترینه ټول غیب دی جوابونه : (۱) په تلویح ضمناً کښ راځی چه په تعریف کښ استغراق لازم نه دے بلکه عهدی یا کښ اصل دے ۔ (۲) مطلب داچه اصل په الف لام کښ عهدی دی او دلته هم خاص علامه دی لکه چه محکښ د روح المعانی حواله ذکر شوه ۔ (۳) مفسرینو رحمهم الله ترینه بعض غیب اخستی دی او هغه هم د وحی په ذریعه دی نو غیب پاتے نشو ۔ وګورئ ص۱۹۲ بیضاوی ، ص۱۹۲ مظهری ، ص۳۰۴ خازن ، ص۱۹۹ جواهر او الهام الرحمٰن ص۸۲ ج۴

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ
او نۀ دے اللہ تعالیٰ چہ خبر کړی تاسے، پہ پټو خبرو باندې، او لیکن اللہ تعالیٰ
يَجْتَبِيْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۚ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ
غوره کوی، د رسولانو نه چا چہ وغواړی (او وحی ورکوی پس ایمان راوړئ پہ اللہ او پہ
وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۹﴾ وَلَا
او کہ ایمان مو راوړو، او ځان مو وپچ کړو، پس تاسو لره، اجر لوئے دے۔ او هیڅوک
يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ
ګمان نکړی هغه کسان چہ بخل کوی پہ هغه چہ ورکړی دوی تہ اللہ تعالیٰ، د فضل
فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ ۭ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۭ سَيُطَوَّقُوْنَ
خپل نہ، چې دا غوره دے دوی لپاره بلکہ دا بد دے دوی لپاره، زر د چې دوی غاړې تہ پہ
مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَ
هغه چې دوی بخل کړی پہ هغه پسې پہ ورځ د قیامت او خاص اللہ لره میراث د آسمانونو او
الْاَرْضِ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۸۰﴾ لَقَدْ سَمِعَ
د زمکے دے، او اللہ تعالیٰ پہ هغه عملونو چہ تاسے کوئی خبردار دے۔ یقیناً واورېدہ
اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ
اللہ تعالیٰ، وینا، د هغه کسانو چہ وائی یقیناً اللہ تعالیٰ محتاج دے او موږ
اَغْنِيَآءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَآءَ
غنیان یو، خامخا به لیکو هغه چې دوی وائی، او وژل د دوی انبیاؤ لره،
بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّنَقُوْلُ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۱۸۱﴾
ناحقه د دوی په خیال کې، او وبه وایو، وڅکئ، عذاب (د اور) سوزوونکی۔
ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ
دا عذاب به سبب هغه عمل د چې مخکې کړے لاسونو ستاسو او یقیناً اللہ تعالیٰ نه دے
بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۸۲﴾ اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ
پوره ظلم کوونکے په بندګانو باندې۔ دا هغه ګڼ دی چې وائی یقیناً اللہ تعالیٰ، لوڅ کړے



تہ هغه چې دوی ورته وائی ستومتیا کوی په روح د قیامت۔ د بخاری شریف ص۱۹۴ حدیث دے او مشکوٰۃ ص۱۸۴ کښې هم دے چې نبی علیہ السلام فرمائی چا لره اللہ تعالیٰ مال ورکړی او زکوٰۃ ترینه ادا نکړی نو ځان به شی ترینه ګنجے مار او دوه لړه به ډډه کې پکې په سر وی او ژغاړے نه به ئے تاؤشی په روح د قیامت او به وخکو به ورله پکونه ورکوی او ورته وائی چې ځه د مال یم، ځه د خزانه یم۔ بیا ئے دا ایت تلاوت وفرمایلو۔ وګورئ قرطبی ص۲۹۱، ابن کثیر ص۳۳۱، جواهر ص۲۰۱، الهام الرحمٰن ص۸۳

لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ: د دے خائے نه ترمذی ص۱۹۹ پورے درې باب دے۔ په دیکښې درې قسمه حتونه د اهل کتابو ص۱۵۱، ۱۵۳، ۱۵۴ او مابین کښې ترغیب الی الجهاد والانفاق دے ص۱۵۵ تہ ۱۵۶۔

اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ: کله چې الله تعالیٰ په جهاد کښې ترغیب مال لګولو نه په قرض سره ورکړو نو ځه وی ووایل چې الله تعالیٰ فقیر شوی دے قرض غواړی نو باری تعالیٰ ولې زور نه کړی۔ وګورئ بقره ۲۴۵ حدید ۱۱ تہ ۱۵۔

بِظَلَّامٍ: دا د مبالغے صیغه ده۔ معنی ئے چې ډیر ظلم کوونکی، خو دلته مبالغه نده مراد بلکه معنی ئے دا ده چې نه دے هیڅ ظلم کوونکے۔ وګورئ مثلاً ال عمران، مثلاً یونس ۹

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اِلَيْنَآ اَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ حَتّٰى يَاْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ
موښه سره، چه ایمان به نه راوړو په رسول باندې، تر دې چه راوړي موږته دا سې قربانی
تَاْكُلُهُ النَّارُ ۭ قُلْ قَدْ جَاۗءَكُمْ رُسُلٌ مِّنْ
چه خوری هغه لړ اور، اووایه، یقیناً راغلی تاسوته دمخه رسولان، محکښې
قَبْلِيْ بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالَّذِيْ قُلْتُمْ فَلِمَ
ځانه، په واضحه ډیلونو، اوبه هغه شی چه تاسې وایئ، پس ولے مو
قَتَلْتُمُوْهُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝۱۸۳ فَاِنْ كَذَّبُوْكَ
وژل هغوی لړ؟ که چرې یاسې ریښتیا ویونکی - پس که چرې دروغژن کړی تا لره،
فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ جَاۗءُوْ بِالْبَيِّنٰتِ
پس رښه کړ یقیناً دروغژن کړے شوی دا دمخه رسولان محکښې نښانه، راتلله ځکه ډیر واضحه دلیلونه
وَالزُّبُرِ وَالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ۝۱۸۴ كُلُّ نَفْسٍ ذَاۗىِٕقَةُ
اوصحیفې، اوکتاب روښانی کونکی - هر نفس، څکونکے د
الْمَوْتِ ۭ وَاِنَّمَا تُوَفَّوْنَ اُجُوْرَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ
مرګ دے، اوبیشکه پوره به درکړے شی بدلے ستاسې په ورځ د قیامت،
فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَاُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ
پس څوک چه لرے کړے شو، د اور نه، اوداخل کړے شو جنت ته، پس یقیناً
فَازَ ۭ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ۝۱۸۵
کامیاب شو، اونه دے ژوند نږدے، مګر څه د دهوکے دے -
لَتُبْلَوُنَّ فِيْٓ اَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ ۡ وَلَتَسْمَعُنَّ
خامخا یقیناً امتحان به وکړلیمې پیسو مالونو ستاسې کښې، اوخامخا یقیناً به واورئ
مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ
تاسې څخه کسانو نه چه ورکړے شوی دے کتاب، محکښې ستاسونه، اودهغه
الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اَذًى كَثِيْرًا ۭ وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَ
کسانو نه چه شریک ګرځولے دی، ډیر ډیر تکلیف، اوکړے صبر مو وکړو، او

منزل

نسبی

نسبی

اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ اِلَيْنَآ: شاه عبدالقادر رحمه الله فرمائی چه داد دروغو بهانے وے - (موضح القرآن) او مدارك په ۱۹۸ کښې فرمائی چه دا دعوی باطله او دروغ ترڅو دی په الله تعالیٰ باندے - فارسی کښې مثل دے: خوئی بهانے بسیار - "فَاِنْ كَذَّبُوْكَ": دلته جزاء محذوفه ده - یعنی صبر کوئی یا مُخفه کیږئ او دے آیت کښې تسلی ده - وګورئ ۲۲ حج، ۳۵ فاطر - "كُلُّ نَفْسٍ ذَاۗىِٕقَةُ الْمَوْتِ": سورة انبیاء ۳۵ وګورئ - پښتو کښې مصرعه ده: ے

څمایه مرګ خوشحالی مکړه: مرګ شمال دے هره ونه خوږوینه

فَقَدْ فَازَ: پس یقیناً کامیاب شو - شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل پس دا شو زنده باد - لَتُبْلَوُنَّ: په دے آیت کښې تشجیع ده په جهاد او انفاق باندے ۞

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



تَتَّقُوْا فَاِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۸۶﴾ وَاِذْ

تقوی سرو کړئ، پس یقیناً دغه ، د مضبوطو کارونو نه دی - او کله چې

اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

واخستله (الله تعالیٰ) مضبوط لوظ، د هغه کسانو نه چې ورکړے شوے وو هغوئ کتاب

لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ فَنَبَذُوْهُ

چه خامخا یقیناً واضحه به کړئ یا نوی خلقونه، او نه به پټوئ تاسو هغه پس وے غورځولو هغه

وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ

روستو ورځ کانو خپلونه، او واخستلو په دغه، قیمت ... لږ (دُنیا)

فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ

پس بد دے هغه چه دوی واخستلو - هیڅرے گمان مکوئ، په هغه کسانو نه چه

يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اَتَوْا وَّيُحِبُّوْنَ اَنْ يُّحْمَدُوْا

خوشالیږی په هغه کار چه کوی (حق پټول) او مینه ساتی چه ستائنه دوئ شی،

بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ

په هغه کار چه نه دے کړے، پس یقیناً مه گمان کوئ په دوی باندې په خلاصیدلو سره د:

الْعَذَابِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۸۸﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ

عذاب نه، او خامخا دوی لره عذاب دردناک دے - او خامخا الله تعالیٰ لره بادشاهی

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ

د آسمانونو - او د زمکے ده، او الله تعالیٰ په هر — شی دے،

قَدِيْرٌ ﴿۱۸۹﴾ اِنَّ فِىْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

قدرت لرونکے - یقیناً په پیدائش، د آسمانونو، او زمکه کښې،

وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِى

او په تلو راتلو، د شپے، او ورځے کښ خامخا دیر دلیلونه دی د هغه کسانو

الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۰﴾ الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيَامًا

خاوندانو د عقلونو: هغه کسان چه یاد کوی .... الله تعالیٰ لره، په ولاړ سے

---

مَنْزِل ۱

۱۸۶ - تَتَّقُوْا یُحَمَّلُ عَلٰی، اولښ صفات د مؤمنانو او هغوی لره بشارت - او اخری آیت کښ اعاده د دوه ځله ده - اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ: دلیل عقلی دے او بقرہ ۱۶۴ کښ: اهم تفصیلی ذکر شوے آیات: خامخا واضح دلیلونه دی په توحید د الله تعالیٰ باندې - معارف ۱۶۴ کښ پرے دا شحر لیکلے دے:

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ

اوپه ناستے ، او به اړخونو ځهلو پاسے ، او فکر کوی دوی ، په

خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ

پیدا کیدلو د آسمانونو ، او زمکے کښې د اوسیدونکو د پیدا کولو تا ـ

هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۹۱﴾

دے لږه بے فائدے ، پاکی بیانوو ستا ، پس ژغورنه مونږ ، د عذاب د اور نه ـ

رَبَّنَآ اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ ۭ

اے ربه زمونږه ! یقیناً ته هغه څوک چه ننه باسے ، اور ته ، پس یقیناً ته رسوا کړ هغه لږه ،

وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿۱۹۲﴾ رَبَّنَآ اِنَّنَا سَمِعْنَا

او نشته د ظالمانو د پاره ، څوک امداد یان ـ اے ربه زمونږه ! یقیناً مونږ واورېدلے ،

مُنَادِيًا يُّنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ

د یو اواز کوونکی چه اواز کوی ایمان ته ، چه ایمان راوړی به یاالله نکی خیل ،

فَاٰمَنَّا ۣ رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا

پس مونږ ایمان راوړو ، اے ربه زمونږه ! پس بخښنه او کړه مونږ ته ګناهونه زمونږه ، او لرې کړه مونږ

سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْاَبْرَارِ ﴿۱۹۳﴾ رَبَّنَا وَاٰتِنَا

ګناهونه زمونږه ، او وفات مو کړه به ملګرتیا د نیکانو نوکښې ـ اے ربه زمونږه ! او راکړے مونږ ته

مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ

هغه چه وعده مو کړے مونږ سره ، په ژبو د رسولانو ستا ، او مه موشرمولے مونږ به ورځ د

الْقِيٰمَةِ ۭ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾ فَاسْتَجَابَ

قیامت کښې ، یقیناً ته خلاف نکوے ، د وعدې خپلے نه ـ پس قبولتها وکړه ،

لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّيْ لَآ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ

دوی لره ، رب د دوی چه یقیناً څه نه برباد وومه ، عمل د یو عمل کوونکي ستاسے نه ،

مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۚ

که نارینه وی : او که ښځه ، بعض ستاسو نه د جنس د بعضو نه دی ،



آل عمران ، ۳ ظهر ، ۱۳ مطففین ـ عَلٰى رُسُلِكَ : ابن کثیر رحمه الله په ۴۳۶ کښې لیکی عَلٰى اَلْسِنَةِ رُسُلِكَ ، په ژبو د پیغمبرانو ستا ـ آیت ۱۹۵ کښې بشارت او یو څو صفات دی ـ لَآ اُضِيْعُ : نه برباد وومه ـ ۴ مؤمن ، ۱۲۴ نساء ، ۱۲۴ طٰهٰ هم وګورئ ۞

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



لَا يَغُرَّنَّكَ : دلنہ نہ ورھیدہ مِنَ الدُّنْيَا : بے رغبتی دَ دُنیا نہ وکہ ۔ ۴ انعام ، ۱۸ کہف ، ۲۴ مؤمن ، ۲۰ حدید وکورئ ۔ او آیت ۱۹۶ کښ بشارت او ۱۹۹ کښ صفات وحق پرستو علماؤ دی ۔ لَا يَسْتَخِفَّنَّكَ ۳۰ (نوټ : مړے خامخہ نہ وَ راتلو لکی مخ (۲۱) تفسیر شروع شو) ۲ بقرہ ۱۸۵ ، ال عمران ۴۳ ماښام کا هم وکورئ :

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا ، د ۲۰۰ آیت د ټول سُورت خلاصه وکه ۔ مَدَارِك معنی کوی په ۲۱۳ کښ چه صبر وکړی په دین او تکالیفو دهغه باندې ۔ شیخ الهند رحمۃ الله فرمائی : وَصَابِرُوْا : او په مقابله کښ مضبوط وسیدئ ۔ جلالین په ۱۰۵ کښ لیکی وَرَابِطُوْا ای اقیموا او سیدئ په جهاد باندې او قرطبی ۴۲۱ کښ دی چه وَسُمِّيَ الْمُقَامُ فِي الثَّغْرِ رِبَاطًا اسونه ۔ حاصل دا چه اِصْبِرُوْا کښ اشاره وکه توحید اور سالت ته او صَابِرُوْا کښ جهاد ته او رَابِطُوْا کښ انفاق ته او په اتَّقُوا اللّٰهَ کښ هم توحید ته اشاره ده ۔ او رِباط د اسلامی ملک سرحد ساتلو ته هم وائی ۔ حدیث کښ راځی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فرمائی چه دیوے ورځے رباط د الله تعالیٰ په لاره کښ د دُنیا او مافیها نه بهتر دی (بخاری ۴۰۰ قرطبی) او دَجَمع وَمانځه پابندی او دَ نیو موسمونو کولو نه بعد د بل موسم په انتظار کښ اوسیدل هم رباط فی سبیل الله دے ۔ (معارف ۲۰۰) حافظ ابن کثیر رحمۃ الله په ۴۰۰ کښ د عبد الله بن مبارك رحمۃ الله د جهاد په بارہ کښ لیکلے شوے قصیده د فضیل بن عیاض رحمۃ الله نه رانقل کړیده ۔ احقر په الهام الرحمٰن ۸۰۰ کښ هم لیکلے ده ۔ هلته ئے وکورئ ۔

**امتیازات** د سُورت د ختمیدو نه پس دا واضحه شوه چه دیر امتیازات ئے دی ، بعض دا دی : (۱) جوابونه د هغے شخصے چه رالله په بارہ د هیسیانو کښ (۲) کنړ قبائلو ډیهودو (۳) پنځه قوانینو د جو رولو د جماعت (۴) واقعه د بدر او د اُحد (۵) غورځولے والے د ډیرے اُمت مثلے (۶) مباهله د نصارا و سره مثلے (۷) شانِ صحابه ۱۵۲ (۸) د اُولوالالباب

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ٹیلٹ کام

صفات د ۱۹۰ نه ۲ تسمیه: لفظ د نساء پکښ تقریباً شل ځایه راغلے دے نو څکه د ورته سورته نساء والی اوادیے د ښځو حقوق او احکام پکښ ذکر دی. دعوی: ارشاد د امور و مصلحتونو دے چه انتظام کوی د جهاد.



إِلَيْكُمْ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِمْ خَٰشِعِينَ لِلَّهِ لَا

تاسو نه، او په هغه چه نازل کړے شوے دی، د وی نه، عاجزی کونکی د الله نه،

يَشْتَرُونَ بِـَٔايَٰتِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ

اخلی، په ایتو نو د الله تعه، عوض لږ (دنیا)، دغه کسان،

لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ

د وی لره: اجر د وی د، په نزد د رب د وی، یقیناً، الله ﷻ، چلد

ٱلْحِسَابِ ﴿١٩٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱصْبِرُوا۟

حساب کونکے دے۔ اے ایمان والو! صبر کوئ،

وَصَابِرُوا۟ وَرَابِطُوا۟ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ

او وینا د صبر کوئ، او نیاری کوئ د جهاد، او وریږی د الله ﷻ نه، د پاره د دے چه تاسے

تُفْلِحُونَ ﴿٢٠٠﴾

کامیاب شئ۔

سُورَةُ النِّسَآءِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَسِتٌّ وَسَبْعُونَ اٰيَةً وَّاَرْبَعٌ وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

سورۀ نساء مدنی ده او د "۱۷۶" (ایتو نه) او "۲۴" رکوعونه لري۔

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

په نوم د الله تعه، چه بخښونکی، مهربانه د (شروع کوم خدے)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم

اے خلقو! ووریږی د رب خپل هغه ذات نه چه پیدا کړی دی تاسے

مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا

د نفس یوونه، او پیدا کړے د هغې نه جوړه د هغه،

وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَآءً ۚ وَٱتَّقُوا۟

او خوارۀ کړی د دواړونه، سړی ډیر، او ښځې (ډیرے) او ووریږی

ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلْأَرْحَامَ ۚ

د الله هغه ذات نه، چه د یو بل نه سوال کوئ د هغه په نوم، او ووریږی د پرې کولو د رحمونو نه،

ع ۱ ۱۱ — منزل

دی مؤمنانو لره ع ۱، ص ۱۴۰، ع ۲۰۔ يَٰٓأَيُّهَا النَّاسُ: په اول ایت کښ لفظ د تقوی دوه ځله ذکر کړے دے او د نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ نه مراد آدم علیه السلام دے۔ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا: معنی ئے دا ده او پیدا کړی د د جنس د هغه نه جوړه د هغه چه حوا رضی الله عنها ده۔ وګورئ "کبیر" ص ۱۶۰ او "روح" ص ۱۹۱ د تائید لپاره ع ۱

Scanned with CamScanner

د سورۀ نساء صفاتی سورۀ څلورم دے په ترتیب کښ او په نزول کښ ۹۲ پس د مکے څخه ۲

او ادیے د ښځو حقوق او احکام پکښ ذکر دی. دعوی: ارشاد د امور و مصلحتونو دے چه انتظام کوی د جهاد.

اوتا ئید د توحید کوی. الطوئه: (۱) محکمات مقاصد ذکر شوی نو د الله امور منتظمه ذکر کوی (۲) محکمات اصلاح د عقیدے دے نو اوس اصلاح د معاشرے ذکر کوی. (۳) سورۀ بقره کښ زیات خطاب یهود و سره دے او په آل عمران کښ نصارا. د سورۀ د نزول لره زیات خطاب د مؤمنانو سره دے او د آهغه درے ځله دی چه فاتحه کښ بیان شوی دی. (۴) آل عمران په تقوی ختمیږی او د اسورت په تقوی شروع شو. (۵) بقره کښ د جهاد صفات، ذکور جوړښت او د ملک د امن قواعد ذکر شوی، او آل عمران کښ د جماعت د جوړولو اصول نازل شوی د رأی او رعیت احکام ذکر کوی. اجمالی خلاصه: د اسورت درے حصے دے. اوله ترعه ۵ پورے او په دیکښ د رعیت ۱۶ احکام دی. دوهمه حصه تر عه ۱۳۴ پورے او په دیکښ الله احکام دی د رأی او رعیت په باب کښ. او دریمه حصه تر اخره پورے ده او په دیکښ تخویفات، زواجر او بشارات دی. وګورئ ضمیمه الدرر ص ۲۹۴.

تفصیلی خلاصه: اولنی حصه کښ درے پاڅولونه تر عه ۳۶ پورے، په دیکښ اول ترغیب عه ۱ بیا شپاړس احکام په عه ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۳۱، ۳۲، ۳۳، ۳۴، ۳۵، ۳۶ - ما بین کښ درے تخویفات عه ۳ - ما بین کښ درے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ① وَآتُوا الْيَتَامَىٰ

یقیناً اللہ تہ وے، پہ تاسے باندے، نگران۔ اوورکړئ یتیمانو تہ

أَمْوَالَهُمْ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ ۖ

مالونہ دھغوی (چہ کلہ بالغان شی) اومټ بدلوئ، پلیت لرہ پہ بدل دپاک پاندی

وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ إِلَىٰ أَمْوَالِكُمْ ۚ إِنَّهُ كَانَ

اومټ خورئ، مالونہ دھغوی، سرہ دمالونو پہ یو، یقیناً دا دہ،

حُوبًا كَبِيرًا ② وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي

گناہ لوی۔ اوکہ ویرہ یئ چہ انصاف بہ ونکړئ، پہ

الْيَتَامَىٰ فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ

یتیمانو نوچې کوئ پس نکاح وکړئ دھغو سرہ چہ حلالے وے تاسو تہ دبنځونہ،

مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ۖ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا

دوہ دوہ، اودرے درے، اوکلورث غلورے، پس کہ ویرہ یئ چہ انصاف بہ ونکړئ پہ

فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ

پس غورہ کړئ یوہ، اویا هغہ چہ مالک ئے دی بنی لاستہ ستاسے، دا پدیرہ نزدے دہ

أَلَّا تَعُولُوا ③ وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً ۚ

چہ ظلم سرہ ونکړئ۔ اودرکړئ ښځو تہ، مهرونہ دوی، پہ خوشالئ سرہ،

فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ

پس کہ دوی تاسو تہ، خپلے، دمهرونہ پہ خوشئ زړہ سرہ پس خورئ دہ

هَنِيئًا مَرِيئًا ④ وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ

لہ مبارک، هضم کیدونکے۔ اومټ درکوئ بے وقوفانو تہ، مالونہ دهغوی چہ تاسے سرہ

الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ

دی هغہ چہ کړلو ئے دی اللہ تعالیٰ تاسی پارہ، ذمہ داری، اورزق ورکړئ دوی تہ،

فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَعْرُوفًا ⑤

پدیو کښ اوجامے ورلہ، کوئ، اووایئ دوی تہ، ښائسته۔

منزل

کبلی رائی چہ رسول اللہ ﷺ فرمایلی دی ښځو پسان دپښتئ دوہ کہ ښځو کوسے نو مناسبہ بہ ئے کړے: اوکہ نفقہ پرے اخلے نو نفقہ بہ پرے اخلے اوبہ دیکښ بہ کور والے دی۔ نو دلتہ ئے عامہ ښځہ ذکر کړے دہ۔ وَالْأَرْحَامِ: معنی ئے دادہ چہ ویریږئ وقطع کولو دخپلوالئ نہ۔ (مدارک ص۱۹۴) پہ ۴ کښ اول حکم دیتیمانو نو سرہ انصاف اوبہ ۴ کښ دویم حکم دیتیمانو نوچینکو سرہ انصاف دے قَوَاجِدًا: پس غورہ کړئ توکلرہ۔ أَلَّا تَعُولُوا: دا دیرہ نزدے دہ چہ ظلم بہ ونکړئ۔ (ابن کثیر ص۴۵۱) صَدُقَاتِهِنَّ: مهرونہ دهغوی۔ مهرتہ ئے صدقہ اوصداق ځکہ ویلے دے چہ پہ دے ظاهر پرتہ صداقت دمیلان دسړی ښځے تہ۔ (معارف ص۱۹۴) نِحْلَةً: پہ خوشئ سرہ۔ غرائب القرآن ص۱۲۷ کښ دی: أَيْ عَنْ طِيبِ نَفْسٍ۔ پہ دے آیت کښ دریم حکم إعطاء الْمَهُورِ: ورکول دمهرونو دی ښځو تہ۔ پہ ۴ آیت کښ ظلم دحکم دے چہ سفیهانو تہ مال صدرکوئ او همدردی ئے وکړئ وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا: (دا د ص۱۲۳ سرہ متعلق دے) شیخ القرآن رحمہ اللہ بہ فرمایل چہ څوک غنی وی د تصرف اوکسب نہ پہ مال یتیم کښ۔ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا: اوځوک چہ محتاج وی پہ کسب کښ مال دیتیم تہ۔ پہ ۴ کښ پنځم حکم دے چہ میراث دنارینو اوزنانو دواړو دپارہ دے، دجاهلیت ظلم ئے منع کړہ۔ وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ: دا آیت کریمہ دمشکلو آیتونو دقرآن پاک دے۔ څو توجیہ کانے پکښ دی: (۱) دا حکم اولے دو اوبیا

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى حَتّٰٓى اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ ۚ فَاِنْ اٰنَسْتُمْ

او امتحان کوئی یه یتیمانو، ترمے چه کله وُرسی، نکاح ته، پس که معلومه موکړی؛

مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوْٓا اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ ۚ وَلَا تَاْكُلُوْهَآ

دَ دوی نه هوښیاری، پس ورکړی دوی ته، مالونه دَ دوی، او مه خوړئ مالونه دَ دوی

اِسْرَافًا وَّبِدَارًا اَنْ يَّكْبَرُوْا ۭ وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا

په زیاتی، او په چلدئ دَ دیرَ ځکه چه لوی به شی، او څوک چه وی مالدار پرے حاجت دَ

فَلْيَسْتَعْفِفْ ۚ وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ ۭ

کښته، پس ځان وِ ساتی ترینه، او څوک چه وی محتاج پس خوړلے دَ دی (دهغه نه پرے کړی)

فَاِذَا دَفَعْتُمْ اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ فَاَشْهِدُوْا عَلَيْهِمْ ۭ

پس کله چه ورکوئ، دوی ته، مالونه دَ دوی، پس گواهان ونیسئ پرے دوی باندے،

وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۝ لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا

او کافی وے الله (ج)، حساب کونکے۔ دیارلسم رکوع۔ برخه ده، دهغه مال نه

تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ۠ وَلِلنِّسَاۗءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا

چه پرےښی مور او پلار، او خپلوانو، او ښځو دَ پاره، برخه ده، دهغه نه

تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ اَوْ

چه پرےښی مور او پلار، او خپلوانو دَ دوی، دهغه مال نه چه کم دی (که) ډیر

كَثُرَ ۭ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ۝ وَاِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ

زیات وی، برخه مقرر کړے شوے۔ او کله چه حاضر شی دَ تقسیم کولو دَ پاره،

اُولُوا الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنُ فَارْزُقُوْهُمْ

خاوندان دَ خپلولئ، او یتیمانان، او مسکینان، پس ورکړئ دَ دوی ته

مِّنْهُ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝ وَلْيَخْشَ

دهغه نه، او وایئ دَ دوی ته، وینا ښه کړے شوے۔ او وِ ویرےږی،

الَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا

هغه کسان که پرےږدی، دَ روستو خپلو نه، اولاد، کمزورے،

منزل ۱

هر څوک رحم کوی نو دَ غسے وِ په نورو ضعیفانو هم رحم وکړی ✣ ✣ ✣

پـه آیت دَ میراث باندے منسوخ شو۔ وګورئ روح المعانی ص۱۱۲، قرطبی ص۹۲ ج۵ (۲) دا حکم استحبابی دے او مُراد دَ أولی القربیٰ نه غیر ورثه دی او دَ یتیمانانو او مسکینانو نه اجنبیان دی۔ وګورئ مدارک ص۱۰۲، الفوز الکبیر ص۱۸ ج۱ لاکن په دے توجیه باندے دا اعتراض راځی چه پدرو ستو ایتو نو کښ وعید دَ راځی او په ترک دَ مستحبو خو وعید نه راځی نو درمه توجیه دے آیت کښ دا وجه چه دَ أولی القربیٰ نه مراد خپلوان میراث خوارَه دی او الیتمیٰ والمسکین ورله عطف تفسیری دے او دا دَ دے دَ پاره چه حقوق ئے ضائع نشی او په دے توجیه سره آیت منسوخ نشو: او راروان زجرونه پرے قرینه دَه۔ وګورئ جواهر ص۲۱۲ ج۱ شیخ القرآن رحمه الله به هم فرمایل چه منسوخ نه دے او حکم مشرانو دَ ورثو ته دے، چه یتیمانانو او مسکینانو وَرثو ته خرچه وکړی او بنهٔ وینا ورته وکړی چه تقسیم به په قرار وکړو۔ وَلْيَخْشَ: دا تاکید دے دَ مخکښ دَ پاره: مطلب دا چه په خپلو وی و

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

إِنَّ الَّذِينَ عنا ندجنت وعید دے۔ دَمشکوٰۃ شریف مے کښی حدیث دے چہ نبی علیہ السلام فرمائی چہ دَ اُوو هلا کونکو کښ هوتونه څان وساتئ نو صحابه کرامو عرض وکړو چه اے دَ الله رسوله اکوے دی دغه - هغوی



وفرمایل (۱) شرک کول دَ الله سره (۲) اوجادُوکول (۳) اووژل دَنفس هغه چه حرام کړے الله تعالیٰ مګر په حقه سره (۴) اوخوړل دَسود، (۵) اوخوړل دَمال دَیتیم (۶) او په شا راګرزیدل په وخت دَ ګډو سره دَکفارو (۷) اوتور لګول په پاکه لمنو مؤمنانو تو ناخبرو باندې (متفق علیه)۔ **واقعه**: جناب مفتی صاحب رحمه الله په "معارف ج۲ ص۳۱۳" کښ لیکی: دلته صوبه دَیو بزرګ واقعه نقل کوو چه دَهغه مسئله نوره زیاته واضحه کیږی دے بزرګ دَیو مسلمان دَعیادت دپاره تشریف یووړو۔ لږ غوندې دَمریض خواته ناست وو چه دَ هغه روح پرواز وکړو۔ په دغه موقعه چه کومه چیغه یا بلید اهغوی فوراً هغه مړه کړه اودَ خپل طرفه ئے پیسے ورکړے اوتیل ئے راوغوښتل اورنړا ئے وکړه۔ په "رساله قشیریه" ص۱۰۱ دَعبدالکریم قشیری رحمه الله کښ دی چه دے فرمایل چه دے وخته پورے تیل دَهغه وُ او اُوس دَ وَرثو شو۔ احقر په "الهام الرحمن" ص۱۰۲ او زَدِ بد عادت ګڼلے کښ هم دا واقعه ذکر کړے ده۔ **یُوصِیکُمُ اللّٰهُ**: شپږم حکم۔ مال په ځانونو شرعی بانډې تقسیم کړی۔ حافظ ابن کثیر رحمه الله په "ص۴۵۵ ج۱" کښ لیکی چه اهلِ جاهلیت به ټول میراث سړو له ورکولو اوښځو ته ئے نه ورکولو فرمایل الله تعالیٰ امر وکړو په برابرۍ سره په ځامابین دَدوی کښ په اصل میراث کښ۔ په دے آیت کریمه کښ شپږ صورتونه دَمیراث دی او په ۱۲ کښ هم شپږ نور قول دوُلس صورتونه شو۔ **فَوْقَ**: معنی ئے دا ده چه دوه یا زیاتے دَدوُ نه ګڼلے چه میراث کښ دَدوُ حکم دَهغو دے۔ ګورئ "روح المعانی ج۴ ص۱۲۶"۔ **ثُلُثَا**: دوُ حصے دَدریونه مطلب دا چه مال به دُرے حصے شی نو دوه به ترینه دوی تدورکړے شی، یوکا به دَنورو وَرثو شی۔



Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُنَّ

وتاسو لرلا نمائی هغوی چه پریښی ښځو ستاسو، که نه وی، دوی د پاره،

وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ

هیڅ اولاد، پس که وی لره: اولاد، پس تاسو لره څلورمه ده هغه چه پریښی دوی

مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۚ وَلَهُنَّ

پس د وصیت پوره کولو چه وصیت وکړی په هغه او پس د اداکولو د قرض، او دوی لره

الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ فَإِنْ كَانَ

څلورمه ده هغه مال چه پریښی تاسو، که نه وی تاسو لره اولاد، پس که وی

لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِّنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ

تاسو لره اولاد، پس دوی لره اته حصه د هغه مال چه تاسو پریږدئ، پس د پوره کولو د وصیت

تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۗ وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّورَثُ كَلٰلَةً

چه وصیت سره یې کړے وی او پس د اداکولو د قرض نه، او که وی سړے چه میراث ترې وړے کیږی ټکوړ

أَوِ امْرَأَةٌ وَّلَهٗ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا

او یا ښځه میراثی، او وی لره ورور یا خور (اخیافی) نو که، پس د هغوی دواړو د پاره

السُّدُسُ ۚ فَإِنْ كَانُوْٓا أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ

شپږمه حصه ده، پس که وو دوی زیات د دے نه، پس دوی شریکان دی

فِي الثُّلُثِ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوصٰى بِهَآ أَوْ دَيْنٍ ۙ

په دریمه حصه کښې پس د پوره کولو د هغه وصیت نه چه وصیت وشی په هغه، او د اداکولو د قرض نه،

غَيْرَ مُضَآرٍّ ۚ وَصِيَّةً مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۲﴾

(حالانکه) نه ضرر رسوونکی، کلک حکم دے د الله څخه او الله ښه علم والا دے صبر کوونکے دے۔

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

دغه پولے د الله دی، او چا چه تابعداری وکړه د الله او د رسول د هغه،

يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ

داخل به کړی هغه به جنتونه، چه بهیږی په لاندے د هغوی کښې

منزل

نقل دے چه تاسے دا آیت تولئی او رسول الله ﷺ فیصله کړے په قرض اداکولو مخکښې د وصیت پوره کولو نه۔ علامه ابن الجزی رحمه الله په تسهیل ص۱۳۲ کښې د دے وجه لیکی، فرمائی چه وصیت له مخکښ کړو په قرض باندې او قرض مقدم دے په وصیت باندې په شریعت کښې د پاره د اهتمام په پوره کولو دے او د تاکید د پاره د دے امر نه په دے اوچه سستی ونشی په وصیانو او قرض له روستو کړو ځکه چه قرضدار ته غواړی نو حاجت پکښې تاکید ته نشته په امر کښې۔ کلالة: د ابوبکر او عمر او ابن عباس او نور و صحابیو رضی الله عنهم نه نقل دی چه کلالة هغه چا ته وایی شی چه نه اولاد پریږدی او نه پلار۔ (ص۳۶۱ ابن جریر، ص۳۶۲ ابن کثیر، ص۳۶۳ فتح القدیر، د کوثری الهام الرحمن ص۳۰۰) وَلَهٗ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ: د ورور او خور نه مراد دلته اخیافی دی چه د مور له لوری دی او د پلار له لوری نه دی څکه چه د اعیانی او علاتی سګه اولاد سګه ورونو خویندو حکم د دے سورت په اخر کښې دے۔ فائدہ: په اول آیت کښې د ذوی الفروض نسبی۔ او په دے آیت کښې سببی، او اخیافی مراد خویندو حصے ذکر شوی دی۔ او دا شپږم حکم د احکامو د وراثت نه دے چه حال په قانون څلورمی

بشارت ۱۳

تقسیم کړی۔ غَيْرَ مُضَآرٍّ: شیخ القرآن رحمه الله به فرمایی چه معنی ئے ده دا ده: شی نه ضرر رسوونکی، کوئی اعلیٰ مضار په آیت کښې بشارت دے منونکو د میراث لره۔ او په ځکه کښې سخت تخویف د نه منونکو د پاره۔ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ: احکام الهیه ترپولے ځکه وائی چه په هغے کښې زیاتے کمے کول منعه دی۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۳﴾ وَمَنْ
هميشه به وسيږي ګه هغوي کښې اودغه کاميابي لويه ده۔ اوچا چه
يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ
نافرماني وکړه د الله تعالیٰ او د رسول ډهنډ، اوتجاوز ئې وکړ د هغه لوډهنډ ته داخل به ئې کړي
نَارًا خَالِدًا فِيْهَا وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۴﴾ وَالّٰتِيْ
اوږنه، هميشه به وي په دغه کښې اود ګه لره عذاب خوارکوونکی دے۔ اوهغه ژنانه
يَاْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا
چه راځي بې حيايئ ته، د ښځو ستاسونه، پس وارهان وغواړئ:
عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ
په هغوي باندې خلور د سړو ستاسونه، پس کړنې کواهي وکړي دوئ، پس حصار ئې کړئ دوئ
فِي الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ
په کورونو کښې، تر دے چه مرګ ئې دوئ لره، مرګ، اويا مقرر کړي
اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿۱۵﴾ وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ
الله تعالیٰ دوئ لره څه لار ه۔ اوهغه دوه کسان چه راځي بې حيايئ ته ستاسے نه،
فَاٰذُوْهُمَا فَاِنْ تَابَا وَاَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا
پس زوروئ ورکړئ دوئ لره، پس که توبه وکړي دواړه او اصلاح وکړي عمل خو ورته دواړو دوئ ډډوي نه
اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۱۶﴾ اِنَّمَا التَّوْبَةُ
يقيناً الله تعالیٰ دے، توبه قبلوونکے رحم کوونکے۔ يقيناً (قبلول د) توبے
عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ
په الله تعالیٰ: ډهنډ کسانو ذمه ده چه عمل ونکوي بد، په نادانۍ سره،
ثُمَّ يَتُوْبُوْنَ مِنْ قَرِيْبٍ فَاُولٰٓئِكَ يَتُوْبُ
بيا توبه اوځکي — د نزدے نه، پس دغه کسان، مهربانی کوي
اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۷﴾
الله تعالیٰ په دوئ باندې، او دے الله تعالیٰ، پوهه، حکمت والا۔

منزل

وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ: د پښتنۍ شیخ رحمہ اللہ په "جواهر ص۲۱۵" کښې فرمائی چه د "عصیان" نه مراد دلته کامله درجه ده۔ یعنی چه څوک په دے احکامو ایمان نه راوړی نو سزا ئے دا دے چه همیشه به په جهنم کښې اوسیږی۔ تائید ما ئل کا ص۳۴ کښې دے هلته "وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ" په معنیٰ "لَمْ يَعْتَقِدْ" دے چه عقیده ئے نه ساتی۔

وَالّٰتِيْ يَاْتِيْنَ ۱۵: په دے آیت کریمه کښې او د مرحکم حَبْسُ الْمُتَهِّمِيْن دے چه په چا تهمت اولګی نو قید ئے کړی۔ د پښتنۍ شیخ رحمہ اللہ فرمائی په ربط کښې چه یعنی لره: ضرور په میراث کښې حصه ورکړی لیکن که دوی نه زنا بنکاره شوه نو شرعی حکم پرے نافذ کړی (جواهر ص۲۱۱)

اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا: هغه مقرره لار د دوی دپاره رجم دے چه محصنه وی، او تل دُرے دی که غیر محصنه وی۔ بخاری شریف ص۹۶۵ کښې د ابن عباس رضی اللہ عنہما نه راځی یعنی رجم د ثیبو دپاره او دُرے دی د بیغلو پاکړو دپاره۔ سورت نور مے هم وګورئ۔ وَالَّذٰنِ: دا د ما قبل سره متعلق دے او مراد تر دے دوه نارینه دی چه بد فعلی وکړی۔ فَاٰذُوْهُمَا: پس زورنه ورکړئ دوی لره۔ د قاضی صاحب اختیار دے چه څنګه سزا ورله ورکوی۔ علامه لسفی رحمہ اللہ فرمائی په ص۲۱۲ کښې دا دلیل ظاهره دے د ابوحنیفه رحمہ اللہ دپاره چه تعذیر به ورکولے شی په لواطت کښې او حد به نشی ورکیدے۔ په مشکوٰة ص۳۱۳ کښې د ترمذی شریف حدیث دے چه رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیلی دی چه وبنه ګوری الله تعالیٰ چه غالب اولوئے دے هغه سزا ئے ته چه راځی سزا یا بخښے ته په روستونی لار ے کښې — اِنَّمَا التَّوْبَةُ: ترغیب دے توبے ته ابوبکر رازی رحمہ اللہ په "مسائل ص۳۳" کښې لیکی: اِنَّمَا التَّوْبَةُ: چه قبولوالے د توبے دهغه چا دپاره دے چه بد عمله کوی۔ بِجَهَالَةٍ: په نادانۍ سره۔ د مجاهد رحمہ اللہ نه "مدارک په ص۲۱۵ کښې

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

فقل کوی چه حوك نافرمانی د الله تعالی کوی هغه جاهل دے ترڅو چه منعه شی د خپل جهالت نه۔ مِنْ قَرِيبٍ: د غږ غږے او مرګ نه مخکښ (قرطبی ج۵ ص۹۲) وَهُمْ كُفَّارٌ: تائید کښ ع۵ یونس، ع۱۵ مومن وګورئ۔



وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ حَتّٰۤى
اونشته قبولوالے د توبے، د هغه کسانو توبه چه عمل نه کوی، د ډیرو د ترڅو چه
اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ اِنِّيْ تُبْتُ الْـٰٔنَ وَلَا
نږدے شی، یو د دوی ته: مرګ، وائی یقیناً ځه توبه اوباسم اوس اونه د
الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ كُفَّارٌ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعْتَدْنَا
هغه کسانو چه مړه کیږی، اووی دوی کافران، د هغه کسانو لپاره تیار کړی موږ
لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۸﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ
دوی لره عذاب دردناك ۔۔ اے ایمان والو د حلال نه دی تاسو لره
اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا ؕ وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا
چه میراث کښ واخلئ ښځې لره، په زور، اومه تنګوئ دوی لره چه و اخلئ،
بِبَعْضِ مَاۤ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اِلَّاۤ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ
بعض هغه مهر چه ورکړے مو دے دوی ته مګر کله چه راښکاره وکړی دوی په بے حیا ښئ
مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ فَاِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ
ښکاره، اوژوند ورسره دوی سره په ښه طریقه، پس که بده ښکاره
فَعَسٰۤى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ خَيْرًا
پس نږدے دی چه بد بګڼئ تاسو څیز ته، او پیدا به کړی الله تعالیٰ په هغه کښ ډیر
كَثِيْرًا ﴿۱۹﴾ وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ
ډیر لره۔ او که اراده وکړئ تاسو د بدلولو د یوے ښځے، په ځائے د بلے
زَوْجٍ ۙ وَّاٰتَيْتُمْ اِحْدٰىهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَاْخُذُوْا
ښځے، او ورکړے وی تاسے یوے ته د دوی ته، ډیر مال، پس مه اخلئ
مِنْهُ شَيْـًٔا ؕ اَتَاْخُذُوْنَهٗ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۲۰﴾
د هغه نه څه شے، آیا اخلئ تاسو هغه په بهتان لره په زیاتی، او ګناه ښکاره سره۔
وَكَيْفَ تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى بَعْضُكُمْ اِلٰى
او څنګه اخلئ د هغه لره؟ او حال دا چه رسیدلی کړے یدی، بعضو ستاسو
منزل ۱

ع ۳ ۱۲ ۱۲ ۱۲

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

وَلَا تَنْكِحُوْا: په دیکښې نهٔم حکم دے چې د پلار منکوحه په نکاح سره مه اخلئ. شیخ القرآن رحمۃ اللہ علیہ فرمایلې چې په دیکښې تعظیم د مشرانو دے. حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ: لسم حکم په دے آیت کښې د ۱۳ محرماتو زنا نوم بیان دے. یو قسم په دې آیت کښې او یو قسم په راروان آیت کښې دے نو یوولے پخلے شوے او دا دوے سورت د امتیاز لپاره یو امتیاز دے

بِنْتُ الْأُخْتِ: په وزیرو: او خورزو کښې اعیانی اولاتی او اخیانی پتولے دا خلے دی.

أَرْضَعْنَكُمْ: دلته د رضاعی خوښت صرف دوګه صورتونه دی حدیث د مسلم کښې راځی چې حرامیږی د رضاع نه هغه چې حرامږی د نسب نه. (ابن کثیر ص۴۶۹ ج۱ شاکر او شیخ رحمۃ اللہ علیہ نشر المرجان ص۱۶۲ کښې دا شعر لیکلے دے او په کښې د رضاع ګټ صورتونو شمول دی شعر دا دے: ؎

از جانب شیر دہ ہر خویش شوند
واز جانب شیر خوار زوجانے و فروع

معنی ئے دا ده چې د طرفه د شودو د رګوینکے نه د هغې پتول خاندان د زوړو د نکی د پاره خپلوان شو، او د طرفه د شودو د وونکی نه ټخ خاوند او بچی د دوی. مطلب دا که د زوړو نکے هلک وی نو د هغه د رضعی پلار اینګور شوه او کله چې وی نو د دې خاوند د رضعی مور د پاره زوم شو او د اړنګ د دوی بچی د رضعی مور او پلار د پاره نمسی شو. فِيْ حُجُوْرِكُمْ: چې ستاسی پرورش کښې وی. دا قید اتفاقی او عادتی دے. غالباً دا ده چې بر کتنې د مورسره د پلندر کره وی نو دا حکم عام دے وګورئ روح المعانی: مِنْ اَصْلَابِكُمْ: د شاګانو ستاسونه، په دیکښې د منبنی د ټخنے نه احتراز شوه هغه اینګور نه دی. وګورئ احزاب ۳۳: هغه ئے د جاهلیت د رسم تردید کړے دے:



بَعْضٍ وَّاَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿۲۱﴾ وَلَا
بعضونه، او اخیستے دے په ځنګ ستاسونه، لوظ مضبوط -:- او نکاح
تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا قَدْ
مکوئی د هغو سره چې نکاح د پلار انو ستاسو د ښځو نه ، مګر هغه چې تیر ے
سَلَفَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً وَّمَقْتًا ؕ وَسَآءَ
شوی، یقیناً دا ده بے حیائی ، او سپما د نفے ، او بده
سَبِيْلًا ﴿۲۲﴾ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ اُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ وَ
لاره ده - حرامے شوی ، په تاسو (نکاح) د مینځه ستاسو ، او لونړ ونستاسو او
اَخَوٰتُكُمْ وَعَمّٰتُكُمْ وَخٰلٰتُكُمْ وَبَنٰتُ الْاَخِ
خوښې وستاسو، او د ورور یا نو ستاسو او د مور د خوښې د ستاسو او د نو نړ و د ورور ،
وَبَنٰتُ الْاُخْتِ وَاُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْٓ اَرْضَعْنَكُمْ
او د لونړو د خور ، او د مینځه ستاسو هغه چې ئے د رکړې دے تاسو له،
وَاَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَاُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمْ
او خوښې د ستاسو د ژوند لونه ، او مینځه د ښځو ستاسو ،
وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِيْ فِيْ حُجُوْرِكُمْ مِّنْ نِّسَآئِكُمُ
او پرکتنې ستاسو هغه چې پرورش ستاسے کښې وی ، د ښځو ستاسو هغو
الّٰتِيْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ ۫ فَاِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ
نه، چې ځښت کړے تاسے د هغوی سره، پس که چیرے نه وی تاسے چې ځښت مو کړے د هغو سره
فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ ۫ وَحَلَآئِلُ اَبْنَآئِكُمُ الَّذِيْنَ
پس نشته ځنګ ناه پر تاسے باندے، او ښځے د ځامنو ستاسو هغه چې پیدا وی ،
مِنْ اَصْلَابِكُمْ ۙ وَاَنْ تَجْمَعُوْا بَيْنَ الْاُخْتَيْنِ
د شاګانو ستاسونه، او دا چې جمع والے وکړی په مابین د دوو خوښو وکښې،
اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۲۳﴾ لَا
مګر هغه چې مخکښې تیر شوی یقیناً اللہ تعالیٰ دے بخښونکے، مهربانه -

منزل

چې بر کتنې د مورسره د پلندر کره وی نو دا حکم عام دے وګورئ روح المعانی: مِنْ اَصْلَابِكُمْ: د شاګانو ستاسونه، په دیکښې د منبنی د ټخنے نه احتراز شوه هغه اینګور نه دی. وګورئ احزاب ۳۳: هغه ئے د جاهلیت د رسم تردید کړے دے:

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وَالْمُحْصَنٰتُ، اوھغہ ښځې چې په قلعه کښې بند ے شوے وی۔ وَبَنَجُ دَپارہ قلعه خاوند ے یعنی خاوند انو والا مطلب واچه خاوند ئے ژوند ے وی نو نکاح ورسره حرامه دی۔ اِلَّا مَا مَلَكَتْ، مګر هغه چې مالکان ئې نبی لاسونه ستاسے ږیعدارک ص۲۱۰ "کښ وی چې په قید کښ راوُلی اوخاوند ئے دارالحرب کښ وی۔ اَنْ تَبْتَغُوْا، چې وے لټوئ یې۔ مالونو خپلو یعنی مهر ورکړئ۔ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ، هغه چې نفع پرے حاصله کړی مطلب واچه نکاح ورسره وکړی۔ فائده: دوے نه مُړو او وختی نکاح "متعه" نه دے۔ هغه حرامه ده۔ دعلی ترجمة الله وَجْهَهٗ یه نقل "ترمذی شریف ص۲۱۰" کښ حدیث راځی چې نبی علیه السلام منعه کړیدی یه ځینځ متعې د ښځو نه او د غوښو د کورنیو خرونو یه زمانه د خیبر کښ۔ او شوکانی رحمة الله والی چې د احادیث یه بخاری او مسلم او نورو کښ هم دے (فتح القدیر ص۴۳۰ ج۱) مفتی جناب رحمة الله یه معارف ص۲۰۲ ج۲ کښ فرمائی چې د اُبی یه خبره د کوم چې کومه ولړ د متعې د حلالوالی فائده سره نه دے نه چې دوی د علی رضی الله عنه د محبت دعوی کړی یه دے مسئله کښ هم د هغه نه خلاف دی۔ فَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ ۔ وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ: اوهغه څوک چې طاقت نلری د نکاح د اصیلو مؤمنانو۔ د دے آیت نه ظاهره داسلامیږی چې د اصیلی د نکاح طاقت نلری نو د وینځو سره د نکاح وکړی او هغه به هم مؤمنانې وی حالانکه یې د وخت د طاقت د اصیلے کښ نکاح د وینځے د رو مسلمان سره هم روا ده او د کتابو نو وینځو سره هم۔ علامه نسفی رحمة الله یه ص۲۱۰ کښ فرمائی چې د اقیانو نه د استحباب دپاره



وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۚ

او (حرامے شوے) ښځو نه والا د ښځونه، مګر هغه چې مالکان ئې نبی لاسونه ستاسے

كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ

د الله حکم فرض شوے د الله د ستاسے پرے او حلال شوے دی تاسے لپاره هغه چې سوا د دغو ذکر شوو دی، چې

تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ۭ فَمَا

وغواړئ په مالونو خپلو ـ، چې نکاح کولو نکی وی، نابی زنا کونکی، پس هغه ږښانه

اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ۭ

چې نفع حاصله کړئ په ښځو نه دے وی نه، پس ورکړئ دوی نه اُجرتونه د دوی، مقرر کړے شوی

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْۢ بَعْدِ

او نشته ګناه ږښتاسے، په مهر هغه کښ چې یو بل سره راضی شئ په هغه پس د

الْفَرِيْضَةِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝ وَ

مقرر شوے ښځو نه، یقیناً الله ښه دے؛ یوهه حکمت والا۔ او

مَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ

هغه څوک چې نلری ستاسے نه، طاقت د نکاح کولو د آزادو ښځو،

الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ

ایمانداره ښځې، پس (نکاح وکړی) هغه نه چې مالکان دی نبی لاسونو ستاسے د دغو ښځو

فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ۭ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ۭ

ستاسو ـ ایمانداره ونه، او الله ښه پوهه دے په ایمان ستاسے

بَعْضُكُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۚ فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ

بعض ستاسے نه د بعضونه دی، پس نکاح وکړئ د دوی سره په اذن د مالکانو د دوی،

وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ مُحْصَنٰتٍ

او ورکړئ دوی نه مهرونه د دوی، په ښه طریقې سره، پاکې ښځې په وی،

غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ فَاِذَآ

نه د بې ښکاره کونکې ګناه کونکې اونه د پټو یارانو نیونکې، پس کله چې



دی۔ وګورئ ص۳۱ اعراف، ص۱۳۱ آل عمران، ص۱۵۸ مؤمنون۔ "(بصائر ص۱۵۶) مُحْصَنٰتٍ: شیخ القرآن رحمة الله یه حاصله معنی دا سے ګڼلے چې پاک ښځې لښځے وی او نه وی اوبدے تویوونکې او نه وی یار باندے۔ فائده: یه دے هم کښ د مُحْصَنٰت لفظ څلورم ځله راغلے دے۔ اولنے یه معنی د خاوند انو والو، دوهم او څلورم یه معنی د اصیلو، دریم یه معنی د پاک لمنو۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ
خاوند کښے ورسرہ ځانونه وساتي پس که راوړي دوی له ځانونه سره بې حیایي، پس په دوی
مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ ذٰلِكَ لِمَنْ
چه واجب دی په ښځو، د عذاب نه، دا نکاح د ونه خو ځانونه ساتلو د
خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ وَأَنْ تَصْبِرُوا خَيْرٌ لَّكُمْ وَاللّٰهُ
چا لپاره دی چه ویره وکړي، ستاسو نه، او که صبر مو وکړو، خو ر ستاسو لپاره، او الله
غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٥﴾ يُرِيدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ
بښونکی مهربانه دے - اراده لري الله چه بیان کړي تاسے ته حکمونه خپل، او وښيي تاسے ته
سُنَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَاللّٰهُ
طریقے د هغه کسانو چه تیر شوي دي، او مهربانی وکړي پرتاسے، او الله
عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦﴾ وَاللّٰهُ يُرِيدُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَ
پوهه حکمت والا دے - او الله اراده لري، چه مهربانی وکړي، پرتاسو باندې، او
يُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوٰتِ أَنْ تَمِيلُوا مَيْلًا
اراده لري هغه کسان چه تابعدار دي، په خواهشاتو پسے په کار دي تاسے چه کوږ والی
عَظِيمًا ﴿٢٧﴾ يُرِيدُ اللّٰهُ أَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ وَخُلِقَ
لوئے سره - اراده لري الله تعالیٰ، چه اسانی راوړي ستاسے نه، او پیدا کړے شوے
الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا ﴿٢٨﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَا
انسان، کمزورے - اے ایمان والو! مه
تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّآ أَنْ تَكُونَ
خورئ، مالونه د یو بل په مابین خپل کښې په باطل طریقے سره، مګر کړئ وی (دا معامله)
تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوٓا أَنْفُسَكُمْ
تجارت، د رضا، ستاسے نه، او مه وژنئ، ځانونه خپل،
إِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٢٩﴾ وَمَنْ يَّفْعَلْ
یقیناً الله تعالیٰ دے په تاسو رحم کوونکے - او څوک چه کار (نافرمانی) وکړي

منزل

يُرِيْدُ اللّٰهُ: په معنی اراده کول او ارزو ایکو نو ۲۶/۲۷ کښې ترغیبات دی. يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ: دا ایو لسم حکم دے چه مال په باطله طریقه مه خورئ. قاضی ابو السعود رحمۃ اللہ علیہ کښې دا سے ربط ذکر کوی: چه دا شروع ده په بعض حرمانو سابقو کښې د حرمانو متعلقو نه په عورتونو د ښځو پورے. بِالْبَاطِلِ: بقره ۱۸۸ هم وګورئ. جناب مفتی صاحب فرمائی چه څنګه په باطلو طریقو سره ناجائز مال خوړل ناجائز دی هم دغسے خپل مال هم په باطلو طریقو سره خرچ کول جائز نه دی. (معارف ۲۰۳) حافظ ابن کثیر رحمۃ اللہ علیہ ۴۰۰ کښې لیکی د باطل په معنی اثم کښې یعنی په هغو څو قسمه قسم کسبونه چه غیر شرعی وی - لکه سود قسمونه او قمار او هغه چه د دے په څانے چلیږی د باقی قسمونو د ځیلونه. عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ: د ابو سعید خدری رضی اللہ عنہ روایت دے چه رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی چه تاجر ریښتونے امانتدار به د نبیانو او صدیقانو او شهدا سره وی (مشکوٰۃ ۲۴۳، ترمذی ۱۲۶) وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ: مدارک ۲۲۰ کښې ګڼلے دے معنے کړیدی. فرمائی چه مه وژنئ هغه څوک چه د جنسه ستاسے نه وی د مؤمنانو نه خکه چه مؤمنان پشان د یو نفس دی (۲) او یا چه وژنی سړے ځان خپل، د فعل بعض جاهلان کوی (۳) او یا معنی د قتل خوړل د مالونو دی په باطلو طریقے سره. پس ظلم کونکی په بل باندې پشان د هلاکولو د ځان دے. (۴) یا تابعداری د مکوی د خواهشاتو پس قتل به - کړی ځانونه (۵) او یا مکوی د اسے کار چه واجبوی قتل لره. په دے ټولو کښې تخویف دے او په دے کښې بشارت دے ۞

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَّظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيْهِ نَارًا ؕ
د الله ﷻ) په زیاتی، او ظلم سره، پس زر ګی چه و اخل به ګرو، اور ته،

وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿٣٠﴾ اِنْ تَجْتَنِبُوْا
اوده داکار په الله نه باندې اسان ۔ ګرځی خان وساتئ، د څه

كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ
هغو ګناهونو چه تاسی ترې منع شوی یاستئ د هغه لږ ګرو ستاسی نیمګړتیاوې ستاسی اود اخل به ګرو

مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ﴿٣١﴾ وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ
ځای د ډیرو ټولو عزتمند ته ۔ او ارزو مکوئ د هغه چا ګرئ الله نه په هغه باندې

بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوْا ؕ
بعض ستاسی نه په بعضو باندې، د سړو د پاره برخه ده، د هغه نه چه وې ګټلې دی

وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ؕ وَاسْـَٔلُوا اللّٰهَ مِنْ
او د ښځو د پاره برخه د هغه نه چه دوی حاصل کړې دی، او سوال کوئ د الله ﷻ نه د

فَضْلِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿٣٢﴾
فضل د هغه، یقیناً الله ﷻ دے په هر شی باندې، پوهه ۔

وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ
او هر یو د پاره مقرر کړی موږ، وارثان د هغه مال نه چه پرې ګډی مور او پلار،

وَالْاَقْرَبُوْنَ ؕ وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ
او خپلوانو، او هغه کسان چه ښځه شوې دی ورسره، قسمونه ستاسی،

فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ
پس ورکړئ دوی ته برخه د دوی، یقیناً الله ﷻ دے په هر شی باندې

شَهِيْدًا ﴿٣٣﴾ اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ
ګواه ۔ (حاضر ناظر) سړی به حاکمان (امیران) وی په ښځو باندې، په سبب د هغه چا برتر

اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ وَّبِمَا اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ ؕ
کړی الله ﷻ بعض د دوی نه په بعضو باندې او په سبب د هغه چا چه د دوی ورکړی د مالونو څخه نه،

منزل ۱ — ع ۵ — ۲ — ۱۲ — ۱۳ — ۱۴

فوائد: د عقائدو په کتابونو کښې د حکومت دستورونو نه ګیو

شرط نارینه والے ذکر کړے دے ۔ وګورئ شرح فقه اکبر ص۱۸۱، شرح عقائد ص۱۵۰، صامره ص۳۱۰، شرح مواقف ص۳۴۸، شرح مقاصد ص۲۷۰، ازالة الخفاء ص۷۰ ۔ ۷ احقر کتاب "اسلام میں عورت کا مقام" په دے موضوع کښے شئ ۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

فَالصّٰلِحٰتُ: دَیکو بیبیانو درے صفات، اوو بنجوو اصلاح څارونکی دری طریقے ذکر وی۔ لِلْغَیْبِ: په وخت وَ نشتوالي اوغا ئبوالی وَ خاوند کښ۔ اَحقر وائی چه مبرد اوچرکه به ندوی چه نهول مال باهرته وُباسی اوپه کوشو کښ چرچتے وهی۔



فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَیْبِ بِمَا حَفِظَ

پس بیځه زنانه، تابعداری کونکی دی ساتونکی دی خان اومال په وخت د غائب والی د خاوند، په څه شی

اللّٰهُ ؕ وَالّٰتِیْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَ

الله تعالیٰ درکړی، اوهغه زنانه چه ویریږی، د بدخوئی د هغوئ، پس وعظ ورته وکړئ، او

اهْجُرُوْهُنَّ فِی الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ فَاِنْ

جدا شئ د هغوئ، په خوابونو د ځمکو کښ، او وُوهئ دوی لږ، پس که دوی

اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَیْهِنَّ سَبِیْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

اطاعت وکړئ ستاسے پس مه لټوئ په دوی باندے لار (طلاق) یقیناً الله تعالیٰ دے

عَلِیًّا كَبِیْرًا ﴿۳۴﴾ وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَیْنِهِمَا فَابْعَثُوْا

اوچت په صفتونو کښ لوئے ډیر ذات کښ، اوګډ ډیر ډیر د خلقو په سینځه د دوارو وکښ، پس ولیږئ

حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ یُّرِیْدَاۤ

یو فیصله کونکے د خپلوانو د سړی لوري او یو فیصله کونکے د خپلوانو د ښځے نه، که ارادہ لري دوارہ

اِصْلَاحًا یُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَیْنَهُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِیْمًا

اصلاح، جوړې به راولی الله تعالیٰ په سینځه د دوارو وکښ یقیناً الله تعالیٰ دے، پوهه

خَبِیْرًا ﴿۳۵﴾ وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَیْـًٔا وَّ

خبردار۔ اوعبادت کوئ د الله تعالیٰ، اومنګړ کوئ د هغه سره هیڅ شے، او

بِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا وَّبِذِی الْقُرْبٰی وَالْیَتٰمٰی

نیکی وکړئ د مور پلار سره نیکی، او د خپلوانو سره، اویتیمانو سره،

وَالْمَسٰكِیْنِ وَالْجَارِ ذِی الْقُرْبٰی وَالْجَارِ الْجُنُبِ

اومسکینانو سره، او د کاونډی خپل سره (نزدے) اوکاونډی بردی (لرے) سره

وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ وَابْنِ السَّبِیْلِ ۙ وَمَا مَلَكَتْ

او د ملګری د آخر سره، اومسافر سره، اوهغه سره چه مالکان دی

اَیْمَانُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُوْرًا ﴿۳۶﴾ ۙ

ښځو لاسوستاسے یقیناً الله تعالیٰ مینه نه ساتی د هغه چا سړے چه وی متکبر، فخر کونکے۔

منزل

الصلحت: دَیکو بیبیانو درے صفات، اوو بنجوو اصلاح څارونکی دری طریقے ذکر وی۔ للغیب: په وخت وَ نشتوالي اوغا ئبوالی وَ خاوند کښ۔ احقر وائی چه مبرد اوچرکه به ندوی چه نهول مال باهرته وُباسی اوپه کوشو کښ چرچتے وهی۔

وَاِنْ خِفْتُمْ: په دیکښ پنځلم حکم دے (الصلح بین العشائر) د نښځے اوسړی مابین کښ صلح کول۔ د لغت درے معنے دی: (۱) کد ارادہ لري دواړہ حکمان د اصلاح نوجوړښت به راولی الله تعالیٰ د نښځے خاوند په مابین کښ۔ (۲) کد ارادہ لري حکمان د جوړښت نوموافقت به راولی الله تعالیٰ د حکمانو په مابین کښ۔ (۳) کد ارادہ لري نښځه خاوند د اصلاح نوجوړښت به راولی الله تعالیٰ د نښځے خاوند په مینځ کښ۔ واعبدوا الله: دیکښ شپاړسم حکم دے او دوکه حقونه د باری تعالیٰ اونهه حقونه د مخلوق۔ بقره ۸۳، اسراء ۲۳، انعام ۱۵۱ هم وګورئ۔ د دیوبندی شیخ رحمۃ الله فرمائی چه د احکام رعیت بیانولونه بعد له د اصل مسئلے یعنی د توحید ذکر وکړه۔ (جواهر ۲۲)

والصاحب بالجنب: ملګری د آخر نه مراد ملګرے د سفر (طلب علم، تجارت وغیره) دے یا بی بی ده۔ (جواهر ۲۲) من کان مختالا: دَدے څخه نه دویم باب د سورت پوره ۲۳ پاره دیکښ لس قبائح د منافقانو دی او په ۳۷ کښ تخویف او به ۳۸ کښ امر مصلح ذکر دے۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ: چہ بخل کوی. د سعید بن جبیر رضی اللہ عنہ نقل دی چہ علماؤ د بنی اسرائیلو بہ بخل کولو پہ هغہ علم چہ د دوی سرہ وو نو اللہ تعالیٰ دا آیت نازل کړلو (ملا، درمنثور، ص۱۲۵ بیان القرآن). او حافظ ابن کثیر رحمہ اللہ پہ "ص۴۹۲" کښ لیکی چہ ظاهره د مخکښ نه دا ده چہ بخل پہ مال کښ دے اګرچہ بخل پہ علم کښ پکښ پہ طریق اولی سره داخلیږی ځکہ مخکښ مضمون پہ انفاق کښ پہ خپلوانو او ضعیفانو باندے دے۔ حدیث شریف کښ دی چہ نشته یو صبا مګر دوہ ملائکے پکښ نازلیږی یو وائی ترینہ وائی یا اللہ! ورکړے خرڅ کوونکو ته عوض اوبله وائی یا اللہ! ورکړے منع کوونکو ته هلاکت۔ (بخاری، مسلم، مشکوٰۃ ص۱۶۲) رِئَآءَ النَّاسِ: د یارہ د بنو دے د خلقو. حدیث کښ راځی چہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی چا چہ مونځ وکړو پہ ریاء سره نو شرک دے وکړو او چا چہ روژہ ونیولہ پہ ریاء سره نو شرک دے وکړو او چا چہ صدقہ ورکړہ پہ ریاء سره نو شرک دے وکړو۔ (مشکوٰۃ ص۴۵۳) عَلِيْمًا هُوْلَآءِ شَهِيْدًا: ۱۲ بقره ع۱۸ بخل کوونکی۔ عبد اللہ بن مسعود رضی اللہ عنہ وائی چہ ماته رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایل چہ ماته قرآن ووایه۔ ماوویل اے د اللہ رسوله! تاسو ته څنګه اولولوم او یا سو ته نازل شوے دے؟ هغوی وفرمایل او یقیناً ځینې ساتم چہ واے وُرم دَ ځل چا نه۔ نو ما سورۃ نساء ظروع کړو تر دے چہ دے آیت ته راورسیدم



الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَ

هغه کسانو سره چہ بخل کوی، او امر کوی، خلقونه، پہ بخل باندے، او

يَكْتُمُوْنَ مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاَعْتَدْنَا

پټوی هغه چہ ورکړے دے دوی تہ، اللہ تعالیٰ، د فضل خپل نه، او تیار کړے مونږ دا،

لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۳۷﴾ وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ

د کافرانو دپاره، هغه عذاب خوارکوونکے = او هغه کسان چہ خرڅ کوی، مالونه خپل،

رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

دپاره د ښودنے د خلقو او ایمان نه راوړی پہ اللہ تعالیٰ، او نه پہ ورځ روستنۍ،

وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا فَسَآءَ قَرِيْنًا ﴿۳۸﴾ وَمَاذَا

او هغه څوک چہ وی شیطان، د هغه یار نو هلکه ږی پس ښه یار دے دا ملګری = او څه وبال پہ

عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا

دوی پہ دوی باندے که ایمان راوړے وے پہ اللہ او پہ ورځ روستنۍ، او خرڅ کړے وے د هغه نه

رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ﴿۳۹﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا

چہ ورکړی دی اللہ، او دے اللہ تعالیٰ پہ دوی باندے پوهه لوونکے. یقیناً اللہ تعالیٰ، ظلم

يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ وَاِنْ تَكُ حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا

نکوی پہ اندازه د ورې ذرې، او که شی دا ذره نیکی، نو زیاتوی اللہ هغه لره،

وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۴۰﴾ فَكَيْفَ اِذَا

او ورکوی، د خپل طرفه نه، اجر لوئے = پس څنګه حال به وی کله چہ

جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍۭ بِشَهِيْدٍ وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰى

راولو، د هر امت نه، ګواه، او راښه ولو، تا لره پہ

هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا ﴿۴۱﴾ يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

دوی باندے ګواه = پہ هغه ورځ، خوښه به کاږی، هغه کسان چہ کفر وکړے:

وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ ؕ وَلَا

او نافرمانی وکړے د رسول نه چہ برابره شی پہ دوی: زمکه، او نه به لټی



نو ما ته وفرمایل بس کله اوس. ناڅاپه د دوارو ستړکو نه ځاړے وهلے اوښکو. (بخاری ص۷۵۲، مشکوٰۃ ص۱۹۰، ابن کثیر ص۴۹۲، روح ص۱۰۴، الرحمٰن ص۹۳) لَوْ تُسَوّٰى: چہ برابره شی پہ دوی زمکه یعنی فنا شے کاږی ؛

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا: دیکښ د امر عصلم (صونځ) بیان دے ځکه چه صونځ د نهولو مصائبو د ځل ذریعه ده او په زړونو کښ د الفت حاصلولو سبب دے۔ وَلَآ اَجْنُبًا: دلته الا په معنیٰ د غیر دے او د عَابِرِي سَبِيْلٍ نه مراد مسافر دے۔ معنیٰ داشوله ای ایمان اړونکو نزدے کیږی مانځه ته په داسے حال کښ چه تاسے نشه یئ، تردے چه پوهه شئ په هغه چه تاسے وایئ او نه نزدے کیږئ مانځه ته چه تاسے جنبان مقیمان غیر مسافرین یئ تردے چه غسل وکړئ۔ وګورئ مدارک ص۲۲۶۔ صَعِيْدًا: مخ د زمکے رجاج رحمہ اللہ وائی چه صعید مخ د زمکے ته ویلے شی خاورے وی او که بل شے۔ (مدارک ص۲۲۶)۔ فقهاؤ کرامؒ فرمائی چه په داسے شی تیمم وکړی چه د جنس د زمکے نوی او داهغه دی چه نړ ایږه کیږی او نه ویلے کیږی اګر که ګرد جړے نه وی او که د جلسه د زمکے نه نړ وو نو تیمم پرے نه کیږی۔ ګورئ عمدة الرعاية ص۳۲ په شرح الوقاية ص۹۶

الْحَرَجِ: د وے ځائے نه ص۵۵ پورے د رسم باب دے۔ په ویکښ ۷ اَتَبَاحَتْهُ د اَهْلِ کتابو او زجرونه، په ص۵۵ کښ تخویف او ص۵۵ بقره هم وګورئ۔ سَمِعْنَا: واموړید د قول ستاو نافرمانی کولو د امر ستاو نه۔ (قرطبی ج۳ ص۱۲۳ مدارک وائی په ص۲۲۶ چه غَيْرَ مُسْمَعٍ: بے له پټ وئیلو۔ غَيْرَ مُسْمَعٍ: داسے وهم لفظ دے۔ احتمال د ذم هم لری معنیٰ داشوله چه واوره نه ـــ زمونږ خبره درته واوښ د رَاعِنَا: د وئیلو شی یعنی ګونګ شے او احتمال د مدح هم لری۔ معنیٰ داشوله چه واوره زمونږ خبره ص۲۲۶ وګورئ مدارک ص۲۲۶۔ وَرَاعِنَا: بقره ع۱۰۳ کښ تیر شوے دے ۔

(۴) واوښ د رَاعِنَا شی تات بدله خبره ۴

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وَلَوْ اَنَّهُمْ ، مطلب دادے چہ کیږے دوی وَعَصَيْنَا په ځای اَطَعْنَا ویلے وے اود اِسْمَعْ نه پرته غَيْرَ مُسْمَعٍ نه وے ویلے اود رَاعِنَا په ځای اُنْظُرْنَا ویلے وے نو دا به غوره وے دوی د پاره، او برابر به وے د شرع سره، لاکن لعنت کړیدے
وَطَعْنًا فِي الدِّيْنِ ۭ وَلَوْ اَنَّهُمْ قَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا
او عیب لګول په دین کښ، او که چیرے دوی ویلے وے، واهو وریدو مو، او اطاعت مو وکړو
وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَقْوَمَ ۙ وَلٰكِنْ لَّعَنَهُمُ
او واورہ، او زمونږ مؤنث نه، نو خامخا غوره به وے دوی د پاره، او نیغه به وے، اولاکن لعنت کړے
اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۴۶﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ
دوی الله په سبب د کفر د دوی، پس ایمان نه راوړی مګر لږ: ۱۰ اے
اُوْتُوا الْكِتٰبَ اٰمِنُوْا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ
کتاب والو! ایمان راوړئ په هغه چا نازل کړو باندې زمونږ تصدیق کوونکے د هغه چا ته چې سره دی
مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّطْمِسَ وُجُوْهًا فَنَرُدَّهَا عَلٰٓى اَدْبَارِهَآ
مخکښ د دې نه چې ورانې کړو، مخونه، پس وګرزوو، په چټو نو ډهنو
اَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ اَصْحٰبَ السَّبْتِ ۭ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ
او یا لعنت وکړو په دوی د الله لعنت کړے په خاوند د ډوډیالی، او دے حکم د الله نه
مَفْعُوْلًا ﴿۴۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا
کیږے شوے - یقیناً الله نه بخښنه کوی د چا چې شرک وکړے شي او بخښي هغه
دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَاۗءُ ۚ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ
سوا د دے نه د چا د پاره چې خوښه شي، او چا چې شرک وکړو د الله نه سره، پس
افْتَرٰٓى اِثْمًا عَظِيْمًا ﴿۴۸﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ
دے تړلے، ګناه لویه. ایا نه ګورے هغه کسان نه چې پاکوی
اَنْفُسَهُمْ ۭ بَلِ اللّٰهُ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَاۗءُ وَلَا يُظْلَمُوْنَ
ځانونه خپل، بلکه الله تعالیٰ پاکوی، چا لره چې د رضا وشي، او چا د دوی به ظلم نه کیږي
فَتِيْلًا ﴿۴۹﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ۭ
په اندازه د دهاګې د کجورې د ګوډې ګټلې، ګوره څنګه، شوي، په الله تعالیٰ باندې، دروغ،
وَكَفٰى بِهٖٓ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۰﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ
او کافي دي دا دروغ، ګناه ښکاره: ایا نه ګورے هغه کسان نه چې

ع ۸ ۴

لعنت کړیدے الله تعالیٰ په دوی باندې سبب د کفر د دوی پس ایمان نه راوړی مګر لږ. او لږ ایمان معتبر نه دے - وګورئ حاشیه بقره - مدارک وائی: مګر ایمان لږ ضعیف چې څه اعتبار پرے نشی کیدے - (مدارک ج ۱ ص ۲۲۹) - اَصْحٰبَ السَّبْتِ: یعنی هغه کسان چې زیاتے کړے وو د ډوډیالی په ورځ د مرتمنۍ سره - مخکښ کښ - پس مسخ شو شاوخوا نو خنزیران. (ابن کثیر ص ۵۰۵ ج ۱) وګورئ بقره ۶۵ او اعراف ۱۶۳ - اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ: یقیناً الله بخښنه نکوی د دے چې شرک ورسره وکړے شي - وګورئ ۱۱۶ د سورۃ نساء - يُشْرَكَ بِهٖ: شرک الله تعالیٰ جنت حرام کړے دے - وګورئ ۷۲ مائده - او شرک لوے ظلم دے - فَتِيْلًا: د کجورے د هډوکی په مابین کښ چې څه تاروی هغه ته فتیل وائی شي - او دیاسه پرے سپینے پرے دے ته قطمیر ویلے شي. او د هډوکی په شا ګوټی ته نقیر ویلے شي - مراد ترینه معمولی شے دے ۞

بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوْتِ: (نوټ: دا د راتلونکی محل سره متعلق دے) شیخ القرآن رحمہ اللہ په معنی کوله په کوډ ومنتر او شیطان سره - مفسرین رحمہم اللہ کمنړے معنے کوی - ابن کثیر رحمہ اللہ په ص ۵۱۲ ج ۱ کښ د عمر رضی اللہ عنہ په نقل سره د اَلْجِبْتِ معنی سحر (جادو) او د طَاغُوْت معنی شیطان سره کړے دے. او د مجاهد رحمہ اللہ په حواله: چې طاغوت شیطان په شکل د انسان چې خلق ورله لیږلے راوړی او دغه



Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



أُوْلُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُؤْمِنُوْنَ بِالْجِبْتِ وَ
ورکیے شوے یو برخہ، ڈکتاب نہ، ایمان راوړی، پہ جادو، او
الطَّاغُوْتِ وَيَقُوْلُوْنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هٰٓؤُلَآءِ
پہ شیطان، او وائی پہ بارہ دھغہ کسانو کښ چہ کفر ئے کړیدے، چہ دوی ښہ
اَهْدٰى مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا سَبِيْلًا ﴿۵۱﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
رسیدونکی دی دھغہ چا نہ چہ ایمان ئے راوړیدے، خلقو لارے نہ۔ ذا ھغہ کسان دی چہ
لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۭ وَمَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ نَصِيْرًا ﴿۵۲﴾
لعنت ئے کړے اللہ، او چا چہ لعنت وکړی اللہ پس ہیڅ مرستیال بہ نہ موسے دہ لپارہ، امداد ی
اَمْ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَاِذًا لَّا يُؤْتُوْنَ النَّاسَ
ایا ښتہ دوی لپارہ قدرت، او یا دشاهئ نہ، پس پہ دے وخت کښ ورپہ کړی، خلقو تہ
نَقِيْرًا ﴿۵۳﴾ اَمْ يَحْسُدُوْنَ النَّاسَ عَلٰي مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ
واړہ ڈکھجور ے۔ ایا کینہ کوی، پہ خلقو باندی، پہ هغہ چہ ورکړی دوی تہ اللہ
مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَقَدْ اٰتَيْنَآ اٰلَ اِبْرٰهِيْمَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ
د فضل خپل نہ، پس یقیناً ورکړے وو مونږ، اولاد د ابراهیم تہ، کتاب ښونہ، او پوهہ درکړہ،
وَاٰتَيْنٰهُمْ مُّلْكًا عَظِيْمًا ﴿۵۴﴾ فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ وَمِنْهُمْ
او درکړے موو دوی تہ باد شاهئ لوی۔ پس بعض د دوی ځینې پرې ایمان ئے راوړے دے او بعض
مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ۭ وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ سَعِيْرًا ﴿۵۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ
نړ ځینې د دوی پرې چا نہ ځان راوړو دغہ، او کافی دے جہنم سوزولو لپارہ۔ یقیناً هغہ کسان چہ
كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا ۭ كُلَّمَا نَضِجَتْ
کفر ئے کړے پہ آیتونو زمونږ، زر دے وخت چہ وسوځوو مونږ دوی: هر وار ے چہ وسوځیږی:
جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا
څرمنے د دوی، بدال بہ کړو دوی لپارہ څرمنے نورے، چہ هیښہ وخکی
الْعَذَابَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۵۶﴾ وَالَّذِيْنَ
عذاب لپارہ، یقیناً اللہ دے زور اور حکمت والا۔ او هغہ کسان چہ

والمحصنٰت ۵ — النساء ۴ — ۱۳۶

ے اختیار مندوی۔ تائید کښ ۳۶ نحل ۷۱ نساء، ۲۵ بقرہ وګورئ۔ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ: مفتی صاحب رحمہ اللہ
کثر حدیثونہ د لعنت د مستحقینو پہ بیا وړاندې کښ ذکر کړیدی۔ یو ورځ روایت ئے د بخاری شریف ذکر کړے دے
چہ لعنت کړیدے اللہ تعالیٰ پہ ښځو خورو نکی او بیل باندې خورونکی
پہ خال وهونکی او د خال مطالبہ کونکی باندې (معارف ۳۳۲/۶) او
یو بل روایت ئے د بخاری تالیف
ذکر کړیدے چہ لعنت کړیدے
اللہ تعالیٰ پہ خال وهونکے او د خال
مطالبہ کونکے اوپہ ورځو نرئ
کونکو او ښځو نہ ځانونو ګلاوو نکو
د پاره د بنا لسنتہ چہ تغییر راوړی
پہ پیدائش د اللہ تعالیٰ کښ (معارف
۳۳۲/۶) او د ترمذی شریف
حدیث ئے پیش کړے دے چہ
رسول اللہ ﷺ فرمائی:
چہ نہ وے مؤمن سپرے
طعنہ کونکے او نہ لعنت کونکے او
نہ پوچ ړے۔ (معارف ۴۳۶/۱)

الحاصل: پہ چا چہ قرآن او سنت کښ لعنت ویلے شی او کلہ نہ وی نو نہ پرے ئے وائی۔ اَمْ يَحْسُدُوْنَ النَّاسَ: ایا کینہ کوی پہ خلقو باندې۔ نووی رحمہ اللہ پہ شرح مسلم ص۳۱۵ ج۲ کښ د حسد معنی لیکی چہ د انسان کول دی د زائلہ کیدو د نعمت د بل چا۔ ابوداؤد شریف ص۳۱۷ ج۲ کښ راځی چہ عیان د ساتلو د کینے نہ حکمہ کینہ کول لکی دا سے خوری لکیږی او رلړکی خوری (سوځوی)۔ كُلَّمَا نَضِجَتْ: هر وار ے چہ وسوځیږی (یعنی یو اندازے تہ ورسیږی)، نو بدلے پرې کړو دوی لپارہ څرمنے چہ همیشہ وخکوی عذاب لپارہ۔ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا: (د رالتلو لکی مخ حاشیہ:) د تخویف نہ بعد بشارت اخروی دے۔ بقرہ ۲۵ وګورئ۔ اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ: دے خائے نہ تر ۱۳۵ پورے دویمہ حصہ دہ۔ پہ دیکښ اللہ احکام دی د راعی او رعیت، اوپہ دیکښ هم درے بابونہ دی: اول د ۱۴۷ پورے، دویم تر ۱۷۶ پورے، دریم تر ۱۳۵ پورے۔ پہ اول باب کښ درے حکمونہ دی پہ ۵۸، ۵۹، ۶۰ کښ۔ (۱۲) ترغیب

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

دے اطاعت د امیرته ۵۹ (د رسیم) زجر دے منافقانو ته ۵۰ او د هغو پخپله قبا حتونه۔ (۴) بشارت
دے ۵۱ منو ۵۲ (د) زجر دے مدهینو ته ۵۳ ۔ الاصلت ۔ امام قرطبی رحمہ اللہ په ۲۵۶ کښ لیکی چه
د خطاب دے والیانو د مسلمانانو نوله خصوصاً ، پس د نبی علیہ السلام او امیرانو د هغه ته دے او بیا شا ملیږی
رو سټنوله ډکوی نه ۔ علامه

والمحصنٰت ۵ ۱۳۷ النساء ۴

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ

ایمان راوړی ۱ او کومو نه کوی نیک ، زه به داخل کړو دوی لره ، باغونو کښ ، بهیږی چه

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ اَبَدًا ؕ لَهُمْ فِیْهَآ

لاندی د هغو نه ، ولے ، همیشه به وسیږی په هغو کښ همیشه ، دوی لره په هغو کښ دی

اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۫ وَّنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِیْلًا ﴿۵۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ

میرمنے پاکے کړے شوے ، او داخل به کړو دوی به سوړو اړه د اوږدو نه ۔ یقیناً اللہ

یَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهْلِهَا ۙ وَاِذَا حَكَمْتُمْ

امر کوی تاسو ته چه ادا کړی ، حقونه ، حقدارو هغوته ، او کله چه فیصله کوئ ،

بَیْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا

په مابین د خلقو کښ چه فیصله به کوئ په انصاف سره ، یقیناً اللہ تعالیٰ ښه شے

یَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِیْعًۢا بَصِیْرًا ﴿۵۸﴾ یٰۤاَیُّهَا

وعظ کوی تاسو ته په ۲ یقیناً اللہ ۳ دے اوریدونکے ، لیدونکے ۔ اے

الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ

ایمان راوړونکو ! تابعداری وکړئ د اللہ ۴ تابعداری وکړئ ، د رسول ۵

وَاُولِی الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِیْ شَیْءٍ

او خاوندانو د امر ستاسے نه ، پس که جګړه وکړه تاسو ، په هغه شے کښ ،

فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ

پس وګرځوئ هغه فیصلے ته د اللہ ۶ او رسول ۷ د هغه نه که تاسو ، ایمان لرئ

بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ ذٰلِكَ خَیْرٌ وَّاَحْسَنُ

په اللہ ۸ او په ورځ روسټنې ، داکار ، غوره دے ، او ښائسته

تَاْوِیْلًا ﴿۵۹﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِیْنَ یَزْعُمُوْنَ اَنَّهُمْ

انجام والا دے ۔ ایا نه ګورے ته هغه کسانو ته ، چه خیال کوی دوی ، چه یقینی دوی :

اٰمَنُوْا بِمَاۤ اُنْزِلَ اِلَیْكَ وَمَاۤ اُنْزِلَ مِنْ

ایمان راوړے ۹ په هغه کتاب چه نازل شوے تا ته ، او په هغه کتابونو چه نازل شوی

منزل

فیصله د هغے کتاب ۱۰ اللہ تعالیٰ او سنت د رسول ۱۱ ته ۔ (ابن کثیر ص۵۱۸ ج۱) قرآن او رسول ۱۲ ته په ژوند د هغه او
احادیثو د هغه ته پس د وفات د هغه نه (مدارک ص۲۳۶ ج۱ ، قرطبی ص۲۶۶ ج۵ ، خازن ص۲۶۴ ج۱) جناب مفتی صاحب
رحمہ اللہ فرمائی چه کتاب او سنت طرفته د رجوع کولو دوه صورتونه دی ۔ یو دا چه د کتاب او سنت عه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



قَبْلِكَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَحَاكَمُوْٓا اِلَى الطَّاغُوْتِ وَ

عکبوشانہ: ارادہ کری، چہ فیصلہ پوسی، شرکتس تہ، او

قَدْ اُمِرُوْٓا اَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ ؕ وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ

یقینی امر تتوسی دوی تہ چہ انکار وکری پہ هغہ، او ارادہ لری شیطان، چہ

يُّضِلَّهُمْ ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ﴿۶۰﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا

بے لارے کری دوی لرہ پہ لارے کیبی لرے سوک. او کلہ چہ ویلے شی دوی تہ، راشئی،

اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ رَاَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ

هغہ تہ چہ نازل کریدے اللہ ﷻ، او رسول تہ، وینے بہ تہ: منافقانو لرہ،

يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا ﴿۶۱﴾ فَكَيْفَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ

چہ اوړی پہ، ستانہ، پہ اوږدہ سرہ. پس څنګہ حال پہ دی چہ کلہ او رسیږی دوی تہ

مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ثُمَّ جَآءُوْكَ يَحْلِفُوْنَ ۚ

مصیبت پہ سبب د هغہ عمل چہ مخکښ کړے لاسونو دروی، بیا راشی تاتہ، قسمونہ کوی،

بِاللّٰهِ اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّآ اِحْسَانًا وَّتَوْفِيْقًا ﴿۶۲﴾ اُولٰٓئِكَ

پہ اللہ، چہ نہ وو ارادہ کړے موږ، مګر نیکی او جوړښت لرہ. دا هغہ کسان دی

الَّذِيْنَ يَعْلَمُ اللّٰهُ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۗ فَاَعْرِضْ

چہ پوهیږی، اللہ تعالیٰ پہ هغہ چہ پہ زړونو دروی کښ دی، پس مخ واړوہ،

عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُلْ لَّهُمْ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَوْلًا

د دوی نہ، او وعظ وکړہ دوی تہ، او ووایہ دوی تہ، پہ حق د نفسونو د دوی کښ، ویناً

بَلِيْغًا ﴿۶۳﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ

اثر ناکہ: او مونږ نہ دے لیږلے هیڅ رسول لرہ، مګر چہ اطاعت ئے وشی

بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ

پہ حکم د اللہ ﷻ، او کلہ چرے دے خلقو، کلے چہ ظلم وکړو پہ ځانونو خپلو، راغلی وے تاتہ،

فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ

پس بخښنہ وغوښتے وے د اللہ نہ، او بخښنہ غوښتے وے دوی لرہ، رسول ﷺ

منزل

واقعہ:- خلقو دلتہ یو کرد روغړنده واقعہ ذکر کړے دہ چہ د نبی علیہ السلام د وفات نہ بعد درمخ ورتے پس یو زمیندار راغے قبر د نبی علیہ السلام تہ او پہ سر ئے خاورے راواچولے او دا آیت ئے ولوستلو او وے ویل چہ ما ظلم کړے پہ ځان خپل او راغلے یم چہ تہ رالہ بخښنہ وغواړے نو راواز ورتہ اوشو د قبر نہ چہ بخښنہ شوے ئے تا نہ. علامہ محمد بن عبد الہادی رحمۃ اللہ علیہ "الصارم المنکی" ص۲۷۶ او علامہ سہوانی رحمۃ اللہ علیہ "صیانۃ الانسان" ص۱۳۳ کښ فرمائی چہ دا خبر تا اشنا جوړ کړے شوے او اثر د زړو غوندے کړے شوے. صلاحیت نلری اعتماد پہ وے باندے اوښنہ نہ دی تللے د کوم طرفتہ او سند ئے نور تہ نہ دپاسہ

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۶۴﴾ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ
لوخامتا موتبہ بے دے اللہ توبہ قبلوکی، مہربانہ۔ پس نہ وای قسم ہم دوی یہ ایمان نا لرتی
حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْٓ
جوپرے تو دے فیصلہ کولے دگر دای تا لڑہ پہ منځ کښی اختلاف راشی پیښہ دے دوی کښی، بیا نہ پیدا موی پہ
اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۶۵﴾
زړو نو ځپلو کښی، خفگان وَ هغہ چہ فیصلہ کړے یاست تا، او ومنی فیصلہ ستاپہ منلو سرہ:
وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا
او کہ پرے موږ فرض کړے وے پہ دوی باندے چہ مړہ کړی، نفسونہ خپل، اویا وځئی،
مِّنْ دِيَارِكُمْ مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ۭ وَلَوْ اَنَّهُمْ
د کورونو خپلونہ، نہ بہ وُ کړی دا لږ دَ دوی نہ، او کہ چرے دوی:
فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَشَدَّ تَثْبِيْتًا ﴿۶۶﴾
کړے وے هغہ چہ عظ کولے شی دوی پہ هغہ، نو ضرور ښہ وے دوی لرہ او سخت ښہ وے دوی لرہ پہ کلك تا
وَّاِذًا لَّاٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّآ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۶۷﴾ وَّلَهَدَيْنٰهُمْ
او بیا ورکړے وے موږ دوی تہ، د خپل طرفہ اجر لوے۔ او خامخا ښودہ کړے وے موږ دوی تہ
صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۶۸﴾ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ
د ښی تہ د لارے ښیے (پرا برے)۔ او چا چہ تابعداری وکړہ د اللہ تہ، او د رسول مم،
فَاُولٰۗىِٕكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ
پس دغہ کسان پہ ملګری دی، د هغہ کسانو چہ انعام کړے اللہ تعالیٰ، پہ هغوی باندے، چہ
النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاۗءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ
نبیان دی، او پرے ریښتنی دی، او شهیدان دی، او نیکان دی،
وَحَسُنَ اُولٰۗىِٕكَ رَفِيْقًا ﴿۶۹﴾ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ
او ښائسته دی، دغہ پہ ملګرتیا کښی۔ دغہ فضل دے، د اللہ تعالیٰ د طرفہ
وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴿۷۰﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا
او کافی دے اللہ تعالیٰ، پوهہ پہ هرڅہ باندے۔ اے ایمان والو! واخلئ سامان

ع ۱۱ ۶

منزل

دغہ تہ اشارہ دہ پہ جَمِيْعًا سرہ۔ فقهاء کرام رحمہم اللہ ورتہ نفیر عام وائی۔ شیخ القرآن رحمہ اللہ پہ فرمایل چہ امام انقلاب مولانا عبید اللہ سندھی رحمہ اللہ پہ فرمایل چہ بستره تیاره سات ئی ۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا ﴿۷۱﴾ وَاِنَّ

ڈر بچاؤ، پس وختی وے لے دلے، او یا وختی (غونڈے) پہ یو ځای: او یقیناً

مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ ۚ فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالَ

بعضی ستاسے نہ ځنډا ځنډوی کا چہ ړوند کیږی، پس کہ ځپلے ورسیږی تاسو تہ څہ مصیبت، وائی

قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ اِذْ لَمْ اَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيْدًا ﴿۷۲﴾

یقیناً انعام کړے اللہ، پہ ما باندے کلہ چہ نہ وم، د دوی سرہ، حاضر۔

وَلَئِنْ اَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ لَيَقُوْلَنَّ كَاَنْ لَّمْ

او کہ ځپلے ورسیږی تاسو تہ، فضل د اللہ تعالیٰ نہ، نو ځنډا ځنډاوائی دوی، گویا چہ نہ

تَكُنْۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهٗ مَوَدَّةٌ يّٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ مَعَهُمْ

وو ستاسے پہ مینځ او دوی پہ مینځ کښے دوستانہ، هائے ارمان مالرہ، چہ شے ځہ د دوی سرہ،

فَاَفُوْزَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿۷۳﴾ فَلْيُقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ

پس کامیابہ شوے وے پہ کامیابی لوئے سوہ، پس د ږغ جنګیږی پہ لارہ د اللہ کښے، هغہ ګډے چہ

يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ۭ وَمَنْ يُّقَاتِلْ

خرڅوی، ژوند، د دنیا، پہ آخرت باندے، او څوک چہ وجنګیږی

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا

پہ لارہ د اللہ تعالیٰ کښے، پس قتل شہ، او یا زور واوړے شہ، پس زر بہ ورکړو مونږ هغہ تہ اجر

عَظِيْمًا ﴿۷۴﴾ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ

لوئے: او څہ عذر دی تاسو لرے چہ نہ جنګیږی پہ لارے د اللہ تعالیٰ کښے، او

الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ

د بیکسو د خلاصولو کمزورو شوو، سړو، او ښځو، او ماشومانو،

الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ

هغہ کسانو چہ وائی دوی اے ربہ زمونږہ، وباسہ مونږ لہ

الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۙ وَّاجْعَلْ

ظالمانو دی اوسیدونکی دی ځایونو، او وګرځوہ مونږ لہ، ځانګہ ولی لہ ځانہ، دوست، او وګرځوہ



وَلَئِنْ اَصَابَكُمْ: او کہ ځپلے ورسیږی تاسو تہ فضل د اللہ تعالیٰ نہ وغیرہ۔ لَيُبَطِّئَنَّ: ابطاء نہ ځنډا ځنډوی کا چہ ړوند کیږی پہ سترګو یا پہ زړہ کښے۔ "الاصلاح" کښے فرمائی چہ دا کلام د کَاَنْ لَّمْ تَكُنْ الخ پورے ځنډاوائی د دوی د قول او د محکی عنہ مقولے د دوی ځنډاوائی کښے۔ فَلْيُقَاتِلْ: دریم حکم چہ قتال د وکړی پہ لارہ د اللہ تعالیٰ کښے هغہ کسان چہ خرڅ کړے دے ژوند دنیوی پہ اخرت باندے۔ شوکانی رحمہ اللہ فرمائی چہ يَشْرُوْنَ پہ معنی د يَبِيْعُوْنَ دے چہ خرڅ کړی یے او مراد ترینہ مؤمنان دی۔ (فتح القدیر ص۴۸۶) وَمَا لَكُمْ: ترغیب دے جهاد تہ۔ قاضی ابوالسعود رحمہ اللہ او نسفی رحمہ اللہ فرمائی چہ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مجرور دے عطف دے پہ سَبِيْلِ اللّٰهِ باندے نو معنی داشوہ او څہ دی تاسو لرہ چہ نہ جنګیږی پہ لارہ د اللہ تعالیٰ کښے او پہ خلاصولو د کمزورو کښے۔ (ابوالسعود ج۱، مدارک ج۱) الْقَرْيَةِ: د کلی نہ مراد مکہ مکرمہ دہ چہ ظالمان دی اوسیدل او لکی دے مراد ترینہ کافران او مشرکان دی او کلہ چہ بنارتہ هم کلی وبلے شی وګورئ سورۃ یوسف ۱۰۹، زخرف ۳۱۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ﴿۷۵﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ
مونږ لره، د خپل ولیارنه، امداد وکړه - هغه کسان چې ایمان لے راوړے، جنګ کوی،
فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ
په لارے د الله ﷻ کښ، او هغه کسان چې کفر کړے، جنګ کوی، په لارے
سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّ
د طاغوت (شیطان) کښ، پس جنګ وکړی د دوستانو د شیطان سره، یقیناً
كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ﴿۷۶﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ
تدبیر د شیطان دے کمزوری - ایا نه ګورے ته، هغه کسانو ته چې
قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا
ویلی شوی وو دوی ته چې منع کړی لاسونه خپل (د جنګ نه) او وګړوی ماځنے لمونځ، او ورکړی
الزَّكٰوةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ
زکوٰة لره، پس هر کله چې فرض شو په دوی باندې جنګ کول، ناڅاپه یوه ډله د دوی نه،

يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً ۚ
ویریږی له، د خلقونه، ډیر شان د ویرے، د الله ﷻ، بلکه په زیاتے ویرے سره،
وَقَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ ۚ لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ
او وایی اے زمونږ ربه! ولے دے فرض کړے په مونږ باندې جنګ کول، ولے دے روسته نکړے مونږ له
اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۭ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ ۚ وَ
نیږدے مودے ته، ووایه (ځکه، د دنیا، ژوند ډیر لږ دے، او
الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى ۣ وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿۷۷﴾
آخرت غوره دے د هغه چا لپاره چې ډیر ویریږی د الله ﷻ، او به تاسو باندې ظلم نه کیږی په اندازه د دانے د خرمانے
اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ
چرته چې یاست تاسے، راګیر به کړی تاسے له مرګ، صرف په
فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۭ وَاِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ
یو قلاوڼو، محکمو کښ، او که ورسیږی دوی ته: خوشالی،

(د قلعو نه مخ حاشیه): او که ورسیږی دوی ته تکلیف: نوراتلے دا ستا د طرفنه دی یعنی بدفالی به ئے نیولے او دا د مشرکانو زړه عقیده کړه - وګورئ ۱۳۱ اعراف، ۴۷ نمل، ۱۸ یٰسٓ - قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ: ووایه چې هر څه د الله ﷻ نه دی یعنی مسبب حقیقی ئے یوازے الله ﷻ دے - وګورئ آل عمران ۱۵۴ ✤

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

فَمِنْ نَّفْسِكَ : پس ستا ؤ طرفہ دی ۔ ؤ پښتی شیخ رحمہ اللہ فرمائی پہ دیکښ ظاہرہ خطاب نبی کریم ﷺ سرہ دے لیکن مُراد عام دے اوواَنحطاب ہر مخاطب لرہ شامل دے ۔ مطلب داچہ السان تہ کومہ فائدہ او خوشالی وُرسیږی نودا محض ؤ اللہ تم فضل او احسان دے اوکوم چہ دۂ تہ نقصان یا تکلیف وُرسی خالق نے ھم اگرچہ اللہ تم دے لیکن ؤ ۂ غہ سبب ؤ انسان خپلہ بد عملی اوکوتاھی وی ۔ (کورئ سورۃ شوریٰ عشا ۔ (جزو ۲۵ رکوع ۱۳ وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ۔ مفتی صاحب رحمہ اللہ فرمائی چہ ؤ نبی ﷺ رسالت ؤ تول عالمہ د پارہ عام دے ۔ (اعراف ع ۱۹۶ ۔ سورۃ ابراہیم ع ۱ اوعلہ سورۃ فرقان اوکورئ)

مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ : خو ۂ چہ اطاعت وکړی ؤ رسول علیہ السلام پس اطاعت ئے وکړہ ؤ اللہ تم ۔ امام رازی رحمہ اللہ لیکی چہ دا ایت ؤ پہ پروتوی دلالتو نہ دے چہ نبی علیہ السلام معصوم دے پہ ہر تولو اوامرو اونواھیو کښ اوپہ ہغو ھغہ کښ چہ تبلیغ ئے کوی ؤ اللہ تعالیٰ طرفہ نہ ، ولے کوم خطا ئی پہ یو شی ؤ دے نہ نو اطاعت ئے طاعت ؤ اللہ تم نشو ۔ (کبیر ج ۱۰ ص ۱۹۲ ، اتمام ص ۱۷۰ ، ؤ عصمت پہ مسئلہ ؤ احقر کتاب تحفۃ الاحباب کتلے شی ۔ وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ : او وائی دوی کار زمونږہ منل دی ۔ مدارک پہ ص ۲۲۰ کښ لیکی چہ طَاعَةٌ خبر د مبتدا محذوف دے : اَمْرُنَا وَشَاْنُنَا طَاعَةٌ ۔ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ : ایا پس دوی ولے سوچ او فکر نکوی پہ قرآن کښ ۔ سورہ محمد ع ۳ ھم وکورئ ۔ شوکانی رحمہ اللہ پہ ص ۱۳۹ فتح القدیر کښ لیکی چہ دا دواړہ ایتونہ دلالت کوی پہ واجب والی ؤ سوچ او فکر پہ قرآن کښ چہ معلومہ شی معنی ؤ قرآن ۔ پہ تسہیل ص ۱۴۶ کښ دی : تیزی ورکړی ؤ اللہ پہ فکر کولو باندی پہ معانیو ؤ قرآن کښ چہ پکښ ډیر شی دلیلونہ اوحجتونہ ذکر شوی ۔ سورۃ محمد ع ۲ ھم کورئ ۔ لَوَجَدُوْا فِيْهِ : اوکہ چرے وے دا قرآن ؤ طرفہ ؤ غیر اللہ نہ نو ضرور بہ ئے موندلے وے دوی پہ دیکښ اختلاف ډیر



يَقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ
وائی دوی ، دا ؤ طرفہ ؤ اللہ تم نہ دہ ، اوکہ ورسیږی دوی تہ تکلیف
يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ ۭ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۭ
نو وائی ، دا ؤ طرفہ ستانہ دیے ، اووایہ تول ؤ طرفہ ؤ اللہ تم نہ دی ،
فَمَالِ هٰٓؤُلَاۗءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ۝۷۸
پس ضد دی دے قوم لرہ ، چہ نزدے نہ دی پوھہ شی پہ خبرہ باندی ۔
مَآ اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ۘ وَمَآ اَصَابَكَ
ھغہ چہ رسیږی تا نہ ؤ ځہ خوشالی نہ پس ؤ طرفہ ؤ اللہ تہ دہ ، اوھغہ چہ رسیږی تا نہ
مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَّفْسِكَ ۭ وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ
ؤ ځہ تکلیف نہ پس ؤ طرفہ ؤ نفس ستا ئی دی ، اوليږلے ئے ؤ تا محمد ﷺ تر نړۍ ؤ خلقو پاره ،
رَسُوْلًا ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ۝۷۹ مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ
استاذے ، اوکافی ؤ اللہ ، گواھی کونکے ۔ چا چہ تابعداری وکړہ ؤ رسول ﷺ ،
فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ
پس اطاعت ئے وکړو ؤ اللہ ، او څوک چہ وګرزید نو پس اللہ لیږلے ئے نہ یې تا پہ ھغوی باندی ،
حَفِيْظًا ۝۸۰ وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ ۡ فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ
ساتونکے ۔ او وائی دوی ژمونږ کار ستا خبرہ منل دی ، پس کلہ چہ دوی ووځی ستا ؤ
عِنْدِكَ بَيَّتَ طَاۗىِٕفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ ۭ
خوا نہ ، مشورہ کوی وپښے پوھہ دلہ ، ؤ دوی نہ ، غیر ؤ ھغہ چہ وائی دوی ،
وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُوْنَ ۚ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ
او اللہ تم لیکی ، ھغہ چہ دوی پرتہ کوی وپښے پس مخ واړوہ ؤ دوی نہ ، او ګمان وسپارہ
عَلَى اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ۝۸۱ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ
پہ اللہ تم باندی ، اوکافی ؤ اللہ تم کارجوړونکے = ایا پس دوی سوچ نہ کوی
الْقُرْاٰنَ ۭ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا
پہ قرآن کښ ، اوکہ چرے وے ؤ طرفہ ؤ غیر اللہ نہ ، نو ضرور بہ یې موندلے وے دوی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

اوسی رحمہ اللہ فرمائی چہ بعض غیبی خبرونہ پہ نبی ﷺ وحی واقع سوہ برابر نہ وے لکہ خبر کول دپتو رازونو دمنافقانو
نشورہ وے ﴿ص۱۰۰ ج۲﴾ واذا جاءھم: ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمائی چہ رسول علیہ السلام پہ چہ کلہ یوہ دارنہ ولیږلہ پس زوراور د
یا مغلوبہ پہ شوہ نو دوی بہ بیان کولو او دا خبرہ بہ نے خورولہ او صبر بہ لے نہ کولو۔
﴿ذکر ص۳۰۵﴾ حافظ ابن کثیر رحمہ اللہ فرمائی ﴿ص۵۲۹ ج۱﴾ چہ پہ دیکښ انکار وشے پہ هغہ چا چہ مخکښ والے کوی خبرونہ مخکښ د تحقیق نہ او خبر پرے ورکوی او خورولے او نشر نے کوی او کلہ خو هغولرہ بالکل حجت هم نہ وی۔
اولی الامر: دوی نہ اهل علم او فقاهت مراد دی او ویلے شوی دی چہ امیران کد۔ او دی۔ ﴿قرطبی ص۱۲۹ ج۵﴾ یستنبطونہ چہ راوبا سی دغہ لرہ یعنی لټون او تحقیق لے کوی۔ ﴿کورئ مفردات ص۴۹۸﴾ - فائدہ: مفسرین رحمہم اللہ فرمائی چہ دا ایت دلیل دے پہ جواز د قیاس او اجتہاد پانے کلہ چہ نص (قرآن او سنت) او اجماع نہ وی ﴿کورئ قرطبی ص۱۲۹ ج۵، خازن ص۳۸۲ ج۱، جصاص ص۲۱۲ ج۲، وکرخی، انفال ص۴۸ هم وکورئ۔
من یشفع: واؤ حرف سرہ تعلق لری۔ د بنہ سفارش اجر پہ دے حدیث شریف کښ دے چہ دلالت کونکے پہ نیکئ پشان د کونکی د هغہ دے۔ ﴿بزار، اسفرائینی ص۱۲۵ ج۱﴾ او د بد سفارش سزا پہ دے حدیث کښ دہ: خوک چہ امداد وکړی پہ قتل د مومن پہ نیمے کلمے سرہ، ملاؤ بہ شی د الله تعالیٰ سره لیکلے شوے بہ وی پہ مایوس د رحمت الله دده کښ: ﴿ایئس من رحمۃ اللہ: چہ نا امیدہ دے د رحمت د الله تعالیٰ نہ۔ اشکوۃ ص۲۰۱﴾ واذا حییتم بتحیۃ: د بنہ ئی شیخ رحمہ اللہ فرمائی چہ دا هم د مخکښ سرہ متعلق دے او پہ دیکښ خطاب رعیت تہ دے یعنی کچرے ستاسے خواتہ کوم واعظ د جهاد د ترغیب وپارہ راغلو او تاسو تہ نے سلام اوکړو نو تاسو هغہ د الفاظو پہ نسبت ډیر بہتر جواب



فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾ وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ
پہ دیکښ اختلاف ډیر --- او کلہ چہ راښکے دوی تہ پیوہ خبرہ د
الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ ۖ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى
امن ، یا د ویرے، خورولے ډنګ کړلہ، او کلہ رسول ﷺ دی دغہ ، رسول
الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ
تہ ، .. او خاوند امور پوهیږی ، او دوی نہ ، خاص پوهیږی پرے پوهیږی
يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ ۗ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَ
چہ تحقیق کوی دی ، او دوی نہ ، او کلہ نہ وے : فضل د الله تعالیٰ پتاسے ، او
رَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٣﴾ فَقَاتِلْ فِي
رحمت د هغہ ، نو خامخا تابعداری بہ کړے وے تاسو شیطان ، مګر لږ د ۔ پس جنګ کوہ پہ
سَبِيلِ اللَّهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ
لارے د الله تعالیٰ نہ کښے ، ذمہ دار نہ شے تہ مګر د ځان خپل ، او تیزی ورکوہ ،
الْمُؤْمِنِينَ ۖ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَكُفَّ بَأْسَ الَّذِينَ
مومنانو لرہ ( پیښ ) زرہ دا چہ الله تعالیٰ بہ منع کړی ۔ د جنګ د هغہ کسانو چہ
كَفَرُوا ۗ وَاللَّهُ أَشَدُّ بَأْسًا وَأَشَدُّ تَنْكِيلًا ﴿٨٤﴾ مَنْ
کفر نے کړے او الله تعالیٰ سخت دے پہ جنګ کښ او سخت دے پہ سزا ورکولو کښ ۔ خوک چہ
يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُنْ لَهُ نَصِيبٌ مِّنْهَا ۖ وَمَنْ
سفارش کوی سفارش ښه ، شی پہ د ګډ برخه ، د غہ نہ ، او چا چہ
يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَكُنْ لَهُ كِفْلٌ مِّنْهَا ۗ وَكَانَ
سفارش وکړی سفارش بد ، شی پہ د ګډ نه پیښے د غہ نہ ، او دے
اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيتًا ﴿٨٥﴾ وَإِذَا حُيِّيتُم
الله تعالیٰ پہ هر شی باندے ، طاقت والا ۔ او کلہ چہ سلام درکړے شی
بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ
پہ سلام سره ، پس جواب ورکړی پہ غوره د غہ نہ او اوبل جواب ورکړی پرښا نه شی الله



چہ نا امیدہ دے د رحمت د الله تعالیٰ نہ۔ اشکوۃ ص۲۰۱﴾ واذا حییتم بتحیۃ: د بنہ ئی شیخ رحمہ اللہ فرمائی چہ دا هم د مخکښ سرہ متعلق دے او پہ دیکښ خطاب رعیت تہ دے یعنی کچرے ستاسے خواتہ کوم واعظ د جهاد د ترغیب وپارہ راغلو او تاسو تہ نے سلام اوکړو نو تاسو هغہ د الفاظو پہ نسبت ډیر بہتر جواب

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وركړې ۔ (جواهر ۲۳) حافظ ابن كثير رحمه الله (ج ۵۳) كښ ليكي چه زيادت په جواب كښ مستحب شوے دے او مماثلت فرض (واجب كړے شوے دے ۔ الله : ديكښ دعوى د توحيد ده ۔ مطلب دا چه جهاد به دې

مسئله دپاره كړه وى ۔ فَمَا لَكُمْ
په دے اپتو نو كښ د منافقانو
قسمونه ذكر كوى چه بعضو سره
جنګ پكار دے ۔ په دے ايت
كښ هغه منافقان مراد دى
چه هجرت ته نه وى كړے او
په دار الحرب كښ د مسلمانانو د كافرانو
سره مقيم تياكوى ۔ الوسى رحمه الله
"ركس" وايى كول د شى وى
اول ته ۔ (كبير ج ۱۰ ص ۱۹) راغب اصفهانى
رحمه الله په مفردات ص ۲۰۰ كښ
ليكى چه الله تعالى وايى كړى دى
كفر ته دوى دے سبب د هغه عمل چه دوى كړے دے ۔
الوسى رحمه الله (روح المعانى ج ۵ ص ۱۶۰)
كښ ليكى چه هغه عمل ئے
ارتداد او پيوستوالے دے
په مشركانو پسے او په هغو دوے
إِلَّا الَّذِينَ : په دے ايت كښ
د منافقانو دوه قسمونه ذكر
كوى چه هغو سره جنګ جائز
دے ۔ يو چه د معاهد وسره
شوے شى يعنى مُعَاهِدِ
الْمُعَاهِد شى ۔ مطلب دا چه د
مسلمانانو سره معاهده
دى او دوى د هغوى سره معاهده
شى ۔ دويم هغه چه بالكل
غلى ناست دى نه تاسو سره
جنګ كوى او نه د كفارو سره
ملګرتيا كوى ۔ سَتَجِدُونَ
(د اتلو نكى مخ حاشيه) : دا بله
ډله منافقانو ده چه لرى
بدى ته كورى او چه لاس ئے
برشى نو كفر ښكاره كوى ۔ او
د مؤمنانو سره جنګ كوى ۔
الوسى رحمه الله ليكى چه
الله تعالى تنبيه وركړه په ټولو هغو ډلو
شى په فتنے (كفر) كښ په ډير قبيح اوناكاره لسكورو لوسره (ادراك ۲۴۲/۱) وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ : دې



Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



أَوْ يُقَاتِلُوا قَوْمَهُمْ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ
یا دَ جنگ کو لو د قوم خپل سره، او کړه رضا وشی د الله ﷻ نو خاص زور او ریکړی دوی ته پیاسو تاسو
فَلَقَاتَلُوكُمْ ۚ فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا إِلَيْكُمُ
پس ځکه جنګ به کوی تاسی سره ۔ پس که دوی د تاسی نه جلیږی ځکه سره ۔ او وړاندی کړه تاسو ته
السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا ﴿٩٠﴾ سَتَجِدُونَ
روغه ۔ پس نه دی کړی الله ﷻ تاسی لپاره دوی باندی ، لار (جنګ) ۔ زر وه به پیدا کړی
آخَرِينَ يُرِيدُونَ أَنْ يَأْمَنُوكُمْ وَيَأْمَنُوا قَوْمَهُمْ ۖ
نور (منافقان) اراده لری چه په امن کی دوی ستاسی نه ، او په امن شی د قوم خپل نه ،
كُلَّمَا رُدُّوا إِلَى الْفِتْنَةِ أُرْكِسُوا فِيهَا ۚ فَإِنْ لَمْ
هر وار ځه چه واپس کړه شی (فتنې (شر) ته ، لکسول ورکول شی په هغې کښ ۔ پس که ورکړه دوی
يَعْتَزِلُوكُمْ وَيُلْقُوا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوا أَيْدِيَهُمْ
وړه کښې لاس نه ، او نه پیش کوی تاسی ته صلحه ، او نه ځنډه کوی لاسونه خپل ،
فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ۚ وَ
پس ونیسئ دوی لره او مړ کړئ دوی کوم ځای چه پیدا مومئ دوی لره ، او
أُولٰٓئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا ﴿٩١﴾ وَمَا
دغه ګرځولی ګرزولی دی مونږ تاسی لپاره په دوی باندی ، دلیل ، بنکاره ۔ او نه دی
كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً ۚ وَمَنْ
جائز د مومن د پاره ، چه قتل کړی ، مومن لره ، لاکن به خطا سره ، او څوک چه
قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ
وژی ، او چا چه مړ کړه مومن لره به خطا سره ، پس لازم دی به ده آزادول د یو مخ ، مومن ،
وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِ إِلَّآ أَنْ يَصَّدَّقُوا ۚ
او دیت سپارلے شوے ، وارثانو د هغه ته ، مګر چه صدقه ورکړی به معاف کړو سره
فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ
پس که وی مقتول ، د دا ډله قوم نه چه دښمنان ستاسو دی ، او هغه مومن وی ،

ع ۱۲ ۹ ۴ — منزل

سے کښ ملا ۔ اَشَدُّ چه ملا فتوشی نو قانون به قرآن وی عمر پہ ۱۰ ملا ۱۲ کښ تخویف او به ۹۰ ملا ۹۲ کښ ترغیب او بشارت دے او به ۱۰۴ کښ تشجیع به جهاد او محاربه جهر ۔ او تخویف د مخالفینو د رسول طلیکلا به ۱۱۵ او مشرکانو ته به ۱۱۶ ، او ردد شرک فی الله عادیه ۱۱۶ کښ او ردد شرک فعلی به ۱۱۷ او بشارت دے به ۱۲۲ کښ او دعوی د توحید به ۱۲۳ او ۱۲۴ نه نهم حکم تنویر به مخلبنی مضمون او دعوی د توحید بار بار ۔

ربط : د پنډی شیخ رمضان فرمائی چه لاره کښ خیال کول دی هسے نه چوړے به غلطی سره ستاسو به لاسونو مسلمان قتل نشی او که به خطا سره او څوک نو حکم ئے دا دے ۔ (جواهر ص ۲۳۵ ج ۱) به دے آیت کریمه کښ درے صورتونه د قتل خطا دی ۔ به دو کښ دیت او کفاره ده او به یو کښ صرف کفاره ده حکه دار الاسلام ته نه دے راغلے ۔

إِلَّا خَطَأً : لاکن که به خطا سره چه ولی کافر او د رسی مسلمان ته او یا ولی یو سړے به دے اراده چه دا کافر دے پس هغه مسلمان وی ۔ (مدارک ص ۲۱۱ ج ۱) او که خطا به فعل کښ وه او د دے خطا به اراده کښ نه وه ۔ ابوبکر رحمه الله به مسایل ص ۵۶ کښ إِلَّا به معنی د وَلَا ذکر کړے ۔ نو معنی داشوه چه نشته مومن لره چه مړ کړی مؤمن لره قصداً او نه به خطا سره او کچرے مړ ئے کړو به خطا سره نو حکم ئے دا دے ۔ وَدِيَةٌ : فقهاء کرام به دیت کښ ټول اوښان یا زر ۱۰۰۰ اشرفی یا ۱۰۰۰ زره شرعی روپی ذکر کړی چه تقریباً درې زره ۳۰۰۰ اووه سوه خلویښت تولے سپین یا درې قیمت دے ۔ او په درے کاله کښ پوره کولے شی ۔

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۭ وَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ
پس لازم دی آزاد ول د مرئی مومن ، اوکه دی د دا سے قوم نه چه ستاسے سره
وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ وَتَحْرِيْرُ
اوږه عهد یا تړون کښے وی نو هغه ته به ورکول د وینے بیارغونه دی او آزاد ول د
رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۭ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ
مرئی مومن ، پس څوک چه نه موهی (مړ مومن) پس په دوه میاشتو روژے دی د دوه پے
مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا
پرله پسے ، توبه د د خرڅه د الله نه ، او دے الله تعالیٰ پوهه
حَكِيْمًا ۝۹۲ وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاۗؤُهٗ
حکمت والا - او څوک چه قتل کړی ، مومن لره ، په قصد سره پس بدله ئے
جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيْهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَ
دوزخ دے همیشه به وی په دغه کښے او غضب کړے الله په دغه باندے او لعنت ئے کړے او
اَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ۝۹۳ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا
تیار کړے هغه لره عذاب لوے ۔ اے ایمان والو !
اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا وَلَا
کله چه سفر وکړئ په لاره د الله تعالیٰ کښے ، پس پته تحقیق کوئ ، او مه
تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰٓى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ۚ
وایئ هغه چا ته چه پیش کوی تاسو ته ، کلمهٔ اسلام ، چه نه ئے ته مؤمن ،
تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۡ فَعِنْدَ
چه لټوئ ، سامان د ژوند ، نزد ے ، پس الله تعالیٰ سره
اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ ۭ كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ
دی ، غنیمتونه ډیر ، دغسے وئ تاسے ، مخکښ
قَبْلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ
د دغه ، پس احسان وکړ الله تعالیٰ تاسے باندے پس تحقیق کوئ ، یقیناً الله تعالیٰ

والی ۴ رکوع ۱۲ پارے ۵ منزل ۱

وَمَنْ يَّقْتُلْ : په دے آیت کښ د قصدی قتل پنځه سزا کانے ذکر شویدی . سوال دا چې قاتل څوکا فر نه دے نو خلکو به هیڅ په دوزخ کښ وی . تفسیر مدارک ۱۲ "کښ ډوکه جواب دی . فرمائی چه قصد کونکی د قتل د مؤمن د وجے د ایمان د هغه نه اوړ اکفر دے او ځکه ئے مرکبی چه حلال کښ رونکے وی د قتل د هغه او د اهم کفر دے . فَتَبَيَّنُوْٓا پس پته لټون کوئ . مدارک والی چه دوکه ځکه ئے امر په تحقیق او لټون سره وکړه چه تاکید راشی په دوی باندے (۱۲) . مطلب د آیت کریمه دا دے چه په دوران سفر جهاد کښ تاسو ته څوک کلمهٔ اسلام اووائی نو تاسو ئے په دے بهانه مه وژنئ چه دا دخان ته کالو د پاره وائی ، تاسو هم مخکښ دا سے وئ نو الله تعالیٰ په تاسے مهربانی وکړه اود پوهه اسلام راوړلو توفیق ئے درکړو . په دے آیت کښ پنځه حکمه حکم دے .

**مسئله :** جناب مفتی صاحب رحمه الله فرمائی خلاصه ئے دا ده چه د قرآن او حدیث نه دا ثابته ده چه څوک خان ته مسلمان وائی د غه نه کافر ویبل پاڼے کافر کنرل جائز نه دی . د دے د واضح مطلب دا دے چه څوپورے د د غه نه د کوم دا سے قول یا فعل صدور نه وی څوے چه د کفر یقینی علامه وی ..... لیکن کوم کس چه د اظهار اسلام او اقرار ایمان سره سره څه د کفر کلمه وائی یا کوم بت ته سجده کوی یا د اسلام مرد دا سے حکم نه انکار کوی چه د هغه د اسلامی حکم کیدل قطعی او بدیهی وی ، یا د کافرانو کوم مذهبی شعار اختیار وی لکه په غاړه کښ زنار وغیره نو اجول نو بلا شبه د غه د خپلو اعمالو کفریه د په وجه کافر کنرلے شی . فَتَبَيَّنُوْٓا کښ د دے نه اشاره ده الخ . وګورئ معارف ص ۵۲۱ ج ۲

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ، ترغیب دے جہاد تہ او ډڑے وَلے پکښ ذکر کوی۔ ایت لږ مشکل هم دے اشکال داد دے چہ یو حُل فرمائی چہ مجاهدین یہ ناستو کسانو نہ بانډی پہ یوہ درجہ اوبیا دوی او بل حُل فرمائی چہ یہ



كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿٩٤﴾ لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ

دے پہ هغہ عملونو چہ تاسے کوی، خبردار۔ نه دوی برابر ناست کسان،

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ

د مؤمنانو نه، چہ نه دوی خاوندان د ضرر، او جهاد کوونکی،

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ ۭ فَضَّلَ اللّٰهُ

په لاره د الله تعالیٰ کښې، په مالونو خپلو، او نفسونو خپلو، ډډه کړې الله،

الْمُجٰهِدِيْنَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى

جهاد کوونکی، په مالونو - او نفسونو خپلو، په ناستو

الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ۭ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ۭ

(معذورو) باندې، په یو درجه، اوهرے یو ته ډے وعده کړے الله تعالیٰ، ډجنت،

وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ

او ډډه کړې الله تعالیٰ، جهاد کوونکی په هغه ناستو کسانو (بے عذره)

أَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٩٥﴾ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّ

په اجر لوے سره، چہ درجے دی د الله تعالیٰ د طرفه، او بخښنه، او

رَحْمَةً ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٩٦﴾ إِنَّ

مهربانی ده، اوده الله تعالیٰ، بخښونکی، مهربانه۔ یقیناً

الَّذِيْنَ تَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ أَنْفُسِهِمْ

هغه کسان چہ روح ترینه اخلی، ملائکې چہ ظلم کوونکی دی: په ځانونو خپلو باندې

قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ ۭ قَالُوْا كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ فِي

اوبه وائی دوی ملائکه، په څه کښې وئ تاسے؟ اوبه وائی دوی، وو مونږ کمزوری کړے شوی، په

الْأَرْضِ ۭ قَالُوْٓا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً

زمکه کښې، اوبه وائی دوی، ایا نه وه، زمکه د الله تعالیٰ، فراخه؟

فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا ۭ فَأُولٰٓئِكَ مَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۭ

پس هجرت به مو کړے وے په هغے کښې، پس دغه کسان ځائے د اوسیدو ئے دوزخ دے،

منزل

ډډه کړې الله لیکی چہ دا ایت دلیل دے په دے چہ یو کس طاقت نلری د قاعدو لو دین خپل ځکه چہ واجب وی په یو شی کښې او پوهیږی چہ طاقت ئے لری په بل ځائے کښې نو لازم دی په دغه باندې هجرت کول۔ (مدارک ۴/۴۶، ابوالسعود ۲/۲۲۲) تائیدات ۵ عنکبوت ۱۰ زمر ✧

Scanned with CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

حِيلَةً : څه تدبیر. مُرٰغَمًا : ځایونه ډیر. شاه صاحب رحمه الله په "الفتح الخبیر ص۷۵" کښ لیکی : ځایونه د هجرت اولاړ ے چه ذلیل کوی قوم خپل لره په سبب د تللو په هغو ځایانو کښ. وَمَنْ يَّخْرُجْ : ویلے دی یعنے علماؤ چه د اخلیدی په حکم دے ایت کښ هغه څوک چه قصد د کولو د طاعت وکړی د څه طاعت اوبیا ځاجزه شی د پوره کولو د هغه نه وُ به لیکی د کالره الله تعالیٰ ثواب د هغه طاعت پوره. (خازن ص۳۹۵)

مسئله : ابن قاسم رحمه الله وائی چه ما د امام مالک رحمه الله نه اوریدلی دی چه فرمایل ے چه حلال نه دی د هیڅ ډاره چه وسیږی په دے له زمکه کښ چه عیب لګولے شی په دغه کښ په سلفو باندې. ابن العربی رحمه الله وائی چه دا صحیح ده خکه تنه قدرت نلرے په تغییر د منکر باندې نو لرے شه ترینه (احکام القرآن لابن العربی ص۶۵۱ انعام، ص۳۵۰ قرطبی)

وَاِذَا ضَرَبْتُمْ : دا اووم حکم دے د مانځه = مُراد ترسه نه د سفر یا د خوف مونځ دے. په اول صورت کښ اِنْ خِفْتُمْ قید احترازی نه دے. شاه ولی الله رحمه الله په فتح الرحمٰن ص۱۱۵ کښ فرمائی چه مشهور روایت دا دے چه دا ایت د مانځه د مسافر کښ نازل شوے دے او وېره قید اتفاقی دے او هغه چه په نزد د ډیرو علماؤ په نزد د غوره والی ممونډ له دے دا دے چه دا ایت په صلوٰة الخوف کښ نازل شوے دے او سفر قید اتفاقی دے او مُراد د کوتاه والی نه کوتاهی په کیفیت د رکوع او سجود کښ دے چه په اشاره کے ادا کولے شی په شمیر د رکعتونو کښ.



وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿٩٧﴾ اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ
او بد خائے د ګرزیدو د ا بیهوم دے. مګر هغه کسان چه کمزوری کړی شویدی د
الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ
سړو نه، او ښځو نه، او ماشومانو نه، د وی طاقت نلری
حِيْلَةً وَّلَا يَهْتَدُوْنَ سَبِيْلًا ﴿٩٨﴾ فَاُولٰٓئِكَ عَسَى
د تدبیر، او نه پیدا کولے د هجرت کولو = پس دغه کسان، امید دے
اللّٰهُ اَنْ يَّعْفُوَ عَنْهُمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿٩٩﴾
چه الله تعالیٰ به معافی وکړی د د وی نه، او دے الله تعالیٰ، عفو کوونکے، بخښونکے.
وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَجِدْ فِي الْاَرْضِ
او چا چه هجرت وکړو په لاره د الله تعالیٰ کښ، پیدا مومی په زمکه کښ،
مُرٰغَمًا كَثِيْرًا وَّسَعَةً ۭ وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْۢ بَيْتِهٖ
ځایونه د اوسیدو ډیر، او فراخی، او څوک چه وځی، د کور خپل نه،
مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ
هجرت کوونکے، طرف د الله تعالیٰ، او د رسول د هغه، بیا راګیر کړه د وی لره مرګ
فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا
پس یقیناً واقع شو اجر د د وی، په الله تعالیٰ باندې، او دے الله تعالیٰ،
رَّحِيْمًا ﴿١٠٠﴾ وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ فَلَيْسَ
مهربانه = او کله چه سفر کوئ تاسے په زمکه کښ، پس نشته
عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ۚ
په تاسے باندې څه ګناه، چه کمولے شئ، د مونځ نه،
اِنْ خِفْتُمْ اَنْ يَّفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ اِنَّ
که وېره وړیږی، چه فتنه کښ به واچوی تاسے لره هغه کسان چه کفر کړے، یقیناً
الْكٰفِرِيْنَ كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿١٠١﴾ وَاِذَا
کافران، دی تاسے لره، دښمنان، ښکاره. او کله چه،

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

وَاِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ : دا آیت په صلوٰۃ الخوف کښ دے ۔ (ابن کثیر) اودا آیت خطاب دے نبی علیہ السلام ته او دا شا مسلیږی تو لو امیرانو لره ډ ډ ورځ د قیامت پورے ۔ (قرطبی ص۲۰۶ ج۵) سنن ابوداؤد ص۱۶۸ کښ راځی چه صحابو رضی اللہ عنہم غزا کړه وه د عبدالرحمٰن بن سمره رضی اللہ عنہ په ملکرتوب کښ د کابل نو دوی ته ئے صلوٰۃ الخوف کړے وو ۔ ابو السعود ص۲۱۲ ج۲ هم وکورئ ۔

**فائده ۱ :** د صلوٰۃ الخوف درې صورتونه په سنن ابی داؤد کښ ذکر دی ۔ د ناچیزه د ډ ورے په کال ۱۳۱۰ھ کښ د ابوداؤد په پرچه کښ دا یو سوال وو چه فقط د صلوٰۃ الخوف پوره صورتونه واضح بیان کړئ ؟ د دے آیت حاصل دا دے چه امام به یوے ډلے ته یو رکعت وکړی هغه به لاړه شی او بله ډله به هم یو رکعت وکړی ۔

**فائده ۲ :** د وه امامان حکمه نه دی جائز چه تنظیم خراب نشی ۔ (افضل التراجم ص۱۳۱)

**فَاِذَا قَضَيْتُمْ :** یو مطلب دا دے چه کله مونځ کوئ په باقی حالتونو کښ (ابن کثیر) یا مراد ترینه ذکر دے چه د مونځ نه ښاهر هم خپل محربان



كُنْتَ فِيْهِمْ فَاَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ

